

FEFA

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد

Free & fair Election Foundation
of Afghanistan

# د ولسي جرګي او ولايتي شوراګانو له ټاکنو څخه

# د څارني عمومي راپور



د ۱۳۸۴ کال د وږي اوه ويشتمه

د موضوعاتو فهرست


سرليک مخ

د بنياد د رئيس وينا :

سريزه

**مننتيا** ........................................ ۱

۱. له ښاروالو ........................................ ۱

۲. د بنياد له غړو او همکارانو ........................................ ۱

۳. له خلکو ........................................ ۲

**د بنياد پېژندنه** ........................................ ۳

۱. مديره هئيت ........................................ ۳

۲. اجرائيوي ښانگه ........................................ ۴

**لمړني برخه** - د بنياد د ښارنې او فعاليتونو تحليلي راپور. ۵

**لمړي مبحث**- ترمخه درائې ورکونې جرياناتو ته کتنه ........................................ ۵

- ولايتونو ته د ولسي جرگې ځانگړې شوې څوکي ........................................ ۶
- د کانديدانو د نومونې دوره ........................................ ۶
- د رايه ورکونکو د نوم ليکنې مرحله ........................................ ۸
- د کانديدانو د نومونو د قرعې (پچې) مرحله ........................................ ۹
- د ټاکنيزو سياليو دوران ........................................ ۱۱
- د ټاکنو دسمون گډ دفتر د پريکړو په هکله څېړنه ........................................ ۱۳

**دويم مبحث** - د رايه ورکونې او رائې شميرنې له بهير څخه ښارنه

الف – د رايه ورکونې ورځ ........................................ ۱۴

- د رايه ورکونې د مرکزونو موقعيت او هغوته لاسرسي ........................................ ۱۴
  - ➢ په ټاکل شويو سيمو کې د مرکزونو موقعيت ........................................ ۱۴
  - ➢ رايه ورکونکو ته د مرکزونو لاسرسي ........................................ ۱۵
  - ➢ درايه ورکونې د مرکزونو کورني جوړښت ........................................ ۱۶
- پر امنيت او گوابښ پورې اړونده مسئلې ........................................ ۱۸
- د ښارونکو شتون د ټاکنو په ښارنه کې ........................................ ۱۹
  - ➢ د نړيوالو ښارونکو او رسنيو له شتون څخه څېړنه ........................................ ۲۰
  - ➢ د کانديدانو د استازو شتون ........................................ ۲۱
  - ➢ د کورني بې پرې ښارونکو شتون ........................................ ۲۲

- د ټاکنو په بهیر کې د خبري رسنیو شتون........................... ۲۳
- د ټاکنیز و کارکونکو شتون......................... ... ... ۲۳
- له ټاکل شوي وخت سره سم درایه ورکونې د پیلیدو څیړنه.................. ۲٤
- **د ټاکنیزو کارکونکو د دندو دترسره کیدوپه هکله څیړنې**................. ... .... ۲٦
  1. د خالي صندوقونو ښوونه ............................ ۲٦
  2. د ګوتې کنترول او رنګول ............................ ۲۷
  3. د نوم لیکنې د کارتونو کنترول.......................... ۲۷
  4. د ناپیلتوب او بې پرې توب د اصل رعایت........................ ۳۰
- د رای ورکونې په بهیر کې د کمپاینونو شتون......................... ۳۱
- ګواښونې........................................................ ۳۲
  1. **د پروسې د پای له مرحلې څخه د اړوندو مسئلو څیړنه**
  2. په ټاکلي وخت سره.......................................... ۳٤
  3. په دغه مرحله کې له کاري کړونو څخه څیړنه.............................. ۳٤
     - له عمومي ژورنال سره د ټاکنیزو توکو سمون.......... .................... ۳۵
     - د شمیرنې مرکزونو ته د توکو او صندوقونو لیږدونه........................ ۳٦
- ټاکنیزو نیوکو او اعتراضونه ته رسیدنې د څرګنوالي په اړه د بنیاد څیړنه.......... ۳۷

**ب – درایې شمیرنې پروسه**............................................ ۳۹

- درایې شمیرنې مرکزونو د فزیکي جوړښت او کورنې وضعیت ........................ ۳۹
- د ټاکنیزو توکو او صندوقونو د موندلو او ترلاسه........................ ٤١
- د پروسې د ورځینیزوچارود ترسره کیدو له څرنګوالي څخه څیړنې........................ ٤۲

❖ **د سپارل شویو دندو په ترسره کونه کې د کارکونکو د پوهاوي د کچې څیړنې**
  - ➢ د کارکونکو پوهاوي ددندو د ترسره کیدو په اړه........................ ٤۲
  - ➢ د کارکونکو لخوا د ناپیلتوب د اصل رعایت........................ .... ٤۳

❖ **د هغو موردونو څیړنه کوم چې د شمیرنې په مرحله کې لیدل شوي دي** ..................... ٤٤

❖ **درایې شمیرنې په بهیر کې د څارنیزو چارو څیړنه** ....... ........ ....... ........ ....... ٤۵

❖ **د قرنطین له مسئلې څخه څیړنې**........ ....... ....... ....... ....... ....... .... ٤۷
  - ➢ د صندوقونو د قرنطینولو په برخه کې ستونزې.............. ............. ٤۷
  - ➢ قرنطین شویو صندوقونوته د رسیدنې له موردونو څخه څیړنه........................ ٤۸

❖ **د امنیتي مسئلو څیړنه**.................................. ...... ٤۹

**د ټاکنو د پروسې د اصلاح او پیاوړتیا په هکله د بنیاد وړاندېزونه**


۱. **د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته**.......................................................... ۵۰
- د ټاکنیز سیستم ، قانون او کړنلارو.................................... ۵۰
- د کارکونکو د استخدام او ګمارلو په برخه............................ ۵۲
- د پوهاونې او خبرونې په برخه کې ..................................... ۵٤

۱. رایه ورکونکو ته ښوونیزې خپرونې...................................... ۵٤
۲. د ټاکنیزو کارکونکو پوهاوي........................................... ۵٤
۳. د کاندېدانو او دهغو د استازو پوهاوي................................. ۵۵
۴. د پولیسو پوهاوي..................................................... ۵٦

- د نوم لیکنې د مرحلې په اړه وړاندېزونه................................. ۵٦
- د کاندېدانو د نومونې په برخه کې ..................................... ۵٦
- د ټاکنیزو سیالیو د دوران په اړه....................................... ۵۷
- د تبلیغاتي توکو د لیږ کولوپه برخه..................................... ۵۷
- درایه ورکونې د بهیر په اړه وړاندېزونه

۱. درایه ورکونې د مرکزونو دموقعیت او ویش په اړه........................ ۵۷
۲. درایې اخیستنې د پیل او پای په اړه................................... ۵۸
۳. د لوژستیکي توکو په اړه.............................................. ۵۸
۴. د صندوقونو د لیږدونې او درایې شمیرنې................................ ٦۰

- د سرغړونو او سزاګانو په اړه وړاند ېزونه................................ ٦۱

۲ . نیوکو او سر غړاویوته د رسیدنې په هکله وړاندېزونه........................ ٦۱
۳ . ملي شورا لپاره .......................................................... ٦۲
۴ . د حکومت لپاره........................................................... ٦۲
- د امنیت په برخه کې.................................................... ٦۲
- د قضا په برخه کې...................................................... ٦۳
- د عمومي سرشمیرنې د تثبیتولو په برخه کې................................ ٦۳

۵ . نړیوالو ټولونو ته.......................................................... ٦۵
٦ . د ښځو د ظرفیتونو د لوړولو او پرمختیا نهادونو.............................. ٦۵
۷ . رسنیو لپاره............................................................. ٦٦

**دویمه برخه - د بنیاد د پلان پیژندګلوي**............................................ ٦۷

۱. د بنیاد عملیاتي مهال ویش................................................. ٦۸
- د اجرائیوي فعالیتونو سمون ............................................ ٦۹
- د همکارو دفترونو منل.................................................. ٦۹

- د سرروزنکو، روزنکو او ښارونکو ګمارنه او هغو ته د ښوونیزو او وروستیو ۷۰
- د سرروزونکو، روزنکو او ښارونکو د روزنیزو خپرونو نیتې .................... ۷۱
- په بشري او سیمه ئیزه کچه د بنیاد جدول...... ..... ..... ..... ..... ..... ..... ۷۳

الف – د رایه ورکونې په پروسه کې .................................................... ۷۳

ب - په رایې شمیرنې کې ............................................................. ۷۹

ج - مشرانو جرګې ته د غړیتوب په ترلاسه کونه کې د ولایتي شوراګانو ټاکنې... ۷۹

**د بنیاد څخه له وتلونهادو سره اړیکې**

**۱. د ټاکنو له خپلواک دفتر سره**............................................ ۸۰

- په ملي کچه.............................................................. ۸۰
- په ولایتي او سیمه ئیزه کچه ............................................... ۸۰

**۲. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له مرستندویه هیئت**...... ...... ...... ۸۰

**۳. له کورني څارنیزو نهادونو سره**............................................ ۸۰

**۴. له کاندیدانو او سیاسي ګوندونو سره**....................................... ۸۱

**۵. رسنې**........ ........ ........ ........ ........ ........ ........ ...... ۸۱

**۶. نړیوال څارنیز نهادونه** ................................................. ۸۱

**۷. له نړیوالو څارنیزو نهادونو پرته له نورونهادونوسره**......................... ۸۱

**۸. د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو کمیسیون** .................................... ۸۲

**د بنیاد د هڅو ارزونه**

- دننه په بنیاد کې.......................................................... ۸۲
  - مدیره هیئت.......................................................... ۸۲
  - اجرایوي څانګه...................................................... ۸۲
  - دولایتي چارواکو.................................................... ۸۲
- له بنیاد څخه وتلي نهادونه ................................................ ۸۲.
  - د ټاکنو خپلواک کمیسیون............................................. ۸۲
  - نړیوال څارنیز او غیر څارنیز سازمانونه................................ ۸۳

**د بنیاد د هڅو او فعالیتونو پایلې**............................................ ۸۳

**وړاندېزونه**................................................................ ۸٤

۲. **د ټاکنو کمیسیون ته**.................................................... ۸٤

۳. **د بنیاد لپاره**...... ..... ............................................ ۸٤

د افغانستان د آزادو اوعادلانه ټولټاکنو بنیادد عمومي رئیس وینا !

دا راپور داسې مهال خپریزي چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټاکنې په ټول هیواد کې په بریالي توګه ترسره شوې او وروستي پایلې یې اعلان شوې دي.

نوموړي ټاکنې چې د ولسواکۍ دپیاوړتیا په لار کې او په خلکو باندې دخلکو دواکمنۍ د اصل په تحقق موندلو کې یو ستر ګام بلل کیږي. ، ترسره کیدنه یې دیوې ملي سترې او با اهمیته پروژې په توګه سره له هغو خنډونو چې په مخ کې ورته پراته وو، پرته د زرګونو تنو زړه ورو، له ځان تیرو او ولسي آرمانو ته د ژمنو نارینه و او ښځو له فعاله برخه اخیستنې تحقق نه موند.

د ټاکنو د شفافیت اود هغه د اصولو د رعایت د کچې پورته وړل او همدارنګه په ټاکنوکې د سر غړونو او درغلیو مخنیوي د هغو زورګونو ملي څارونکو او خبریالانو د شپې ورځني څارنې نتیجه ده کوم چې په ډیره زړه ورتیا سره یې د خطرونو په موجودیت کې د آزادو او عالانه ټاکنو د ترسره کیدو پخاطر له دغه بهیر څخه په ناپیلې او رښتیني توګه څارنه وکړه دغه راپور له ۷۰۰۰ تنو څخه زیاتو وړیا کارو او په هیواد منیو څارونکو د رښتیني څارنې او فعالیتونو نتیجه ده کوم چې دهیواد له ۲۰۰ څخه په زیاتو ولسوالیو کې خپله دنده ترسره کړې او لاس ته راغلي ویاړونه یې نه یواځې د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو د بنیاد په رسالتمندو او باشهامته څارونکو پوري تړاو نیسي بلکه دا د مدني ټولنې یو ستره لاسته راوړنه هم بلل کیږي.

هیله مندیم چې دغه راپور له یوې خوا په هیواد کې د ټاکنو په وړاندې د پرتو ستونزو، نیمګړتیاوو او دټاکنیز سیستم په سمون او پیاوړتیا کې او له بلې خوا په ملي او شفافو ډیموکراتیکو پروسو کې د خلکو د پوهاوي او سیاسي برخه اخیستنې په باوري کولو او پیاوړتیا کې، اغیزمن واقع شي.

**انشاالله**

**احمد نادر ( نادري)**

**د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو د بنیاد رئیس**

**سریزه:**

د ملي پروسو د ترسره کیدو او پلي کیدو په دوام، دادي زمونږ هیواد له ډیرو مودو انتظار وروسته د ملي شورا (مقننه قوې) د جوړیدو په خاطر چې د ډیموکراتیکو نظامونو یو له جوړوونکو روکنونو او زمونږ د ټولنې له اړینو غوښتونو څخه بلل کیږي ، د تاریخ له پاڼو څخه یو بله پاڼه د نړي د سوله پالو ملتونو په مرسته، واړوله او د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په ترسره کیدو یې، یو بل مثبت ګام د سولې د ټینګولو اود ولسواکۍ د بنسټیزه کولوپه برخه کې چې د هوسا او پر قانون ولاړې ټولنې اړتیا ده ،کیښود . چې کیداي شي ووایو ددې بهیر په پلي کیدو به هیواد د قانون دواکمنۍ اوپلي کیدو پخوا حرکت او پر مختګ،وکړي .

ددې ټاکنوپه ترسره کیدو د بن د لوځنامې او انتقالي دورې ټول مواد پلي او بشپړشول اوهغو ته یې د پاي ټکي کیښود ولې یو نوي پیل ده، روښانه او ځلانده راتلونکي ته د رسیدنې په خاطر چې د قانونیت په وړاندې د ټینګ باور په درلودو سره کولای شو پرې بریالي شو .

☆☆☆☆

په ټاکنیزو پروسو کې د وګړو ګډون د هیواد او خلکو پر وړاندي د ملي دین په توګه بلل کیږي، څه دغه ګډون د رایه ورکونکي په توګه وي او یا دکاندید په توګه. چې په ډاډ سره د وګړو لیوالتیا په ملي پړاوونو کې د برخه اخیستنې لپاره د هغو په مشروعیت او قانونیت ورزیاته وي او د ولسواکۍ اصولو ته پیاوړتیا وربښي.

د افغانستان په شان هیوادونو کې چې نوي له جاراوجګړو څخه راوتلي، دداسو خپرونو تجربه او ترسره کونه په پیل کې له ځینو ستونزو او خنډونو سره مخ وي لکه : ټاکنیزې سرغړونې، قانوني نیمګړتیاوې، د پروسې په اړه د پوهې د کچې ټیټوالي، دټاکنیزو چارو د اداري کمزورتیا ،په عادلانه توګه د څوکیو ویشنه، بودیجوي ستونزې، د ټاکنیز وړسیستم موندنه او داسې نورې ستونزې .

ممکن د ټاکنو ترسره کیدنه د ځینو لپاره ښې پایلې ونلري ځکه چې په ټاکنو کې د ګټونکي او بایلونکي اصل یوحتمي امر دي اما هڅه پردې وي چې راتلونکي ته باید پاملرنه وشي د هغه په سمون لاس پورې کړو تر څو په خپل پراخ ګډون سره به بشپړه توګه آزادو او عادلانه ټاکنو ته چې له هر راز درغلیو څخه پاکې وي لار وموندو. لکه څنګه چې افغانانو په دغو تیرو دوو ملي او تاریخي بهیرونو کې په ډاګه کړه چې هغوي په جدي توګه په هیواد کې د ولسواکۍ د اصولو د پیاوړتیا غوښتونکي دي او واک ته د رسیدو پخاطر له انقلابي خوځښتونو او هڅو څخه په تنګ شوي هغوي په ټاکنو کې نه یواځې د رایه ورکونکو او کاندیدانو په توګه بلکه د پروسې له شفافیت څخه دڅارونکي په توګه هم برخه واخیسته .

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد د ولسي نهاد په توګه چې خپله لمړني تجربه یې د ولسمشري دټولټاکنو له څارنې څخه ترلاسه کړه دا ځل یې هم د خپلې ژمنې او باور پر بنسټ کوم چې د ولسواکۍ داصولو په پیاوړي کولو یې لري ، خپل پلان ته یې د پخواني پلان په پرتله پراختیا ورکړه او د ولسي جرګې اوو لایتي شوراګانو له ټاکنو څخه یې هم څارنه وکړه. باید ووایو چې دا ځل بنیاد درایه ورکونې په پروسه کې ۷۵ % درایه ورکونې مرکزونه او د شمیرنې پروسه په بشپړه توګه دغه راز مشرانو جرګې ته د ولایتي شوراګانو د غړو ترمنځ ټاکنې هم په بشپړه توګه وڅارلې. همدارنګه بنیاد د رایه ورکونکو د نوم لیکنې بهیر او د ټاکنیزو سیالیو مرحلې هم تر خپلې څارنې لاندې درلودې چې په راپورو کې به ورته اشاره وشي.

کومې موندنې او وړاندیزونه چې بنیاد د ولسمشري له ټاکنو څخه ترلاسه کړې وې په ښه وخت سره یې د اړوندو مراجعو په واک کې کیښودې چې له نیکه مرغه ښې او مثبته پایلې یې له ځانه سره درلودې د بیلګې په توګه دشکایتونو دخپلواک کمیسیون جوړیدنه ، دغه راز په ټاکنیزو قوانینو او کړنلاروکې د ځینو اصلاحاتو او بدلونونو راتګ او ځینې نور هغه مثبت موردونه چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې څرګند شول، د بنیاد له هغو بریاوو څخه شمیرل کیږي کوم چې دولسمشري د ټولټاکنو له څارنې څخه یې لاس ته راوړي وو.

بنیاد دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په دوران کې د ټاکنو د سمون له ګډ دفتر سره په تماس کې وو، خپلې مشورې او اندیښنې یې په همیشني توګه له هغو سره دغونډو او کتنو په ترڅ کې وړاندې کړې او د رسیدنې په خاطر یې د هغو پاملرنه غوښتنې. همدارنګه خپلې اعلامیې او لنډ راپورونه یې هم له وخت سره سم خپاره کړې دي . لکه څنګه چې د ټاکنو په ورځ بنیاد وکولای شول د دوو اعلامیو په ترڅ کې ( د بنیاد د ټول جوړ شوي لنډ راپورونه او اعلامیې له راپور سره په ضمیمه کې دي ) خپل لیدلي حال او څارنیز موردونه خپاره کړي. باید یادونه وکړو چې دا ځل بنیاد ډیره هڅه درلوده تر څو له سرغړونو او ستونزو څخه ژرتر ژره مخنیوي وکړي، په داسې شان چې له یوې خوايې موضوع دټاکنود دفتر له سمیه ئیزو چارواکو سره او له بلې خوايي د ټاکنو د مرکزي دفتر له چارواکو سره په کابل کې په مستند ډول دو خت له غوښتنې سره سم وړاندې کوله او د رسیدنې غوښتنه یې کوله . چې کولای شو له دغه میکانیزم څخه د اغیز من سیستم په توګه یاده کړو.

دادي د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد ، د عامه خبرتیا د ترلاسه کونې په خاطر د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړوند خپل څیړنیز او تحلیلي راپورکوم چې د ټاکنو په بهیر کې د بیلا بیلو پیښو او واقعاتو څرګندونکي، د بنیاد د ټول پلان او فعالیت ښودونکي سره له هغوسیمو چې بنیاد هلته په کې فعالیت کړي او د هغو حل لارو او وړاندیزونو درلودونکي کوم چې د راتلونکو پروسو د سمون او پیاوړتیا په خاطر یې له خپل څارنیزبهیر ترلاسه کړي، خپور وي. تر څو زمونږ خلک ددغه راپور په رڼایي کې ، قضاوت وکړي او خپل وړاندیزونه او اصلاحي نظرونه د راتلونکو ټاکنیزو پروسو د سمون او لا اغیزمنتیا په خاطر، وړاندې کړي او له بنیادسره دهغه د هدفونو او موخو د تحقق موندولو په لار کې، مرسته وکړي.

## ۱. مننتیا

- له څارونکو:

څرنګه چې په سریزه کې یادونه وشوه د فیفا بنیاد د مدني ټولنې یو له خپلواکو نهادونه څخه ده چې د ولسمشري او ملي شورا له ټاکنو څخه یې په ناپیلې توګه څارنه وکړه چې په دې خپرونه کې اصلي څیرې، هماغه ژمن او بې پرې څارونکې وو چې له خلکو راولاړ شوي او د بنیاد له نښان سره سم یې د کتونکو سترګو په توګه ټاکنو څخه څارنه وکړه،

بنیاد د هغوي له ژمنې څخه چې د سولې بهیر په ټینګښت او پیاوړتیا کې یې قبوله کړې وه، مننه کوي او دهغوي له داوطلبانه حضور او وړیا کارانه کړنو څخه د ټاکنو په ناپیلې څارنه کې د ډیرو ستونزو په شتون سره ، ستاینه کوي. ددوي له ونډې څخه د هغو کسانو په توګه کوم چې د دې ملي پروسې د شفافیت څرګندونکې او پیاوړي کونکې وو، مننه کوي او په بیلا بیلو برخو کې د هیواد د جوړونې او رغونې په خاطر دهغو د همیشني بریالیتوبونو، هیله مندي کوي او د نورو خپرونو په پلې کېدو کې له بنیاد سره د هغو د نه شلیدونکو اړیکو او ټرون د پیاوړتیا غوښتونکې دي. او هغوي د خپل ځان یوه نه بیلیدونکې برخه بولي.

همدغه راز بنیاد له نورو څارونکو په ځانګړي توګه له نړیوالو څار ونکو څخه چې د افغانستان له خلکو سره یې د سولې او ولسواکې د پروسې په ټینګښت او پیاوړتیا کې مرسته وکړه، مننه کوي. په نورو ټاکنو کې د هغو د لاپراخې ونډې غوښتونکې دي.

- **د بنیاد له غړو او همکارانو څخه:**

لکه څنګه چې ترمخه هم یادونه وشوه، بنیاد د مدني ټولنې له ناپیلو او معتبرو نهادونو څخه جوړه شوې چې غړي یې د هیواد په ډیرو ولایتونو کې فعالیت لري. بنیاد د ټاکنو د څارنې په برخه کې د لګښتونو او بودیجې د کمښت په خاطر د بنیاد د غړینه نهادونو د لوژستیکې امکاناتو او بشري ځواک په ګټه اخیستنې وکړای شول چې د هیواد په ټولو ولایتونو کې بې پرې، سالم او خپلواک وګړي په کار وګماري. ولې په هغو سیمو کې چې هلته د بنیاد غړینه نهادونو حضور او شتون نه درلود د مدني ټولنې له نورو نهادونو څخه چې په عملي توګه یې په سیمه کې فعالیت درلود د مرستې غوښتنه وشوه. چې بنیاد د دوي له مرستې څخه په دې اړه مننه کوي او دوي ته د ملي شورا د ټاکنو په څارنه کې د مدني ټولنې د ستر بریالیتوب مبارکې وایي. دغه راز اړینه بولي چې د هغو نهادونو نومونه کوم چې د څارنې په پروسه کې یې له بنیاد سره مرسته کړې د مننې په توګه په راپور کې د اړوندو ولایتونو او سیمو په یادښت سره، یادونه وکړي.

- **په پروسه کې د خلکو له ګډون او ونډې څخه:**

بنیاد د ټاکنو په بهیر کې درایه ورکونکو او کاندیدانو په توګه د خلکو له ډار او ویر پرته ګډون څخه مننه او د ولسواکې او ملت جوړونې په وړاندې د هغو له ډاډ او باورڅخه ستاینه کوي. او په اوسني وخت کې هغه یوه زړه وره هڅه بولي.

البته ددې ټکي يادونه لکه څنګه چې  په سريزه کې هم ورته اشاره وشوه، ضروري ده چې د ټاکنيزو پروسو ترسره کېدنه له ځانه سره ستونزې لري حتې په هغه هيوادونو کې چې هلته له ډيرو کلو را په دې خوا د ولسواکي تجربې هم لري. زمونږ په هيواد کې بحران له دورې څخه وروسته دا دوهم ځل د عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو تمثيل ده ، د ډيرو کانديدانو شتون او د هغوي په منځ کې د ناسالمه رقابت فضا ، بې باوري ، په پروسه کې د برخه اخيستنې لپاره د رايه ورکونکو نسبي ليوالتيا ، په ګوته شويو کانديدانوته د رايه ورکونکو ګواښونه ، د وير او ډار د فضا شتون ، اداري او لوژستيکې کمزورتيا ، د پروسې او د ټاکنيزو دندو په اړه د پوهې د کچې ټيټيا او ځينې نور مسايل د هغو موردونو له شميرې څخه وې. کوم چې دا دوه تيرې ټولټاکنې په تيره بيا د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټاکنې ورسره مخ وې او ددې لامل شوه چې په خلکو کې په بيلا بيلو ډولونو انعکاس ومومي چې بنياد په دې اړه خپله ژوره خواشيني او انديښنه وړاندې کوي او له خلکو څخه غواړي تر څو په خپل پراخ ګډون د ټاکنيزو پروسو په سمون او پياوړتيا لاس پورې کړي په يقين چې ښه راتلونکې به له ځانه سره ولري.

## ۲ . د افغانستان دآزادو اوعادلانه ټولټاکنود بنیاد پیژندنه:

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد( فیفا) د مدني ټولنې یو با اعتباره ، خپلواکه، بې پرې او ناپیلې اداره ده چې دې :

- دټاکنو د آزاد او عادلانه توب څخه د څارنې په هدف
- په هیواد کې د ولسواکې د بنسټیزه کولو
- په ټولټاکنو کې د وګړو د عمومي کچې د لوړ تیا
- اود ولسواکي او ټولټاکنو پـه وړاندې د عامـه بـاور او ډاډ د کچې د لوړولو پـه موخـه ، د مدني ټولنې د یو لړ نهادونو له خوا جوړ شو.

دغه نهاد د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې چې د۲۰۰۴ کـال د جون لـه دولسمي سره برابره وه، د عدلیې په وزارت کې ثبت اوراجستر شو او خپل فعالیت یې دوه میاشتې وروسته له ثبتیدو په عملي توګه پیل کړ.

خپله لمړني تجربه یې د ۱۳۸۴کال د ولسمشري د ټاکنو له څارنې څخه د هیواد په دننه او بهـر ( پاکسـتان) کې د ۱۰۰ ولسـوالیو پـه څـارنې سره لاسته راوړه، ولې خپلـه دویمـه تجربـه یـې د ملي شـورا د ټاکنو لـه څارنې څخـه د ۲۱۷ ولسـوالیو پـه څـارنې ، چـې ۶۵% درائـې ورکـونې مرکزونـه ترپوښـښ لانـدې نیسـي، ترلاسه کړه . بنیاد له دوو مهمو برخو څخه جوړ دي.

- **مدیره هئیت**:

د بنیاد مدیره هئیت ۱۵ غړي لري ، چې د بنیاد د تصمیم نیونې هئیت جوړوي. دا هئیت له خپلوڅخه یو تن د بنیاد د رئیس په توګه ټاکي چې د بنیاد د عمومي رییس په نامه یادیږي. د مدیره هئیت غړي د مـدني ټولنې د نهـادونو لـه اسـتازو او ملي خپلواکـو شخصـیتونو څخـه عبـارت دي. چـې پـه لانـدني جـدول کـې پـه پیژندګلوي نیول کیږي.

| شمیره | په مدیره هئیت کې د نهاد استازي | د نهاد نوم | د نهاد د نوم مخففات |
|---|---|---|---|
| 1. | احمدنادر نادري | د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون | (AIHRC) |
| 2. | داکترمحمد سعید نیازي | د فرهنګ او مدنی ټولنې بنیاد | (FCCS) |
| 3. | انجنیرعزیزالرحمن رفیعي | د مدنی ټولنې اجتماع | (ACSF) |
| 4. | سعدالدین صافي | افغان پرمختیایي ټولنه | (ADA) |
| 5. | داکترسید حسین راموز | خپلواک شخصیت | |
| 6. | امان الدین حیدري | افغانستان ته د مرستو د سمون اداره | (CoAR) |
| 7. | ملکه قانع | بې وزلو نجونو او ښځو ته روزنیز مرکز | (ECW) |
| 8. | محمدشفیع خالقي | کروندګروته د مرستو سازمان | (HAFO) |
| 9. | روشن ښیرن | ښځو ته د بشر د حقوقو روزنیز ه ټولنه | (THRA) |
| 10. | سنجرسهیل | د دموکراتو محصیلینو ټولنه | (DSM) |
| 11. | عبدالقدیررووفي | د بامداد اندیشې کلتوری او ټولنیز سازمان | (MSCO) |
| 12. | داکترشیرآقابلوچ | دافغانستان د بیا رغاونې او پرمختیا اژانس | (RADA) |
| 13. | محمدعالم کوهکن | د قلم ټولنه | (The Pen Association) |
| 14. | میرویس وردک | د سولې او پیوستون لپاره د مرستې ټولنه | (CPAU) |
| 15. | هبه طرزي | د افغاني ښځو شبکه | (AWN) |

- **اجرائیوی څانګه** :

اجرائیوي برخه (دارالانشأ) هغه مرجع ده چې د مدیره هئیت فیصلې او پریکړې په عمل کې پلې کوي. او د بیلا بیلو کمیټو درلودونکې ده ، هره کمیټه ځانته دندې ترسره کوي. اجرائیوي برخه د یوه رئیس درلودنکې ده چې د اجرائیوي رئیس په نامه یادیږي او د بیلا بیلو کمیټو د کړنو او فعالیتونو د سمون او همغږي کولو مسوولیت پرغاړه لري او د هغو د دندو له سالم بهیر څخه څارنه کوي دا کمیټې عبارت دي له:

- حقوقي او روزنیزه کمیټه: داسې مسایل لکه د روزنیزو توکو او پوښتنلیکونو برابرونه ، ولایتي چارواکو او څارونکو ته د روزنیزو خپرونو تدویر او ترسره کونه، په سیمو او ولایتونو کې له دغوخپرونو څخه څارنه ، دراپورونو او راپور ورکونې د سیستم جوړونه او دهغوسمونه او د بنیاد له پروګرامونه څخه د عمومي راپورونو برابرول او جوړول او یو لړ نوري څیړنیزي دندې پرغاړه لري.

- د ولایتي چارو سمبالونکې کمیټه: دا کمیټه د بنیاد د غړو او همکارو نهادونواو ټولنو په مرسته د سیمه ئیزو چارواکو او څارونکو د موندلو او ګمارلو دنده ، او دغه راز په سیمو او ولایتونو کې د خپرونو د سمون او انسجام ، مسوولیت پرغاړه لري او د هغو له کړنو او فعالیتونو څخه څارنه کوي.

- د اړیکو د تامینولو کمیټه: دغه کمیټه له نورو ملي او نړیوالو نهادونو سره د بنیاد د اړیکو د تامینولو مسوولیت پرغاړه لري.

- د رسنیو او مطبوعاتو کمیټه: داکمیټه د خبري ډله ئیزو رسنیو او د کنفرانسونو او مطبوعاتي غونډو د دایرولو له لارې ، د بنیاد د کړنو او راپورونو د خپرولو دنده او مسوولیت پرغاړه لري.

- مالي کمیټه: دا کمیټه دمالي مسایلو د سمون او د بودیجې سره سم د لګښتونو د برابرولو، دغه راز په سیمو کې د لګښتونو له څرنګوالۍ څخه د څارنې او مالي راپورونو د تو حیدولو او جوړولو، مسولیت په غاړه لري.

- اداري کمیټه: د بنیاد د اداري او لوژستیکي چارو د سمون دنده او مسوولیت پرغاړه لري او ددې چارو له ترسره کېدو څخه څارنه کوي.

## 3. لمړنی برخه :

## دولسي جرګې او ولايتي شوراګانو له ټاکنو څخه

### د بنياد د څارنې او فعاليتونو تحليلي راپور:

تر مخه له دې چې د نوموړو ټاکنو په څېړنې او ارزونې پيل وکړو ، بايد ياد ونه وکړو چې د بنياد فعاليتونه د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په څارنه کې په دوو بيلو بيلو برخو (درائې ورکونې له پروسې ترمخه جريانونه او درايې ورکونې او رائې شميرنې پورې داړونده جريانونو،په برخو کې تر څېړنې نيسو.

ددې ټکي يادونه اړينه ده چې بنياد يواځې درائې ورکونې ، رائې شميرنې او مشرانو جرګې ته دولايتي شوراګانو د غړو ټاکل او ورمعرفي کولو ،لړۍ په سمه او له پلان سره سم څارلې. خو تر هغه دمخه نورې مرحلې يې لکه د رايو ورکونکو د نوم ليکنې بهير، د ټاکنيزو سياليو مرحله او داسې نورې مرحلې په بيلګه ئيزه توګه څارلې، چې اوس په لنډه اوځغلنده توګه درايې ورکونې څخه تر مخه جريانونو په تحليل او ارزونې پيل کوو.

## لمړي مبحث:

### ترمخه درائې ورکونې جرياناتو ته کتنه:

دولسمشري له ټولټاکنو څخه د څارنې د خپرونې له بريالي بشپړيدو او اړوندو مراجعو ته د راپورونو له ليږلو وروسته ، پلان پردې شو ترڅو بنياد دولسي جرګې او ولايتي شوراګانو له ټاکنو څخه څارنه وکړي. نو په دې مقصد د بنياد مديره هئيت او اجرائيه څانګې دراتلونکې خپرونې او پلان جوړونې په خاطر غونډې ترسره کړې. په پلان جوړونې کې هڅه پردې وه ترڅو د عملياتي دورې پلان له ښه سيستم او کېفيت څخه برخمن او د ولسمشري ټولټاکنومهال دپلان په پرتله پراخ وي. چې په پايله کې پريکړه پردې وشوه تر څو:

- بنياد دسيمه ئيزو دفترونو له جوړولو څخه ډډه وکړي.
- په سيمو کې پلان د بنياد د مرستندويو دفترونو لخوا پلي شي. ځکه هغوي له دفتري امکاناتو او آسانتيا وو څخه ( د بوديجې د لګښتونو د کمښت په خاطر د ژمنو او ناپيلوکسانو د پيژندګلوي او ګمارنې او هم د سيمې په بلدتيا کې له تجربو)، برخمن وو.
- دولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په بهير کې يواځې درائې ورکونې او رائې شميرنې له مرحلو څخه په سمه او منظمه توګه خو له نورو مرحلو څخه په بيلګه ئيزه توګه څارنه وشي.

په همدې وخت کې د دولت رياست د اساسي قانون د حکم او د مدني ټولنې له وړانديزونو سره سم پريکړه وکړه تر څو د ټاکنو خپلواک کميسيون جوړ کړي. په همدې خاطر دولت د مدني ټولنې له نهادونو څخه چې

د فیفا بنیاد هم په کې شامل وو ، غوښتنه وکړه تر څو د هغو کسانو څخه یو لست چې غړیتوب یې د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې وړ بولي ، جوړ او د دولت ریاست ته یې ولیږي . په دې مقصد د بنیاد مدیره هئیت د خپلو غونډو په ترځ کې د وړو ژمنو او ناپیلو کسانو لست چې د کمیسیون دغړیتوب وړتیا یې درلوده جوړ او ددولت ریاست ، یوناما او د ټاکنو د سمون ګډ دفتر ته ولیږه چې نوموړي لست د کمیسیون په جوړښت کې اغیزمن نه وو. وروسته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له جوړیدو او د دولت له اعلان چې ګینې د ټاکنو چارې دې د ټاکنو د سمون د نوي ګډ دفتر لخوا چې بهرني غړي یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سر منشي دځانګړي استازي لخوا ټاکل کیږي ، پرمخ بیول شي.
بنیاد د ټاکنو د ګډ دفتر د رئیس او د دارالانشأ له لوړپوړو کارکونکو سره لیدنې کتنې وکړې چې دد ې کتنو په ترځ کې بنیاد ټولې خپلې تجربې او د ولسمشري د ټولټاکنو دپروسې وچت او کمزور ټکي په ډاګه کړل دغه راز د ناپیلتوب او بې پرې توب د اصل په رڼا کې یې خپله هر اړخیزه مرسته دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په ښه ترسره کېدنه کې هم اعلان کړه. خپل راپورونه او ګزارشونه یې په ښه وخت سره هغو ته ورولیږل.
بنیاد دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو له رائې ورکونې او رائې شمیرنې تر مخه نورې مرحلې هم په بیلګه ئیزه توګه څارلې، چې اوس په لنډه توګه هغو ته یوه کتنه کوو.

**الف: ولایتونو ته د ولسي جرګې ځانګړې شوې څوکۍ:**

بنیاد د ټاکنو د سمون له ګډ دفتر سره د غونډو په ترځ کې خپلې اندیښنې په هیواد کې د وګړو د نه دقیقې سر شمیرنې په اړه ، وړاندې کړي او د نوي سر شمیرنې د بهیر د عملي کولو غوښتونکی شوی او په خپل پخواني وړاندیز یې( د هیواد پر وګړو باندې د تابیعت د تذکرې ویشل او په ټاکنیزو پروسو کې دهغه پررواجیدلو) ټینګار کړې . ځکه کومه سر شمیرنه چې په دې ورستیو کې ترسره شوې وه د هیواد ډیرو وګړو ددې سر شمیرنې په اړه خبرنه وو او په دې اړه یې د غونډو او خبري رسنیو له لارې خپل نه رضایت څرګند کړ.
په دې توګه د څوکیو ویش تر سره شو ، بنیاد د ټاکنو له دفتر څخه په دې اړه د معلوماتو غوښتونکی شو چې په مقابل کې د ټاکنو دفتر د ټاکنو د قانون شلمه ماده د څوکیو دو یشلو لپاره دلیل او ځواب وګڼه. خو بنیاد له سره د هغې سر شمیرنې د معیار د څرګندیدو غوښتونکی شو کوم چې د څوکیو ویش دهغه پر بنسټ ترسره شوی وو. خو د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر ځواب په دې اړه داوو چې د څوکیو ویش د ۱۹۷۸ کال د بیړني لویې جرګې او داوسني سر شمیرنې د یوه ګډ ترکیبي فورمول پر بنسټ ، ترسره شوي او ددې ترکیبي فورمول د عملي کېدلارې د معلوماتو له ورکولو څخه یې ډډه وکړه. چې ددې مرحلې شفافیت د بنیاد لپاره له روښانتیا څخه برخمن نه وو.

**ب: د کاندیدانو د نومونې دوره:**

دغه مرحله هم د ټاکنو په بهیر کې یوه شامله مرحله وه. بنیاد ددغې مرحلې په اړه یې هم ځینې ټکي وموندل او هغه دا چې:

- د هیواد په پلو قوانینو کې د کاندیدانو د اهلیت، سواد او تحصیلي درجې په اړه کوم صراحت ندي راغلی. چې عامه نظر په دې اړه د ځینو قانوني قیدونو لکه دسواد او تحصیلي درجې قید د کاندیدانو لپاره غوښتونکی ووو.

- دغه راز د بنیاد په وړاندې د خلکو یوه بله اندیښنه ، ملي شورا ته دې بشري حقونو د نقضونکو ورتګ او د خلکو په سیاسي برخلیک باندې د هغود قانوني واکمني له امله وه . که څه هم قانون په دې اړه د واک لرونکې محکمې حکم شرط ګڼلي او د انتخابولو واک یې خلکو ته ورکړې ولې ډیریو ، پرخلکوباندې د هغو له صلاحیت او واکمنی څخه ، د خلکو تر منځ د ویرې او ډاردفضا ، د زور مندوکسانو په نزد کې د وسلو او غیر رسمي ځواکونو د شتون او د محکمې او محاکمې د کلتور د نه شتون څخه نیوکې او شکایت درلود .

- یو بل مورد چې بنیاد په دې اړه د قوانینو له ارزونې څخه ومونډ او کولای شو چې قانوني خلأ او نیمګړتیا ورته ووایو ، د اساسي قانون له ۸۵ مادې سره د ټاکنو د قانون د ۱۲ مادې توپیر او مغایرت دی . ځکه د اساسي قانون ۸۵ ماده حکم کوي ، څوک چې د مشرانو جرګې د غړیتوب د ترلاسه کولو په خاطر خپل ځان کاندیدوي باید د کاندیدولو په ورځ ۳۵ کلن شوي وي ولې د هغه چا په اړه یې چې خپل ځان ولایتي او ولسوالي شورا ته کاندیدوي څه نه دي ویلي . په داسې حال کې چې د ټاکنو قانون ۱۴ مادې داموضوع د اساسي قانون ۸۵ مادې ته وړاندې کړې او حکم کوي. څوک چې د اساسي قانون په ۸۵ مادې کې راغلي شرطونه ولري کولای شي ملي شورا ، ولایتي شورا او د ولسوالیو شوراګانو ته ځان کاندید کړي. حال دا چې اساسي قانون په دې اړه چپتیا غوره کړې. اما بیا هم ددې خلا په موجودیت کې د ټاکنو نورو سندونو او کړنلارو د کاندیدانو د ژمن لیک په شمول ، د هغو کسانو لپاره چې خپل ځان ولایتي شورا ته کاندیدوي لږ تر لږه د ۱۸ کلني عمر معیار ګڼلي دي . خو څرنګه چې د ولایتي شورا ګانو په ټاکنو کې ولیدل شول، ځینې داسې کسانو ددې شوراګانو غړیتوب ترلاسه کړ چې عمر یې له ۳۵ کلونو څخه کم وو . خو ستونزه په دې کې وه چې هغو ځنګه کولای شول د ملي شورا د غړیتوب د ترلاسه کولو په خاطر ځانونه کاندید کړي. لکه څنګه چې وروسته د تخار په ولایت کې مشرانو جرګې ته د ولایتي شورا د استازو د ټاکنو پرمهال د یوه تن کاندید له ۳۵ کلونو څخه د عمر د کموالي په وجه چې خپل ځان یې د مشرانو جرګې د غړیتوب لپاره کاندید کړي وو، وروسته له ډیرو لفظي مشاجرو د نوموړي کاندید د انصرافیدو وړ وګرځید چې دا امر دولسواکي له اصولو سره هم په تناقض اوضدیت کې قرار لري.

- بل دا چې د ټاکنو په قانون کې راغلي ، څوک چې په دولتي ادارو کې دنده ترسره کوي نشي کولای د دندې څخه له رسمي استعفا پرته ، خپل ځان کاندید کړي. ولې د پروسې په لړ کې ولیدل شول چې ځینې کاندیدانو برسیره پردې چې له دولتي دندې څخه یې استعفا نه وه کړې ، د کاندید په توګه

ثبت شوي هم وو او درائې ورکونې په ورځ ئې ډيرې رايې هم ترلاسه کړې وې او د ټاکنو د کټونکو په توګه هم پيژندل شوي وو .

**ج :د رايه ورکونکو د نوم ليکنې مرحله:**

د ټاکنو د فتر پريکړه وکړه ترڅو په ټاکنو کې د هغو کسانو د برخه اخيستنې او ګډون لپاره:

- چې د ولسمشري د ټاکنو پر مهال يې درايه ورکونکو د نوم ليکنې کارتونه ترلاسه کړي نه وو.
- د نوم ليکنې د کارت اصلاح ، درايه ورکونې د حوزې (ولايت) د بدلون په خاطر.
- هغو کسانو ته چې خپل کارتونه يې ورک کړي وو .
- او دهغو کسانوته چې په روان کال کې د ۱۸ کلنې عمر ته رسيدلي وو او د رايه ورکونې قانوني عمر يې بشپړ کړي وو.

دغه بهير له کم عمر (يوه مياشت) او دنوم ليکنې د لږو مرکزونو او سيمو څخه برخمن وو. چې دې عمل د لږو خلکو لپاره دا زمينه برابره کړه تر څو د نوم ليکنې کارتونه ترلاسه کړي. ځکه چې د خلکو دا ستوګن سيمو او د نوم ليکنې د مرکزونو تر منځ د ډيرو واټنونو شتون ددې لامل وګرځيد تر څو خلک په ځانګړې توګه ښځې دغه بهير ته په لږه کچه ليواله شي.

- بل دا چې وليدل شول د ځينو مرکزونو په سيمه بندي کې له پوره غور څخه کار اخيستل شوي نه وو. پدې مانا چې په يوه سيمه کې دوه مرکزونه د ولسوالي او ناحيې د سهميې اوبرخې پر ځانګړتيا ،څنګ په څنګ پراته وو ( د پغمان د ولسوالي د نوم ليکنې مرکز او د ۱۲ مې ناحيې مرکز) چې يو بل ته په نږدې واټن کې پراته وو. ښه داوه چې يو له دې مرکزونو څخه په يوه بله ګڼ ميشته سيمه کې پروت وي.
- ځينې کارکونکو د خلکو د عمر او سن په ثابتولو کې غور نه کاوه او هغو ته يې په ډيره آساني کارت ورکاوه. لکه څنګه چې د ټاکنو په ورځ دغه موارد په ښکارنده توګه وليدل شول.



په عکس کې: يو تن د نوم ليکنې په حال کې چې خپل ځان ۱۸ کلن بولي، ليدل کيږي

- بله ستونزه چې په دې مرحله کې موجوده وه هغه دا چې د عکس اخیستنې کامرې د څلور او یا پنځو تنو له عکاسي وروسته د چاپونې توان درلود. ولیدل شول چې لمړنې شخص ، دویم، دریم او پدې توګه څلورم شخص ته له ډیرې مودې انتظار وروسته پرته له دې چې کارت ترلاسه کړي د مرکز پرینبیدوته اړشوي.
- بل مورد دا چې کارکونکو د نوم لیکنې د کارتونو په بشپړیدو کې له پوره غور څخه کارنه اخیسته، په دې توګه چې یو له هغو موردنو څخه چې د نوم لیکنې په مرحله کې د اجرا وړ وو، په کارت کې د ولایت د نوم په اړه د اصلاح او بدلون راوستل وو. خو کار کونکو د نوي کارتونو په ویش کې دولایت ، ولسوالي آن دا چې د کلي په خونه کې هم دولایت نوم لیکه پرته له دې چې راتلونکو د ولسوالیو شوراګانو ته پاملرنه وکړي چې په هغه کې به هره ولسوالي ځانته یوه ټاکنیزه حوزه وي. نو ناچاره په راتلونکې کې به بیا هم په اصلاح او د خلکو په خبروني لاس پورې کړو.




د نوم لیکنی په کارت کې څنګه چې لیدل کېږي په ټولو خونو کې (ولایت، ولسوالي، او کلي کې) کابل لیکل شوي. چې د ولسوالیو د شوراګانو په ټاکنو کښې بیا هم اصلاح ته اړتیا ده.

**د رای پاڼو په جوړونه کې د کاندیدانو د نومونو د قرعې (پچې) مرحله.**

بنیاد ددغې مرحلې له ټول بهیرڅخه څارنه وکړه چې د خپلې څارنې په ترځ کې یې ځینې موردونه وموندل چې راپور یې پر هماغه مهال خپور شو . همدارنګه د ټاکنو د سمون له ګډ دفتر سره یې هم دغه موردونه شریک کړل.

دغه بهیر سره له هغو بریاوو چې له ځانه سره یې درلودې له ځینو ستونزو سره هم مل وو، لکه:

- ددغې مرحلې دترسره کېدو دچارو په برخه کې د اجرائیوي او کاري ټیم ترمنځ نه همغږي . څرنګه چې ولیدل شول کارکونکي له پوره نظم څخه برخمن نه وو چې کله نا کله دغه مورد ددې لامل ګرځیده تر څو د ځینو حوزو په کاري بهیر کې ځنډ راشي او یا په ځینو حوزو کې ګډوډي رامنځ ته شي. چې کولای شو ووایو دغه مورد د پروسې پر ماهیت اغیز نه درلود.

- له بلې خوا له صندوق نه د پچې (قرعې) د اخیستنې لپاره کوچنیان په پام کې نیول شوي وو. باید ووایو چې د څارنې په بهیر کې ولیدل شول ځینو کوچنیانو سره له دې چې چارواکو سمې لارښونې ورته کولې ولې بیا هم ځینې اشتباه ګانې ترسره کولې چې په دې مرحله کې د کاندید د حق اتلاف یې منځ ته راوړه.

- دغه مرحله د ټولو ولایتونو د رای پاڼو د جوړونې په خاطر، یوائې په کابل کې ترسره شوه. حال داچې کاندیدانو ته باید دا فرصت برابر شوی وی تر څو شخصاً په دې مرحله کې یې برخه اخیستې وی او د دغې پروسې په اړه یې پوره ډاډ ترلاسه کړی وی. ولې ددې امر پلې کول یوائې په کابل کې له امکان څخه لرې وه ځکه د کاندیدانو د شمیر زیاتوالې او هم د هغو د لیږدونې او لوژستیکي مسئله ډیره ستونزمنه وه. نو ښه داوه چې دغه مرحله په اړونده ولایت کې ترسره شوې وای.

- ددغې مرحلې د پلې کولو په خاطر کومه سیمه چې په پام کې نیول شوې وه له اړینې پراختیا او آسانتیاوو څخه برخمنه نه وه. چې دې کار یو لړ ستونزې د پچې د اعلانولو او د استازو او رسنیو لخوا د هغې په اړه د نه پوهیدنې په برخه کې منځ ته راوړې وې. او په دې موضوع پاندې پوهیدنه چې ګینې پچه او یا کاندید پرکوم ولایت تړاولري، ستونزمنه وه او ددې لامل ګرځیده ترڅو د ځینو کاندیدانو او د هغو د استازو غړ پورته شي.




په عکس کې: د تالار یوه برخه چې هلته د پچې یا قرعې بهیر د بنیاد د څارونکو لخوا څارل کیږي.

د رای پاڼو په اړه باید ووایو چې د هر ولایت له رای پاڼو جوړونې وروسته، د ټاکنو د فتر د څلوینبت میلیونو رای پانو د چاپ تړون او قرارداد له بهرنیو کمپنیو سره لاسلیک کړ، چې بنیاد په دې شمیره د رای پاڼو چاپ، له اړتیاڅخه پورته بولې، ځکه د ټاکنو دفتر د ۲۸، ۱۲ میلیونو تنو په شاوخوا کې خلک د رایه ورکونکو په توګه ثبت کړي. نوکه دا شمیره دوه برابره کړو ددې په خاطر چې مونږ دوه ډوله ټاکنې درلودې (دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټاکنې) او دوه یا درې میلیونه رای پاڼې داحتیاط په خاطر دضائع شویو اوقلم خورشویو پاڼو د تلافي په منظور، چاپ کړې وای، یو مناسبه او برابره اندازه جوړوله او له پاتې پیسو یې کېدلای شول چې په نورو موردونو کې ګټه اخیستل شوې وای.

**د : د ټاکنيزو سيالیو دوران :-**

يو د ټاکنو له مهمو پړاوونو څخه، د ټاکنيزو سيالیو دوران وو. دغه دوره چې د کانديدانو د راتلونکو مسوولیتونو ، خپرونو او تګلارو په اړه د عامه خبروني او پوهاوي په خاطر د قانون لخوا د يوې مياشتې لپاره چې ۴۸ ساعته د رايه ورکونې له پيل څخه تر مخه پاي ته رسيده، روښانه شوې وه. په دغه دوره کې هم ځينې سرغړونې او ستونزې موجودې اوليدل شوې وې، لکه:

- د ټاکنيزو سيالیو دوران بايد ۴۸ ساعته له رايه ورکونې تر مخه پاي ته رسيدلي واي. خو ددې اصل رعايت د ځينو کانديدانو لخوا په پام کې نيول شوي نه وو . پدې مانا چې هغو خپلو سيالیو ته نيغ په نيغه يا د ميلمستياپه توګه او يا خو د عظيم الشان قرآن ختمونوته د خلکو په بلنه د وام او لاس پورې کړې . او آن دا چې ددوي استازو او پلويانو د ټاکنو په ورځ رايه ورکونکي ، څرګندو کانديدانو ته په رايه ورکونې هڅولي او رابللي.

- د ټاکنيزو سيالیو په دوران کې ځينو کانديدانو خلک ميلمستياوو ته رابلل او ډير لګښتونه يې د خپلو موخو دتر لاسه کولو په خاطر وزغمل. حال داچې په کار وه ترڅو هغو د خپلو تګلارو او خپرونو له لارې د خپلو پلويانو په ډيرولو او د خلکو د قناعت په ترلاسه کولو ، لاس پورې کړې واي. آن دا چې په دې مرحله کې د لګښتونو لپاره کوم قانوني حد چې په پام کې نيول شوي وو. هم د ځينو کانديدانو لخوا مات شوي او په ډيروکراتو يې ورڅخه زياتي کړي وو.

- ځينو کانديدانو د ټاکنيزو سيالیو په دوران کې له قومي ، ژبني او نورو توکمېزو مسئلوڅخه په ګټه اخيستنې ، خلک رايه ورکونې ته راپارولي چې دا هم له اصولو څخه د سر غړاوي يوه مهمه بيلګه بلل کيږي .

- ځينو کانديدانو په دغه دوران کې د ځان په ګټه د خپلو ټاکنيزو سيالانو په سپکاويو لاس پورې کړې چې دغه مورد هم له اصولوڅخه د سر غړاوي يو مهم مورد شميرل کيږي .

- ځينې کانديدان په دغه مرحله کې له ځاني اوجسماني مصئونيت او سلامتيا څخه برخمن نه وو. پدې مانا چې هغوي د ځينې اړخونو اوکسانولخوا ډارول کېدل او تر ځوروني لاندې راتلل چې دا امر د ټاکنو په پروسه کې د ځينو کانديدانو دترور ، وژنې او همدارنګه د هغوي يا د هغو د پلويانو په وړاندې د سپکاوي لامل وګرځيد. په دې اړه آن دا چې بنياد د يوه کانديد د يوه پلوي پر شرف اوناموس باندې د بل کانديد د پلويانو لخوا د جنسي تيري، يوه نيوکه هم ترلاسه کړه .

- همدارنګه د ټاکنيزو قوانينو او کړنلارو په اړه د ځينو کانديدانو د نه پوهاوي او يا د ټيټې کچې پوهاوي، ددغې مرحلې يوه بله ستونزه وه. آن دا چې ځينو کانديدانو په ټاکنيزو سيالیو کې خلکو ته د

اجرائیه او قضائیه قوې د دندو د ترسره کولو وعدې ورکولې او دولسي جرګې او ملي شورا له دندو او مسولیتونو څخه یې د قانون جوړونې د ارګان په توګه ، خبر تیا نه درلوده .

- په دغه مرحله کې د کاندیدانو د ټاکنیزو عکسونو او اعلانونو د چاپ او نصب مسله یوه بله ستونزه وه چې کولای شو ورته اشاره وکړو. د خصوصي او تجارتي شرکتونو د اعلانونو پر لوحو باندې د کاندیدانو د عکسونو ځړول چې د نورو حقونه یې تر پښولاندې کول او یا په عامه واټونوکې پر ترافیکي اشاروباندې چې ترافیکي پیښي یې هم منځ ته راوړې او آن دا چې په ناوړو سیمو کې د هغو نصبول او ځړول بې له دې چې پام ورته وشي چې آیا دغه سیمه د عکس د ځړولو او نصبولو لپاره سمه او مناسبه ده.



په عکس کښی د کاندیدانو عکسونه لیدل کیږي چې د ژوبڼ تر لوحي لاندي ځړول شوي چې دغه عمل د انساني کرامت په وړاندې د تمسخر ښکارندويي کوي.



په عکس کښی پر ترافیکی نښې باندې د یوه تن کاندید عکس لیدل کیږي. چې دغه عمل یوه ترافیکی پیښه منځ ته راوړې ده.

**هـ- د ټاکنو دسمون دګه دفتر د پریکړو په هکله څیړنه:-**

بنیاد د ټاکنو د سمون ګه دفتر پریکړې او فیصلې هم تر غور او څیړنې لاندې نیولي. که څه هم بنیاد د اصولو له مخې اجازه درلوده تر څو د ټاکنو د دفتر په غونډو کې د څارونکي نهاد په توګه برخه واخلي خو په دې هکله د ټاکنو د دفتر یا د هغې د اجرائیوي څانګې بلنه شرط ګڼل شوي و ه، مګرپه دې اړه له بنیاد څخه یوائې درې ځله هغه هم پر داسې مهال بلنه ترسره شوه چې ټاکنې ډیرې نږدې او کابو ډیرې کړنلارې او مقررات تصویب شوي او د اجرا په حال کې وو. په هر حال بنیاد سره له دې چې پر دې ونتوانیده تر څو د ټاکنو د دفتر په ټولو غونډو کې برخه واخلي ولې سره له هغه بیا یې هم دغه پریکړې او پلي کول یې ترڅیړنې لاندې ونیول اوداسې یې ترلاسه کړل چې:

- د ټاکنو سمون د ګه دفتر ځینې نوې پریکړې او فیصلې له پخوانیو کړنلارو او کړندودونو سره په ټکر کې راغلې او د هغو پلي کولو هم ځینې ستونزې له ځانه سره درلودې . لکه څنګه چې درایه ورکونې کړنلارې د رایه ورکونې پیل د سهار پر ۷ بجو ډاګیزه کړې وو، مګر د ټاکنو د ګه دفتر ۲۰-۲۰۰۵ ګڼې پریکړې، د رایه ورکونې د پیل وخت د سهار ۲ بجې اعلان کړ. چې ددې پریکړې پلي کول په ټولو سمیو کې یوشانتنه د اجرا وړ نه وو ، ځکه چې په ځینوسیمو کې رایه ورکونکي او په ځینو سیمو کې ټاکنیز کارکونکي له دغې پریکړې څخه یې خبرتیا نه درلوده .

- همدارنګه د ټاکنو د دفتر ځینې پریکړې د اجرائیوي څانګې لخوا په سمه توګه پلي شوي نه وو او د ټاکنو د ګه دفتر د پریکړو او تصمیمونو پر پلي کولو باندې یا د څارنې او کنترول سیستم شتون نه درلود او که درلود یې هم له سمې توانمندي څخه برخمن نه وو . د بیلګې په توګه ۵۷-۲۰۰۵ ګڼې پریکړې حکم کاوه چې درایه ورکونې په سیمه کې د مړو شویو او له واک څخه د لرې شویو کاندیدانو لست د رایو ورکونکو د خبرتیا په منظور و ځړول شي او رایه ورکونکو ته په دې اړه معلومات ورکړل شي. تر څو د باطلو رایو مخه ونیول شي مګر د رایه ورکونې په ورځ ولیدل شو چې دې امر عملي بڼه ونه موندله .

- همدارنګه ځینو پریکړو چې پر کاندیدانو پورې یې تړاو درلود، په سم مهال د هغوی د خبرتیا په منظور نه دي رسیدلي او یا خو اصلاً خبر شوي نه دي. د بیلګې په توګه د ټاکنو د دفتر ٥٤-٢٠٠٥ ګڼه پریکړې حکم کاوه چې د ټاکنو په ورځ کاندیدان اجازه نلري ترڅو له خپلو شخصي امکاناتو څخه په ګټه اخیستنه رایه ورکونکو ته درایه ورکونې په پروسه کې آسانتیاوې برابرې کړي. لکه درایه ورکونې مرکزونو ته درایه ورکونکو لیږدونه.

- دغه راز ویلاي شو چې ځینې پریکړې او تصمیمونه له قطعي روحیې او دریځ څخه برخمن نه وو. چې د دغه شان پریکړو پلي کولو ته ، بیلابیلې لارې په پام کې نیول کېدلې او په بیلو بیلو سیمو کې په راز راز ډولونو تر اجرا لاندې راتللې. د بیلګې په توګه د ٦٩-٢٠٠٥ ګڼې پریکړې چې قرنطین شویو صندوقونو ته د رسیدنې په خاطر تصویب شوې وه په یوه ځاي کې د اداري اشتباه ګانو په اړه په یوه بڼه او په بل ځاي کې په بله بڼه پلي کېدله.

## دویم مبحث

## د رایه ورکونې او رائې شمیرنې له بهیرو څخه څارنه

**الف ـ د رایه ورکونې ورځ:**

د فیفا بنیاد له جوړ شوي پلان سره سم ۲۵% درایه ورکونې مرکزونه چې مجموعي شمیریې په ورستیو مخونو کې څرګند شوي ، د ۲۱۷ ولسوالیو په څارنې سره چې د هیواد ټول ۳۴ ولایته په کښې شاملیږي، د خپلو څارونکو پرمټ ئې و څاره .

د ټاکنو پروسې د لانبې څارنې په خاطر، بنیاد روزنیز توکي او د راپور ورکونې فورمې جوړې او همکارو ولایتي دفترونو ته یې ولیږلې ، تر څو سرروزونکي د هغو په رڼا کې د روزنیزو خپرونو له لارې څارونکو ته عمومي معلومات د ټاکنو ، څارنې او د راپور ورکونې فورمو د ډکونې په خاطر، روزنه ورکړي.

( په دې اړه بشپړ معلومات په ورستیو پاڼو کې وړاندې کیږي)

**د رایه ورکونې د مرکزونو موقعیت او رایه ورکونکو ته د هغو لاسرسي:**

بنیاد دغه موضوع په لاندې توګه تر څیړنې لاندې نیولې ده:

- د ټاکنو د دفتر له اعلان شوي نقشې سره سم په سیمو کې د مرکزونود موقعیت څیړنه .
- رایه ورکونکو ته د مرکزونو د موقعیتونو لاسرسي.
- درایه ورکونې د مرکزونو او محلونو کورنې جوړښت.

۱. **په ټاکل شویو سیمو کې د مرکزونو موقعیت:**

د بنیاد د اړوندو مراجعو له راپورونو سره سم ، دهیواد په بیلا بیلو سیمو کې درایه ورکونې مرکزونه ۹۸%د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر له پخواني اعلان سره سم په ټاکل شویو سیمو کې موقعیت درلود. مګر ۲% مرکزونه په ټاکل شویو سیمو کې موقعیت نه درلود په شمول ددې چې ځینې مرکزونه د کاندیدانو په کورونوکې ځاي پر ځاي شوي وو.



**۴. : رايه ورکونکو ته د مرکزونو لاسرسي:**

بنياد دغه مورد چې آيا د مرکزونو موقعيت، رايه ورکونکو ته د لاسرسي وړتيا درلوده او که نه، چې د راپورنو له څيړلوڅخه داسې پايلې لاسته راځي چې ۹۷٪ مرکزونو د لاسرسي وړتيا درلوده. بايد ووايو چې که څه هم په دې اړه مرکزونو پورته فيصدي ځانته غوره کړې ولې بيا هم رايه ورکونکي ددوي د کورونو او درايه ورکونې د مرکزونو تر منځ د ډيرواټنونو له امله د ستونزو سره مخ وو. څرنګه چې که يو مرکز په ښونځي کې موقعيت درلود، دا موقعيت د يوه يا دوو کليو لپاره ډير ښه وو مګر د نورو شاوخوا پرتوکلو لپاره بيا نا مناسب ښکاريده . له بلې خوا په مرکزونو کې د محلونو شميره درايه ورکونکو په پرتله ډيره وه. ښه داوه چې مرکزونه په نږدې واټن کې سره پراته خو د مناسبې شميرې محلونو درلودونکي وي. دغه راز دغې مسلې د بنياد او څارونکو لپاره د څارنې عمليه هم ستونزمنه کړې وه ځکه چې له کړنلارې سره سم هر څارونکي نهاد اجازه درلوده چې په يوه مرکز کې دو ه تنه څارونکي ولري چې نارينه څارونکي د نرانو له محلونو او ښځينه څارونکي د ښځينه ؤ له محلونو څخه څارنه وکړي. مګر په مرکزونو کې د محلونو ډيروالي ددې لامل ګرځيده ترڅو څارونکي د يوه مرکز په محلونو کې خواره شي او ددوي توان يې درايه ورکونې د يوه مرکز په ښه څارنه کې له ستونزې سره مخ کړې وو .




همدارنګه د پورتني مبحث په دوام ددې ټکي يادونه اړينه ده چې د ځينو سيمو درايه ورکونې د مرکزونو په ويشلو کې پوره غور شوي نه وو چې دا امر د ځينو کانديدانو د غږ د پورته کېدو لامل هم وګرځيد . ځکه چې وليدل شو په يوه ولسوالي کې درايه ورکونکو د ډير شمير په موجوديت سره د مرکزونو شميره لږ و ه چې په دغو سيمو کې درايه ورکونې بهير هم له ستونزو سره مخ وو خو په بله ولسوالي کې دا ستونزه حل او د مرکزونو شميره د غوښتنې له کچې هم پورته وه . آن دا چې يو شمير مرکزونه دهيواد په ځينې سيمو کې د کانديدانو په کورونو کې وو .

بايد ووايو چې په ځينو سيمو د کوچيانو لپاره درايه ورکونې مرکزونه په پام کې نيول شوي نه وو مګر کوچيانو ته اجازه ورکړل شوې تر څو په نورو محلونو کې له کوچيانو څخه پرته نورو کانديدانوته رايه ورکړي. همدارنګه د بنديانو او په روغتونونو کې د بستر ناروغانو لپاره درايه ورکونې په منظور اړ تدبيرونه په پام کې نيول شوي نه وو او هغوي له خپل سياسي حقونو څخه محروم پاتې شول.



د کندهار ولایت د ډند ولسوالي د روح آباد دښونځي په مرکز کې کوچیانو ته د دوي پوري اړوند د مرکزونو د نه موجودیت په دلیل، اجازه وکړل شوه تر څو نورو کاندیدانو ته رایه ورکړي ( په عکس کی کوچیان د دوي د نوم لیکنی له کارتونو سره عکاسی شوي.)

**ج: درایه ورکونې د مرکزونو کورني جوړښت:**

د ځینې مرکزونو کورني جوړښت څرنګه چې وځارل شول له ښه نظم څخه برخمن نه وو. پدې مانا چې په ځینو مرکزونو کې درایه ورکونې غرفي په تیاره سیمه کې ځاي پر ځاي شوې وې. او هغه رایه ورکونکي چې د ډیر عمر څښتن وو د خپلو رایو په نښه کولو کې له ستونزو سره مخ وو.



په عکس کښي: درایه ورکوني په غرفه کې د تیاري حالت ددې لامل ګرځیدلي تر څو رایه ورکونکي درائي په نښه کولو کی له ستونزو سره مخ شي.

له بلې خوا داریه ورکونې غرفې یو بل ته ډیرې نږدې کېښودل شوې وې چې په ځینو مرکزونو کې رایه ورکونکو له دې وضعیت څخه په ګټه اخیستنه یو بل ته مشوره او لارښونه کوله چې دا امر درایې دپټوالي او آزادې ارادې له اصولو سره په ټکر کې واقع کېدله.





په عکسونو کښی درایو ورکونکو مشوره لیدل کیږي چې هغوي فرصت موندلی تر څوله یو بل سره د انتخاب په برخه کی مشوره وکړي او درائي د سریت (پټوالي) اصل مات کړي.

بله مسئله دا چې درایه ورکونې محلونه په خلاصو سیمو کې او یا په داسې توګه برابر شوي وو چې رایه ورکونکو دا فرصت ترلاسه کولای شو تر څو راي پاڼې د یوه مرکز له یوه محل څخه ترلاسه او دې بل محل په صندوقونو کې یې واچوي او دې امر هغو کسانو ته چې یې غوښتل له یوه ځل څخه په زیات وار رایې ورکړي، فرصت برابر کړي وو، د بیلګې په توګه د کابل پلتخنیک ترڅنګ په یوه مرکز کې یوه تن رایه ورکونکي د بنیاد څارونکو ته ډاګیزه کړه چې نوموړي کولای شي څو ځله رایه ورکړي هغه ګوته رنګ او په قانوني توګه یې په صندوق کې خپله رایه واچوله، وروسته په دویم ځل یې دهماغه مرکز په یوه محل کې چې د رنګ او دراي پاڼو په ویشونکي مامور، خلک زیات وو، پرته له دې چې خپل ځان د رنګ مامورته ور وښیي او خپل ځان ثبت کړي له یوې مودې ځنډ وروسته دراي پاڼو دویش مامورته ورغي خپل کارت او ترمخه رنګ شوې ګوته یې هغه ته ښکاره اونورې راي پاڼي یې لاس ته راوړې او په غرفه کې یې په سپینه توګه په صندوق کې واچولې. دغه ستونزه په ځانګړي توګه درایه ورکونې په پیل کې په هغو مرکزونو کې چې په اداري او مدیریتي لحاظ له کمزورتیا څخه برخمن وو او هلته درایه ورکونکو ګڼه ګونه هم زیاته وه، احساس کېده.





په عکس کښي لیدل کیږي چې درایې سریت (پټوالي) ترکومه حده رعایت کیږي، د خلکو او دکاندیدانو د استازیو پوهاوي په دې اړه، همدارنګه د چاروسمون په دغه محل کې کاملاً روښانه کیږي.

## پر امنیت او ګواښ پورې اړونده مسئلې:

بنیاد د رایه ورکونې په ورځ پر امنیت پورې اړونده مسئلې په لاندې توګه تر څیړنې لاندې نیولې دي:

- داچې د ټاکنو په ورځ آیا درایه ورکنې د مرکزونو په شاوخوا کې، امنیت په سمه توګه تامین شوي وو.
- آیا رایه ورکونکو وکړای شول چې پرته له کومې و یرې، ډار او ګواښ څخه خپله رایه وکاروي.
- او آیا پولیسو د خپلو دندو په ترسره کونه کې، درایه ورکونې د مرکزونو د امنیت د تامینونکي په توګه ، له پوره غور څخه کار اخیسته.

په دې اړه دراپورونو له پایلو څخه لاس ته راغې چې:

په پورتنیو موردونو پورې اړوند ، د لمړي مورد په هکله باید ووایو، چې امنیت د ټاکنو په ورځ برخلاف ددې چې فکر کېده په ډاډمنه توګه درایه ورکونې د مرکزونو په شاوخوا کې پلې شوي وو او درایه ورکونکو د ګډون لپاره یې لار پرانیستې وه. دغه راز امنیتي ځواکونو وکولای شول چې د ځینو زړه بوګونکو پیښو مخه هم ونیسي

. د بنیاد له راپورو سره سم د امنیت د تامینولو موضوع د ټاکنو په ورځ درایه ورکونې د پیل پرمهال درایه ورکونې د بهیر او پای په پرتله ټیټه فیصدي (٧٨%) غوره کړې وه. ولې درایه ورکونې په بهیر او پای کې یې پورته فیصدي (٩٨%) ترلاسه کړې ده.




ددویم مورد په اړه باید ووایو چې آیا رایه ورکونکو په آرامه توګه او پرته له ډار او ویرې په پروسه کې برخه واخیستله، په دې اړه د ګواښونې موضوع مونږ په دوو برخو کې:

- ❖ ګواښونه په نه رایه ورکونه.
- ❖ او ګواښونه، څرګندو کاندیدانو ته په رایه ورکونه.

د لمړني مورد په اړه باید ووایو چې د بنیاد څارونکو د ټاکنو په ورځ په دې اړه پخپله څه ندي لیدلي خو په دې هکله یې له رایه ورکونکو سره مرکې هم ترسره کړې چې ددې مرکو په ترڅ کې هیڅ یوه تن رایه ورکونکي مثبت غبرګون چې ګواکې د چاله خوا ګواښول شوي، نه دي ښودلي .

خو ددويم مورد په اړه بايد ووايو چې دټاکنو په ورځ دغه ستونزه د ځينو مرکزونو او محلونو په شاوخواکې موجوده وه ، په دې بڼه چې د ځينو کانديدانو استازو او پلويانو رايه ورکونکي دې ته ګواښول تر څو څرګندو کانديدانو ته رايه ورکړي. دراپورونو له پايلو څخه داسې څرګنديږي چې په څارل شويو مرکزونو کښې دغه مورد ۱۰% رقم ځان ته غوره کړي .




او د دريم مورد په اړه بايد ووايو چې د ټاکنو په ورځ ډيريو پوليسانو د خپلو دندو په ترسره کونه کې له غور څخه کار اخيسته. خو په ځينو مرکزونو کې هغو له خپلو واکونو او دندو څخه زياتې کړې او د رايه ورکونې په چاروکې يې لاسوهنه کړې پرته له دې چې د مرکز رئيس له هغو څخه د اړتيا پر بنسټ د ننوتلو غوښتنه وکړي او په ځينو مرکزونو کې يې د ځينو کانديدانو په ګټه، رايه ورکونکي و يرولي او ګواښولي تر څو ورته رايه ورکړي.



په عکس کښې پوليس د خپلو دندو د ترسره کولو په حال کې ليدل کيږي خو له هغو څخه ځينو ئې خپل پوځۍ يونوفورم (دريشۍ) په ځان کې نه درلوده او همدارنګه ځينو پوليسانو له خلکو سره له تاوتريخوالۍ کار اخيسته چې خلک له دغه چلند څخه ډير ناخوښي وو.

### د څارونکو شتون د ټاکنو په څارنه کې:

له ټاکنو څخه څارنه په ټولو هغو هيوادونو کې چې د سياسي نظامونو بنسټ د خلکو د ارادې پر اساس وي، معموله او مروجه ده . ځکه چې کله رايه ورکونکي خپله رايه کاروي هغه دغه بهير ته د شک او ګمان په

سترګه ګوري چې آیا د هغه رایه به په رښتینې توګه د ده په زړه پوري شخص ته و رسیږي او که نه ، آیا موجوده ټاکنې آزاده او منصفانه دي او په دې توګه ځینې نورې پوښتنې او اندېښنې.
نو له همدې امله یو لړ نهادونو ته د دې په خاطر چې له دغه بهیر څخه څارنه وکړي، اړتیا لیدل کېږي. تر څو د ټاکنو منصفانه توب او روڼتیا خلکو ته څرګنده کړي تر څو خلک په دغه بهیر باندې ډاډمن شي.
دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو له ترسره کېدو څو موده وړاندې ځینې کورني او بهرني نهادونو په دې شول تر څو د ټاکنو له عملي بهیر څخه څارنه وکړي او د هغې روڼتیا څرګنده کړي.
بنیاد د څارونکو شتون په لاندنیو برخو کې:

- نړیوال څارونکي
- د ګوندونو او کاندیدانو استازي
- کورني بې پرې او خپلواکه څارونکي
- او د ډله ئیزو خبري رسنیو په برخو کې ، د څلورو پړاوونو په ترځ کې تر څېړنې نیولې چې لاندې ورته اشاره کېږي.

**۱. د نړیوالو څارونکو او رسنیو له شتون څخه څېړنه:**
څرنګه چې بنیاد د ولسمشري د ټولټاکنو د مهال په راپور کې هم ډاګیزه کړې وه ، دا ځل هم د افغانستان خلکو ،د کورني څارونکو په څنګ کې د یو ډېر شمیر نړیوالو څارونکو د شتون لیوالتیا درلوده تر څو د افغانستان له دغه ولسواک بهیر څخه څارنه وکړي. خو په ډېر کم شمیر څارونکو له دغه بهیر څخه څارنه وکړه.
بنیاد په لړه کچه د نړیوالو څارونکو ونډه د افغانستان د ټاکنو په څارنه کې ، ددوی نه لیوالتیا بولي. بنیاد هیله مندوو ترڅو ددوی له تجربو او درلودنو څخه د ټاکنو دڅارنیز مهارتونو په لوړولو کې ګټه پورته کړي او هم ددوی شتون یې د بنیاد د باور د کچې د پورته کېدو لامل باله.
د نړیوالو څارونکو په منځ کې ، پورتنې شمیر اروپائي څارونکو (EU) او آسیائي څارنیزې شبکې (انفریل) جوړوه. دغه راز ددوی تر څنګ په افغانستان کې د میشتو ملګرو او دوستو هیوادونو نمایندګیو هم له دغه بهیر څخه کتنه او څارنه وکړه. او نړیوالو خبري رسنیو لکه د بي بي سي، آشنا ، آزادي راډیوګانو او یو لړ نورو رسنیو هم د دغه بهیر په څارنه کې ونډه درلوده.
د بنیاد د راپورونو او معلوماتو سره سم کومې سیمې چې د نړیوالو څارونکو لخوا تر څارنې لاندې نیول شوې وې ډېري یې د ولایتونو مرکزونه او په ځانګړې ډول د کابل ولایت مرکز او ناحیې، جوړولې.
د راپورونو او څېړنو څخه داسې ښکاري چې د نړیوالو څارونکو شتون د ټاکنو په ورځ د رایه ورکونې له پیل څخه تر مخه ۷٪ په بهیر کې ۱۸٪ او په پاي کې ۵٪ ، ښودل شوي دي.



### ۲. د ځارنې په امر کې د کانديدانو او ګوندونو د استازو شتون:

د ټاکنو په ورځ، د څارونکو په منځ کې، د کانديدانو او ګوندونو استازي له اوچت شمير څخه برخمن وو . ځکه چې په دې ټاکنو کې له ۵۰۰۰ تنو څخه زياتو د کانديدانو په توګه برخه درلوده او هر کانديد اجازه درلوده تر څو د ټاکنو له بهير څخه د څارنې په موخه ، خپلو څارونکو او استازيو ته باورليکونه ترلاسه کړي .

د بنياد له راپورونو سره سم د کانديدانو او ګوندونود استازيو شتون د ټاکنو د بهير په پيل کې ۸۷% په بهير کې ۸۹% او په پای کې ۸۲ % ښودل شوي ده.




ولي د کانديدانو د استازو په اړه بايد ووايو چې :

- له هغو څخه ځينې يې له ۱۸ کلنو څخه دکم عمر خاوندان وو.
- په ډيرو سيمو کې په ځانګړې توګه په لرې پرتو سيمو کې ، ځينې استازي د سواد او زده کړې له نعمت څخه برخمن نه وو او هغو په ځينو موردونو کې پرته له کومې قانوني اړتيا ، خپل غږ پورته کاوه او وضع يې کړکېچمنه کوله .
- دغه راز د هغو د څارنې په اړه بايد ووايو چې ډيري يې له ټاکنيزو کړنلارو او کړندودونو څخه خبرتيا نه درلوده په ځانګړې توګه له ښارونه ليرې پرتو سيمو کې، چې په دې توګه هغو د رايه ورکونې په بهير کې لاسوهنه کوله او هغه يې له ستونزو سره مخامخ کوله.
- په ځينو مرکزونو او محلونو کې استازيو د مرکز او محل د رئيس او آمر په چاروکې لاسوهنې کولې
- په ځينو محلونو کې پريوه کانديد پورې اړوند ،درې او له هغو پورته استازيو شتون درلود .
- په ځينو مرکزونو او محلونو کې استازيو د څارنې پرځاي له مرکز څخه د باندې رايه ورکونکي خپلو کانديدانو ته په رايه ورکونه، هڅول او يا خوېې د رايه ورکونې غرفې ترشا درايې د سريت (پټوالي) اصل ماتوه او له اړونده کړنلارې يې سرغړونه کوله.



په عکس کښې ليدل کيږی چې بي نظمی او د کانديدانو د ډير شميرو استازيو شتون، درايه ورکونی بهير له ستونزو سره مخ کړی. آن داچې رايه ورکونکې ته د انتخاب په وخت کی هم مزاحمت کوی.

### 3. کورني بې پرې څارونکي:

دغه برخه څارونکي د هغو نهادونو لخوا چې د ټاکنو په پروسه کې ځانته ګټې نه لري. ګمارل کیږي. په دې مانا ددغې ډلې څارنه پرکومې ډلې ، کاندید او یا پرکوم اړخ پورې تړاو نلري. بلکه د هغو څارنه د ټاکنو د روښانه کولو او د ټاکنو پر آزاد او عادلانه توب باندې د باور د کچې لوړ ولو په منظور په بې پرې توګه، ترسره کیږي او د ټاکنو په چاروکې د ټولو خوا وو پر ګټو پورې اړوند کیږي ( رایه ورکونکي ، کاندیدان، د ټاکنو د چارو اداره کونکي او ...........)



په عکسونو کښی د بنیاد ښځینه او نارینه څارونکی دراي ورکونی له بهیر څخه د څارنی او د خپلو فورمونو د ډکولو په حالت کښی لیدل کیږی.

بنیاد له خپل ځان څخه پرته د نورو کورني بې پرو څارونکو شتون هم د ټاکنو په ورځ ترڅیړنې نیولې چې د راپورونو له پایلو څخه معلومیږي چې درایه ورکونې په پیل کې د غو څارونکو ۱۰% په بهیر کې ۱۸% او په پاي کې ۹% ، شتون درلود. چې لوړ رقم په دغه ډلو څارونکو کې وروسته له بنیاد څخه د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون څارونکو، جوړوه . چې په څرګنده ډول یې له دغه بهیر څخه څارنه کړې.



**۴. د ټاکنو په بهیر کې د خبري رسنیو شتون:**

د ډله یزو خبري رسنیو استازي هم د څارونکو په ډله کې شامله برخه وه چي د ټاکنو له ورځې یې څارنه وکړه او په ټاکنو پوري اړوند موردونه یې د مطبوعاتو له لاري خپاره کړل.

د خبري رسنیو شتون د ټاکنو په پیل کې ۱۲٪ ، بهیر کې ۲۲٪ او په پاي کې ۱۴٪ فیصده بنودل شوي.

دغه برخه شاملیږي د افغانستان پر ملي راډیو تلویزیون ، د آریانا ، طلوع ، افغان او آینې پر خصوصي تلویزیونونو ، د باختر اطلاعاتي آژانس، کلید راډیو او پر نورو رسنیو. همدارنګه د ځینو مرکزونو څارنه د سیمه یزو راډیوګانو اود رسنیو ژورنالستانو لخوا په هغه سیمو کې چي ددوي د خپرونو تر پوښښ لاندي راتله، شوې ده.




**◄◄ . د ټاکنیز و کارکونکو شتون:**

درایه ورکوني په مرکزونو کې د ټاکنیزو کارکونکو د شتون مسئله ،په دي خاطر تر څیړني لاندي نسیو چي له یوي خوا هغوي د یو لړ ټاکلو دندو په ترسره کولو مکلف وو چي په کړنلارو کې څرګند شوي وو لکه څنګه چي د کړنلارو پر بنسټ په یوه محل کې د مرکز پر رئیس برسیره پنځه تنه کارکونکي ، د ټاکنیزو کارکونکو او مامورینو په توګه پیژندل شوي وو. په دي توګه چي یو تن د محل د آمر ، بل تن د کتار د اداره کونکي ، بل تن د ثبت او د ګوتې د رنګولو د مامور، بل تن د پاڼو د ویشونکي او وروستي تن د صندوقونو د کنترولونکي په توګه ، دندي ترسره کولې.

او له بلې خوا د کارکونکو د یوه تن نه موجودیت ددي لامل ګرځیده تر څو د ټاکنو بهیرپه مرکز او یا محل کې له ځند ، بي نظمي او ماتې سره مخامخ شي.

د راپورونو له مطالعې څخه داسې معلومیږي چي د پورتنیو یادشویو کارکونکو شتون په پوره ډول په یوه محل کې ۹۸٪ ثابته شوي او پاتې فیصدي په دندو کې د کارکونکو شتون په نامکمله توګه ، جوتوي .



◄◄ **له ټاکل شوي وخت سره سم ( دسهار ٦ بجې) درايه ورکونې د پيليدلو څېړنه:**

د ټاکنو قانون په ښکاره توګه په خپلو موادو کې څرګنده کړې چې د ټاکنو دفتر دنده لري ترڅو د ټاکنو نيټه ۱۴۰ ورځې ترمخه له ترسره کيدويې د خلکو د خبرتيا په خاطر، اعلان کړي. چې د همدغه قانوني اصل پر بنسټ د ټاکنو دفتر د رايه ورکونې ورځ د وړې اوه ويشتمه د يوې ورځې لپاره د سهار له ۷ بجو څخه د مازديګر تر ۴ بجوپورې وټاکله او اعلان کړه.

ولې څومودة وروسته د ټاکنو دفتر د خپلې ٦٠-٢٠٠٥ ګڼې پريکړې پربنسټ د رايه ورکونې پيل د سهار له ۷ بجو څخه شپږوته وټاکله. بنياد دغه موضوع چې آيا پروسه د هيواد په ټولو سيمو اودرايه ورکونې په مرکزونو کې له ټاکل شوي وخت سره سم پيل شوه او که نه، وڅارله ، چې دراپورونو له څيړلو څخه وروسته، داسې پايلې لاس ته راغلې.

درايه ورکونې بهير په خپل ټاکلي وخت (٦ بجې) سره په ۴۰٪ مرکزونو کې ، پيل شو . په پاتې مرکزونو کې د ځينو دليلونو له مخې چې لاندې ورته اشاره کيږي. له خپل ټاکلي وخت څخه وروسته ، پيل شوه .




کوم دلايل چې د رايه ورکونې پروسې په ناوخته پيليدو کې ، اغيزې درلودې په لاندې توګه دي.

- له ټاکلي وخت سره سم په مرکزونو او محلونو کې د رايه ورکونکو نه موجوديت.
- د ټاکنيزو کارکونکو نه خبرتيا د ټاکنو د دفتر د پريکړې په هکله چې ګينې پروسه په ٦ بجو پيل کيږي.
- مرکزونو او محلونو ته د ټاکنيزو کارکونکو، ناوخته راتلل او د رايه ورکونې د چاروسمون وروسته له ټاکلي وخت څخه .
- مرکزونو او محلونو ته د ټاکنيزوتوکو ناوخته رسيدل.



په عکسونو کښی لیدل کیږی چي د مرکز په دننه کی کارکونکی له ټاکلی وخت څخه وروسته دڅارو دسمون په حالت کښی دي. مګر له مرکز څخه د باندي د رایه ورکونکو لوي کتار لیدل کیږي چي په بی خبري سره د رائي ورکونی لپاره انتظار باسي.

باید ووایو کومو عواملو چې د پروسې په ناوخته پیلیدوکې ونډه درلوده، په لانديې ګراف کې په ښکاره توګه خپله اندازه څرګندوي.




د پورتني موضوع په اړه باید ووایو چې ځینې مرکزونو چې د ملاحظې وړ فیصدي نه جوړوي، د ټاکنو په ورځ یې اصلاً په کار پیل و نکړ او رایه ورکونکي له مودو ځنډ او انتظار وروسته بیرته خپلو کورونه روان شوي.

## د ټاکنیزو کارکونکو د دندو د ترسره کیدو په هکله څیړنې:

بنیاد د رایه ورکونې په ورځ د ټاکنو دکارکونکو له دندو ترسره کولو څخه هم څارنه کړې ترڅو ومونډي چې کارکونکي ترکومه حده د خپلو اړوندو دندو په ترسره کونه کې له غور څخه کار اخلي او څومره خپل ځانونه د ټاکنو کړنلاري او نورو پلو قوانینو ته اړ بولې .

باید ووایو چې یو له هغو مهمو ننډونو څخه چې د ټاکنو د اداري چارو په لار کې موجود وو ، هماغه د ژمنو او بې پرې کارکونکو مونډل او په کار ګمارل وو. ځکه چې په دې ټاکنو کې هر ولایت یوه خپلواکه ټاکنیزه حوزه وه اوپه هر حوزه کې د ډیرو کاندیدانو شتون د دوو ټاکنیزو پوستونو لپاره (ولسي جرګې، ولایتي شورا) چې په ټولېزه توګه ددوي شمیر له ۵۸۰۰ تنو څخه پورته وو او هم په ټاکنو کې د ۲۸۰۰۰۰ تنو څخه پورته د کاندیدانو او ګوندونو د استازیو شتون ، لار د اړیکو او نسبتونو لپاره هواره کړې وه . او ځینو کارکونکو په یوه بڼه (کورني ، ګوندي، قومي سیمه ئیزی او .....) اړیکې له کاندیدانو او نوماندانو سره درلودې او یا خو د هغو تر اغیزو لاندې راغلي وو. (د ناپیلتوب د اصل رعایت په ورستیو عنوانونو کې تر څیړنې او ارزونې لاندې نیول شوي ده .)

باید ووایو چې د بې پرو کارکونکو د کار ګمارنې ترڅنګ د کارکونکو د قانوني عمر درلودل ، هم ضروري او اړینه وه ځکه چې د ټاکنو په ورځ په ځینو سیمو کې ولیدل شول چې ځینو کارکونکو د قانوني عمر (۱۸ کالو) څښتن نه وو.

دغه راز ځینې کارکونکې له پوره سواد څخه برخمن نه وو. له ټاکنیزو قوانینو او کړنلارو څخه یې په سمه توګه خبرتیا نه درلوده او د بنیاد څارونکو هغو ته د ټاکنیزو لارښودونو او کړنلارو په رعایتولو او پلي کولو کې، لارښونه کړې اوکوله . کوم موارد چې بنیاد د ټاکنیزو کارکونکو د کړنو په اړه تر څیړنې نیولې په لاندې توګه دي.

### ۱. د رایه ورکونې له پیل تر مخه د خالي صندوقونو ښوونه.

درایه ورکونې له کړنلارې سره سم، درایه اخیستنې کارکونو دنده درلوده تر څو د رایه ورکونې له پیل تر مخه خالي صندوقونه څارونکو او د کاندیدانو استازو ته وربښکاره کړي تر څو ډاډمن شي چې صندوقونه خالي دي.

دراپوروونو له پایلو څخه څرګندیږي چې ډیریو کارکونکو دغه ټکې ته پام درلود او دغه اصل ته یې عملي بڼه ورکړې ده.



### 2. د ګوتې کنترول او رنګول:

بنیاد د غه مورد چې آیا کارکونکو د رایه ورکونکو د ګوتو په برخه کې چې ګینې تر مخه رنګ شوې نه وي، له پوره غورڅخه کاراخیسته اوکه نه ، تر څارنې او څیړنې نیولې. څکه دغې موضوع کولای شول د هغو کسانو له هڅې څخه چې د دویم او دریم ځل رایه ورکونې لپاره یې کوله، مخنیوي وکړي. د راپورونو له تحلیل او ارزونې څخه داسې څرګندیږي چې په څارل شویو مرکزونو کې ۸۱ ٪ کارکونکو دغه ټکې ته پاملرنه کوله ولې په پاتې مرکزونو کې ددغه ټکې په عملي کولو کې، غورنه کېده . څکه لیدل شوي چې رنګ په ځینو سیمو کې پاکېده چې په دې برخه کې مهمه ستونزه داوه چې ځینو رایه ورکونکو خپلې ګوتې غوړولې پرته له دې چې د مسوول کارکونکې له خوا پاکې شي.




### 3. د رایه ورکونکو د نوم لیکنې د کارتونو کنترول:

بنیاد دغه موضوع چې آیا کارکونکو د خپلو دندو په ترسره کولو کې لاندې موردونو ته پاملرنه کوله او که نه، تر څیړنې لاندې نیولې ده:

- دا چې د نوم لیکنې کارت د هغه پر درلودنکي پورې اړه لري.
- دا چې د نوم لیکنې کارت پر هغه ولایت چې د غه مرکز په کې موقعیت لري، تړاو لري .
- دا چې د نوم لیکنې کارت جعلي نه وي.
- دا چې رایه ورکونکي د رایه ورکونې لپاره قانوني عمر لري.
- د کوچیانو رایه ورکونه پردوي پورې په نااړونده محلونو کې او د غیر کوچیانو رایه ورکونه په کوچیانو پورې اړونده محلونو کې.
- دا چې کارت تر مخه په خپل ځانګړي سیمه کې ( د کارت په لاندني سیمه کې کېنې خوا ته ) ، سوري شوي نه وي.

د راپورونو له تحلیل او څیړنې څخه څرګندیږي چې په څارل شویو مرکزونو کې کارکونکو ، پورتنیو یادو شویو ټکو ته پاملرنه کوله ولې سره له دې بیا هم ځینې موردونه لیدل شوي لکه :

- د هیواد په ځینو سیمو کې جعلي او تقلبي د نوم لیکنې کارتونه لیدل شوي د بیلګې په توګه د زابل ، بغلان، او پکتیکا په ولایتونو کې.
- په ځینو سیمو کې لیدل شوي چې د نوم لیکنې په کارتونو کې د یوه ولایت نوم پاک شوي او د هغه پر ځاي د هغه ولایت نوم چې رایه ورکونه په کې ترسره کېږي، په جعلي ډول ، لیکل شوي دي.
- همدارنګه په ځینو سیمو کې پر کوچیانو پورې اړوند محلونه نه وو او کوچیانو ته اجازه ورکړل شوې تر څو پر دوي پورې په نا اړوندو محلونو کې غیر کوچې کاندیدانو ته رایه ورکړي.
- دغه راز ځینې موردونه لیدل شوي چې په هغه کې ځینو کسانو د خپلې کورنې د غړو او نورو خپلوانو له کارتونو څخه په ګټه اخیستنه په ځانګړې توګه د ښځو په استازیتوب د ټاکنو د مستقیم اصل سره په ټکر کې رایې کارولي آن دا چې ځینو کسانو په یوائې سر اجازه ترلاسه کړې تر څو د یو شمیر  نوم لیکنې د کارتونو په  در لودو سره ، زیاتې راي پاڼې ترلاسه کړي او په صندوق کې یې واچوي.



په عکس کښې لیدل کېږي چې د هویت د تثبیت  مامور په وړاندې، یو شمیر د نوم لیکنې کارتونه چې د یوه تن رایه ورکونکې له خوا راوړل شوي، په شمیرنې نیول شوي تر څو په هماغه شمیر راي پاڼې لاس ته رواړې



په عکس کښي یو تن رایه ورکونکې توانیدلی تر څو یو شمیر راي پاڼې لاس ته راوړي او په صندوق کښي یي واچوی.



په دغه عکس کښې هم یو تن رایه ورکونکې یو شمیر راي پاڼې لاس ته راوړی او د بنیاد د څارونکو لخوا د عکا سی په حال کښې ده.

• دغه راز د قانون حکم او شرط چې باید رایه ورکونکي د ۱۸ کلونو عمر خاوند وي، هم په ځینو سیمو کې ترپښنو لاندې غورځول شوې او کوچنیانو اجازه ترلاسه کړې تر څو د نوم لیکنې کارتونه لاس ته راوړي او د ټاکنو په ورځ خپله رایه وکاروي.



لیدل کیږي چې یو تن ماشوم د بنیاد له څارونکې سره د خپل کارت د ښودلو په وخت کې عکاسي شوي دي.



په عکس کښې لیدل کیږي چې یو کوچنی د خپل کارت د سریال نمبر د ثبتولو په حال کی ده تر څو راي پاڼی لاس ته راوړي.

• د ټاکنو په ورځ لیدل شوي چې د ځینو نارینه ؤ رایه ورکونکو کارتونو ، عکس نه درلود ولې اجازه یې ترلاسه کړې تر څو خپله رایه وکاروي. حال دا چې دغه مورد په استثنایي ډول یوائې د هغو ښځو لپاره چې یې نه غو ښتل خپل عکس واخلي، د اجرا وړ وو. مګر ولېدل شو چې دغه مورد دځینې نارینه ؤ په وړاندې هم ، عملي شو.




په عکس کښی د یوه تن نارینه رایه ورکونکې بی عکسه کارت لید ل کیږی. چې هغه توانیدلی په ډیری آسانی خپله رایه وکاروي.

پورتنیو موردونه ته د کارکونکو د پاملرنې او غور په اړه باید ووایو چې ډیرو کارکونکو د غو ټکو ته پام درلود. مګر یو شمیر کارکونکو بیا د غو ټکو ته پاملرنه نه کوله. د راپورونو له پایلو څخه څرګندیږي چې

۷۹% کارکونکو په دغو مسئلو کې له غور او پاملرنې څخه کار اخیسته ولې پاتې فیصدي د کارکونکو نه رعایت او یا نا سم رعایت په دي اړه ښیي.




**4. د دندې په ترسره کولو کې د کارکونکو لخوا د ناپیلتوب او بې پرې توب د اصل رعایت:**

د ټاکنو په بهیر کې د کارکونکو لخوا د بې پرې توب او ناپیلتوب د اصل رعایت یو له هغو مهمو او اړینو ځانګرتیاوو څخه ده چې د ټاکنو قانون ورته په ښکاره توګه اشاره کړې او د ټاکنو دارالانشایې د ناپیلو او بې پرو کارکونکو پر ګمارلو، مکلفه کړې ده .

دا چې د ټاکنو دفتر تر کومه حده د دغسې کارکونکو په ګمارلو توانیدلې او بیا کارکونکي تر کومه حده خپلې دندې په بې پرې توګه، پر مخ بیولې، دا هغه موضوعات دي چې بنیاد ترڅارنې او څیړنې لاندې نیولې دي.

د بې پرې توب د اصل رعایت د ټاکنیزو کارکونکو لخوا په هغو مرکزونو کې چې د بنیاد لخوا څارل شوي ۲۳% څرګندوي.




کارکونکو لخوا د بې پې توب د اصل ماتول په بیلا بیلو ډولونو ده، څرنګه چې هغو په ځینو مرکزونو کې په ځانګړې توګه په ښځینه محلونو کې درایه ورکونکو له بیسوادي او د هغوي په وړاندې درای پاڼو له

ستونزمن جوړښت څخه د خپل پلوي کانديد په ګټه، کار اخيستي ده، په ځينو مرکزونو کې هغو په کمپاينونو لاس پورې کړي او رايه ورکونکي يې څرګندې رايه ورکونې ته رابللي دي. آن دا چې په ځينو محلونو کې خپلو کارمندانو او ياو نوروته د زمينې په برابرونه ، د راي پاڼو بنډلونه د يوه کانديد په ګټه په صندوقونو کې اچول شوي چې نښې او پايلې يې د رايي شميرنې په بهير کې څرګندې شوې.

## د رايې ورکونې په بهير کې د کمپاينونو شتون:

د ټاکنو په ورځ څرګندو کانديدانو ته په رايه ورکونه د رايه ورکونکو هڅونه او د کمپاينونو ترسره کونه، هغه موضوع ده چې بنياد د نورو موردنو تر څنګ، څارلې. ځکه د ټاکنو له قانون سره سم د سيالیو دوره ۴۸ ساعته د ټاکنو له ورځې تر مخه پاي ته رسيد اود داسې خپرونو ترسره کونه وروسته د خپلې رسمي دورې له پاي ته رسيدو څخه ، ټاکنيزه سرغړونه بلل کېدله.
ولې د ټاکنو په ورځ ليدل شوې چې ځينو کانديدانو او د هغو استازو او په ځينو مرکزونو کې ددوي برسيره ځينو کارکونکو او پولېسو هم ددغسې خپرونو په ترسره کونه کې ، ونډه لوبولې.

آن دا چې ليدل شوې چې د ټاکنو په ورځ يو تن کانديد د کابل په ښڅو کې د لوډسپيکر په واسطه، خلک خپل ځان ته په رايه ورکونه رابلل. خو څوک نه وو چې هغه تر قانوني پوښتنې لاندې ونيسي او د هغه خنډو ګرځي.

د ځينو مرکزونو په شاوخواکې، رايه ورکونکو ته د کانديدانو د پلو يانو لخوا د کانديدانو د عکسونو او پوسترونو ويشنه او څرګندو کانديدانو ته په رايه ورکونه درايه ورکونکو هڅونه، د مرکزونو په شاوخوا کې د ځينو کانديدانوحضور اوشتون ، هغه موردونه وو چې د ټاکنو په ورځ د بنياد د څارونکو لخوا ليدل شوي دي. دراپوړونو له پايلو څخه څرګنديږي چې دغه قانوني سرغړونه د ټاکنو په ورځ ۳۷٪ څرګندوي .




په دې اړه د يادولو وړ ده چې د ټاکنو د دفتر د ۵۴-۲۰۰۵ ګڼې پريکړې په اساس، کانديدانو اجازه نه درلوده تر څو کورونو او مرکزونو ته د رايه ورکونکو د ليږدونې او راليږدونې په برخه کې او دې ته ورته نورې آسانتياوې، برابرې کړي. ولې ځينو کانديدانو له دغې پريکړې څخه سرغړونه کړې او د ټاکنو په ورځ يې ورته پاملرنه نه ده کړې. چې دغه مورد هم درايه ورکونکو په رايه ټولونه کې ډيرا غيز من وو.

همدارنګه د کاندیدانو د پوسترونو اوعکسونو ځړول او خپرول هم له هغو موردونو څخه وو چې بنیاد څارلي. څرنګه چې د ټاکنو د قانون له ۴۳ مادې سره سم د ټاکنو دفتر واک درلود تر څو د رایه ورکونې د مرکزونو له ۱۰۰ متري څخه د کاندیدانو د عکسونو او اعلانونو د لیرې کولو امر صادر کړي. خو د ټاکنو په ورځ ولېدل شول چې دغه عکسونه او پوسترونه د رایه ورکونې د مرکزونو په څنګونو او شاوخوا کې آن دا چې په دروازو باندې هم ځړول شوي وو.



د کندهار ولایت د ډند ولسوالۍ د کرز په ښوونځی کې د میشت مرکز په دروازی باندي د کاندیدانو د عکسونو او پوسترونو، لېدل

د راپوررونو له تحلیل او ارزونې څخه څرګندېږي چې د کاندیدانو د عکسونو او اعلانونو شتون د مرکزونو په ۱۰۰ متري کې ۳۰٪ ښکاروي.




## ګواښونې:

د ټاکنو په ورځ، بنیاد د غیرقانوني کمپاینونو تر څنګ د رایه ورکونکو د ګواښونې موضوع هم ، څارلې ده. تر څو معلومه کړي چې رایه ورکونکو وکړای شول په آزاده توګه خپله رایه وکاروي. البته د یادولو وړ ده چې بنیاد د ګواښونې مورد په دوو جلا جلا برخو کې ( ګواښونه څرګندو کاندیدانو ته په رایه ورکونه او ګواښونه په پروسه کې د نه ګډون لپاره). باید ووایو چې د ټاکنو په ورځ په ځینو سیمو کې، رایه ورکونکې، څرګندو کاندیدانو ته په رایه ورکونه، ګواښول شوي دي. ګواښونې په ځینو موردونو کې د خپلو کاندیدانو، د کاندیدانو د استازو او پلویانو لخوا او په ځینې موردونو کې د پولیسو لخوا، ثبت شوي دي.
د راپوررونو له تحلیل او ارزونې څخه ښکارېږي چې نوموړي مورد ټیټه فیصدي (۱۰٪) جوړوي.




همدارنګه بنياد د ټاکنو په ورځ له يو لړ ښځينه او نارينه رايه ورکونکو سره د ګواښونو او تطميع په اړه مرکې ترسره کړې چې يو شمير ښځو د خپلو مرکو په ترځ کې ځارونکو ته د ګواښ په اړه يو لړ څرګندونې کړې او ويلي دي چې دوی د خپلو ميړونو او د کورني د نورو غړو لخوا ځرګندو کانديدانو ته په اجباري ډول په رايه ورکونه، ګواښول شوي دي.

او دګواښ د دويم مورد تحليل ( درايه ورکوني په پروسه کې دنه ګډون) په اړه بايد ووايو اګر که د ټاکنو په ورځ د مرکزونو په شاوخوا کې داسې کوم څرګند مورد په مستقيم ډول ندي ليدل شوي. مګر سره له دې بيا هم د ټاکنو د قانون له حکم سره په ټکر کې چې د ټاکنو په ورځ يې د مرکزونو په ۵۰۰ متري کې دوسلې او يا د هر هغې وسيلې چې د وسلې په توګه کارېدلي شي پر ګرځونه اوراګرځوني بنديځ لګولې .خو له امنيتي پولېسو پرته نوروسلوال کسان ليدل شوي آن دا چې د ټاکنو د بهير له ماتې سره د مخامخ کولو په خاطر، هڅې تر سره شوي چې په ځينو سيمو کې راکټونه هم وتوغول شول او په ځينو سيمو کې ماينونه د رايه ورکونکودلارو پرسر، کېښودل شول.






په عکسونو کې ليدل کېږی چې پولېس توانيدلی تر څو هغه ماين چې د رايه ورکونکو د کورونو او درايي ورکونی د مرکز په لاره کې د نا څرګندو اشخاصو لخوا کېښودل شوي تر څو د ټاکنو بهير له ماتی سره مخامخ کړي.

## د رایې ورکونې پروسې د پای له مرحلې څخه د اړوندو مسئلو څېړنه:

**۱. په ټاکلي وخت سره ( د مازدیګر پر ۴ بجو) د پروسې له پای موندلو څخه څېړنه:**

بنیاد په خپلو څارنو کې دغه موضوع چې آیا د رایه ورکونې مرکزونه او محلونه د مازدیګر پر ۴ بجو یا له دغه وخت څخه تر مخه او یا وروسته تړل کیږي، هم څارلې ده.

د راپورونو له څیړنې او ارزونې څخه داسې څرګندیږي چې په ۸۷ ٪ مرکزونو او محلونو کې د رایه ورکونې بهیر په خپل ټاکلي وخت سره پای موندلي دي .




اما په پاتې مرکزونو کې، پروسه د لاندنیو علتونو پر بنسټ، له خپل ټاکلي وخت څخه د باندې تړل شوي دي:

- درایه ورکونې لپاره په کتارونو کې درایه ورکونکو شتون تر مخه له ۴ بجو.
- پرته د رایه ورکونکو له شتون څخه مرکزونه په پرانیستلي توګه ساتل.
- تر مخه له ټاکلي وخت څخه د مرکزونو تړنه




**2. په دغه مرحله کې د ټاکنیزو کارکونکو له کاري کړنو څخه څیړنې:**

د رایه ورکونې پروسې په پای کې له کرنلارۍ سره سم ، ټاکنیزو کارکونکو دنده درلوده تر څو د ټاکنیزو حساسو توکو په راټولونه اوسمونه، لاس پورې کړي تر څو د رایې شمیرنې مرکز ته د لیږدونې په منظور تیار شي.

دا چې د رایه ورکونې د مرکزونو آمرینو د ټاکنیزو کړنلارو او کړندودونو سره سم په خپلو کړنو کې تر کومه حده بریالي وو ، هغه موضوع ده چې بنیاد تر خپلې څارنې او څېړنې لاندې نیولې ده.

❖ **له عمومي ژورنال سره د ټاکنیزو توکو سمون .**

لمړي تر هر څه د ټاکنیزو توکو راټولونه او له ژورنال سره د هغو د مطابقت په اړه، چې په دې مرحله کې یوله هغومهمو دندوڅخه چې پرآمرینو پورې یې تړاو درلود ، شمیرله کیږي، تر څیړنې لاندې نیسو.

ټاکنیز توکي په دوو برخو ویشل کیږي :

- حساس توکي: لکه راي پاڼې، نه کارول شوې صندقونه اومهرونه ، درایه ورکونې د محل ټاپه، ضایع شوې لرې اچول شوې او درایه پاڼو کوندې، د نیوکو او شکایتونو صندوقونه ، درایه ورکونې د مرکز ژورنال، د راپور فورمې او .............

- او غیر حساس توکي : چې په قرطاسیوي او لوژستیکي توکو پورې تړاو لري.

د څارنې اصلي موخه له حساسو توکو څخه ده. د مرکزونو آمرین د توکو په راټولونه او د ژورنال سره د هغو په مطابقت ورکونه کې ، تر ډیره حده بریالي وو. دا بریالیتوب په دې کې وو چې باید د ټاکنو د ورځې په اوږدو کې ټولې هغه کړنې چې ترسره کیدلې ، په ژورنال کې درج شوې واي. خو په ځینو مرکزونو کې، آمرین د دغو ټکو عملي کولو ته دومره پاملرنه نه کوله او دپروسې په پاي کې یې د مطابقت په وخت کې له ځینو ستونزو سره مخ شوې دي. ددغو ستونزو اصلي لامل د آمرینو ناسمه خبرتیا او پوهاوي د خپلو دندو په ترسره کونه او د پروسې په اړه وو. دغه ستونزې شاملیدلې دکارول شویو راي پاڼو د شمیر او په هماغه محل کې د رایه ورکونکو د شمیرې تر منځ د توپیرونو پر شتون او یا نور هغه موردونه چې د ورځې په اوږدو کې په ژورنال کې درج شوي نه وي. خو د محاسبې او شمیرنې په وخت کې یې، ستونزې منځ ته راوړې دي. په دې اړه د بیلګې په توګه باید ووایو چې په ۱۱ % څارل شویو مرکزونو کې د رایه ورکونکو د شمیرنې او د کارول شویو راي پاڼو د شمیرې تر منځ توپیر موجود وو.



**❖ د شمیرنې مرکزونو ته د توکو او صندوقونو لیږدونه:**

یو بل مورد چې په دغه مرحله کې له ځانګړي اهمیت څخه برخمن وو، د توکو او صندوقونه لیږدونه درایې شمیرنې مرکزونو ته وه. ځکه چې په ټاکنو پورې اړوندو کړنلارو کې راغلي چې وروسته درایه ورکونې له پای څخه، ټاکنیز توکي او صندوقونه باید د شمیرنې مرکزونو ته ولیږدول شي او ځارونکو او د کاندیدانو استازو ته اجازه ورکړل شوې وه تر څو د توکو او صندوقونه لیږدونه تر خپلې ځارنې لاندې ونیسي او ډاډ یزه کړي چې په توکو او صندوقونو کې لاسوهنه او درغلي صورت ندي موندلي. مګر د پروسې له پای څخه وروسته، توکي او صندوقونه اکثراً د شمیرنې مرکزونو ته ونه لیږدول شول آن دا چې په ښارونو او نږدې پرتو سیمو کې چې د لیږدولو امکان یې د شمیرنې مرکزونو ته ډیر وو. یو برخه توکي او صندوقونه په مرکزونو او محلونو کې پاتې شول او پاتې برخه یې د ولسوالیو مرکزونو او ټولنځایونو ته ولیږدول شول. په ځینې سیمو کې، ځارونکو او استازوته اجازه ورکړل شوه تر څو له توکو او صندوقونو سره پاتې شي مګر په ځینو سیمو کې دوي ته آن دا چې دلیږدونې په وخت کې د ملتیا اجازه هم ورنکړل شوه. حال دا چې په ټاکنیزو کړنلارو او د ټاکنو د دفتر په پریکړو کې پرته د شمیرنې له مرکزونو څخه بلې سیمې ته د توکو او د صندوقونو د لیږدونې په هکله کومه یادونه نده شوې.

اګر که بنیاد په خپل ځارل شویو سیمو کې **۲۵**% د ټاکنیزو توکو او صندوقونو د لیږدونې بهیر تر ټولنځایونو او د ولسوالیو تر مرکزونو، ځارلي خو دا امر ددې سبب شوي چې یوه برخه توکي او صندوقونه له ځارنې څخه پاتې شي او یا خو په دې لاره کې ځینې ستونزې رامنځ ته کړي.

باید ووایو چې د لیږدونې بهیر ددې لامل شو تر څو درایې شمیرنې په پروسه کې ډیرې ستونزې راولاړې کړي. له یوې خوا ډیر صندوقونه قرنطین شي ځکه چې دې ته لاره برابره شوه تر څو په ځینې صندوقونو کې درغلي او لاسوهنې وشي، مهرونه مات شي او په همدې توګه نور موردونه چې د صندوقونو په قرنطینولو کې یې ونډه درلوده.

یو مثال موجودده، کله چې ټاکنیز توکي او صندوقونه د کابل ولایت په یوه ولسوالي کې ځای پرځای شول، اړوند یو تن چارواکي چې په صندوقونو کې یې لاسوهنه کوله د بنیاد د ځارونکو لخوا عملاً ولیدل شو. کله چې پو ښتنه تر ځینې وشوه چې څه کوې؟ په ځواب کې یې وویل: راي پاڼې په ترتیب جوړوم.

باید ووایو د ټاکنیزو توکو او صندوقونو له لیږدونې څخه ځارنه او ملتیا د ځارونکو او استازو لخوا په ځارل شویو مرکزونو کې **۴۳**% ښودل شو ي ده.



همدارنګه د توکو د ډاډ منې لیږدوني لپاره اړینه وه تر څو د لیږدوني په وسیلو کې د توکو او صندوقونو له ځای پر ځای کولو وروسته ، چاته معطلي او ځنډ صورت نه وي موندلي ځکه چې په دغسې ملي پروسو کې هره شیبه له فرصتونو څخه په ګټه اخیستنه د خطرونو دپیښیدلو امکان د پروسې تر پوښتنې لاندې تللو په خاطر، موجودې وي. په ځانګړې ډول د لیږدوني په وخت کې . بنیاد دغه مورد چې آیا د لیږدوني په و سیلو کې د توکو له ځای پر ځای کیدو وروسته د چارواکو لخوا ځنډ او معطلي ترسره شوي او که نه، تر څیړنې لاندې نیولي چې په څارل شویو مرکزونو کې ۲۷ % دغه مورد عملي بڼه موندلې ده.




### ټاکنیزو نیوکو او اعتراضونه ته رسیدنې د څرګنوالي په اړه د بنیاد څیړنې:

بنیاد په دغو ټاکنو کې د ټاکنیزو نیوکو د اوریدلو د کمیسیون شتون چې وروسته د ولسمشري له ټاکنو څخه خپله ، ټاکنیزو اعتراضونو او نیوکو ته د رسیدنې او څیړنې په خاطر د یوه خپلواک نهاد د جوړیدو غوښتونکي او وړاندیز کونکي وو. یو مثبت ګام بولي.

که څه هم بنیاد ونشو کولای چې له نږدې څخه ددغه کمیسیون کړنې (ټاکنیزو اعتراضونو او نیوکو ته د څیړنې او رسیدنې څرنګوالي) تر خپلې څارنې لاندې ونیسي، خو په ټولیزه توګه د هغو کړنې په دغه بهیر کې اغیز ناکې او د اهمیت وړبولي.

بنیاد په دې هکله کومې څیړنې چې کړي، ځینې موردونه یې موندلي چې لاندې ورته اشاره کیږي.

- قضایاوته د رسیدنې په خاطر، په هیواد کې د شفافه اداري او قضایي میکانیزم نشتوالی، ځکه چې اکثراً دغه کمیسیون ته وړاندې شوې نیوکې او اعتراضونه د هغه نوماندانو په اړه وې کوم چې په بشري ضد جرمونو او جنایاتو تورن وو. مګر کمیسیون د سندونو د نشتوالي له امله کوم چې د قانوني حکم پر صادریدو دلالت وکړي، ستونزه درلوده او دغسې قضایاوو د هغو د رسیدنې ځنډ ګرځیده.

- کومو ولایتي کمیسیونونو چې په ولایتونو کې یې فعالیت درلود ، هغو هم د ټاکنو کمیسیون ته اوهم د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته، مسوولیت درلود. چې دغسې تشکیلاتي جوړښت هم ټاکنیزو شکایتونو او نیوکو ته د رسیدنې په خاطر اغیزناک نه وو.
- دهیواد په ډیرو پرتو سیمو کې ددغسې نهاد او د هغه د دندوپه اړه، عامه خبرتیا ، موجوده نه وه.

• له بلې خوا دغه کميسيون د خپلو دندو په ترسره کولو کې دوخت او کاري مودې له کمښت سره مخامخ وو.

• د جوړوشويو فورمو د ډکولو او بشپړولو په برخه کې، ډيرو خلکو نشو کولای چې دغه فورمې په بشپړه توګه، ډکې کړي. چې دغه ستونزه ددې لامل ګرځيده تر څو کميسيون د خپلو دندو په ترسره کونه کې د نابشپړو معلوماتو او مدرکونو پر بنسټ له ستونزو سره مخ او پاتې راشي.

بايد ووايو چې د بنياد مرکزي دفتر هم ځينې ټاکنيزې نيوکې لاسته راوړي او هغه يې د څيړنې او رسيدنې په خاطر د شکايتونو کميسيون ته په رسمي ډول ورليږلي دي. چې دغه شکايتونه په دغو مواردو کې وو:

۱. د کابل د چنداولو په سيمه کې د يوه تن کانديد په کور کې.د نوم ليکنې د مرکز موقعيت .

۲. د لوګر ولايت دڅرخ له ولسوالي څخه د يوه تن کانديد شکايت درايې شميرنې په پروسه کې د ځرګند کانديد په ګټه د يوه تن کارونکي د فعاليتونو د ترسره کونې په هکله.

۳. له ارزګان ولايت څخه د يوې ډلې کانديدانو شکايت درايه وکورنې له بهير څخه د ۲۲۰۰۰ تنو رايه ورکونکو محروميدل او د ټاکنو په بهير کې پرته له استعفا څخه د خاص ارزګان د ولسوال برخه اخيستنه د کانديد په توګه .

۴. د خوست له ولايت څخه د يوې ډلې کانديدانو شکايت ، درايه ورکونې په بهير کې د يو شمير رايه ورکونکو د نه ګډون په اړه.

۵. د سمنګانو له ولايت څخه د يوې ډلې کانديدانو شکايت د يوه ګوند لخوا څخه د ځرګند کانديد په پلوي د ځينو درغليو په لار اچول او همدارنګه د يوه کانديد د يوه پلوي پرعزت او ناموس باندې د بل کانديد د پلويانو او قوماندانانو لخوا د جنسي تيري ترسره کول.

۶. د ميدان وردکو له ولايت څخه، ځرګند کانديد ته په پلوي درايه ورکونې په پروسه کې د ځينو کارکونکو د کړنو په اړه د يوه تن کانديد شکايت.

**ب ــ درایې شمیرنې له پروسې څخه څېړنې:**
دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د څارنیزې خپرونې په دوام، بنیاد وروسته درایه ورکونې د بهیر له څارنې ، د خپل پلان موخه د رایې شمیرنې له بهیر څخه، څارنې ته وا ړوه تر څو وموميې چې دغه پروسه څومره پر قانون ولاړه او له روڼتیا څخه برخمنه ده.
بنیاد له دغې مرحلې څخه د خپل څارنې په ترڅ کې ځینې ټکي او موردونه وموندل چې له وخت سره سم یې دټاکنو د دفتر له مرکزي او ولایتي چارواکو سره شریک او د غو موردونو ته یې د شفافې او قانوني رسیدنې غوښتنه وکړه او په دې توګه یې خپله ونډه د ملي او بې پرې څارونکي په توګه سرته ورسوله .
د بنیاد څارنه د نوموړې پروسې ټولې مرحلې په برکې درلودې چې په بشپړه ډول د هیواد په ټولو ولایتونو کې ترسره شوه.
د شمیرنې پروسه له دې کبله چې د ټاکنیزو څوکیو په لاس ته راوړنه کې د کاندیدانو د سیاسي برخلیک ټاکونکي وه، دې ته اړینه وه چې له پوره روښانتیا او ډاډمنتیا څخه برخمنده وي او د آزادو او عادلانه ټاکنو له اصولو او معیارونو سره سمه پرمخ ولاړه شي تر څو د ټاکنو د پروسې مشروعیت او قانونیت تر پوښتنې لاندې رانشي. دغه مرحله چې د رایه ورکونې له بهیر څخه وروسته پیل شوه. د بیلابیلو پړاوونه درلودونکې وه چې بیاهرې مرحلې ځانته بیلا بیل موردونه درلودل .
بنیاد له دغې مرحلې څخه په څارنه کې وموندل چې دغه پروسه سره له دې چې له ډیروبریاوو سره مل وه، خو ځینې سرغړونې او ستونزې یې هم له ځانه سره درلودې او دغه ستونزې د دې لامل شوې تر څو د ځینو کاندیدانو غږ پورته شي. مګر په ټولیزه توګه ویلاي شو چې دغه پروسه د کاندیدانو او د هغو د استازیو او همدارنګه د نورو کورنیو او نړیوالو څارونکو په وړاندې ترسره شوه چې ډیر موردونه ددوي لخوا لیدل شوي او د شکایتونو کمیسیون او پر هغه پورې نورو اړوندو مراجعوته، د رسیدنې او څیړنې په منظور وړاندې شوي.
اوس د دغو موردونو په تحلیل او ارزونه لاس پورې کوو کوم چې په دغه پروسه کې د بنیاد د څارونکو لخوا لیدل شوي دي:

❖ **درایې شمیرنې مرکزونو د فزیکي جوړښت او کورني وضعیت له څرنګوالي څخه څېړنې:**
درایې شمیرنې مرکزونو چې په دغو ټاکنو کې د ۳۴ مرکزونو په درلودو سره د هیواد په ۳۲ ولایتونو کې فعالیت درلود، له ښه فزیکي جوړښت څخه برخمن وو او د بیلا بیلو مرحلو د پلي کولو پخاطر د کړنلارې سره سم ځانګړې سیمې د توکو د زیرمتون لپاره، د شمیرنې واحدونوته ، دشمیرنې په اړوند دبهرنیوچارو د اړیکوټینګولو دځانګې لپاره او نورې ځانګړې سیمې په پام کې نیول شوې وې. چې دغه امر ددغې پروسې د بیلا بیلو مرحلو په منظمه او شفافه پلي کیدو کې ستره ونډه درلوده. مګر په دې اړه د څو موردو یادونه چې ډیرې پاملرنې او غور ته یې اړه درلوده ضروري ده. چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:
• د کنړ او نورستان د ولایتونو مرکزونه چې د ننګرهار په ولایت کې یې موقعیت درلود، په داسې توګه یې فعالیت درلود چې ددرې ګونو ولایتونو مرکزونه د یو بل په څنګ کې پراته وه او ددغو مرکزونو تر منځ

بیلتون اوځانګړتیا د یوه پړي په ذریعه شوي وو چې د درغلیو د پیښیدلو امکان لکه له یوه ولایت څخه بل ولایت ته دراي پاڼو د لیږدونې په برخه کې او یا د ې ته ورته د نور موردونو ترسره کیدنه ، ممکنه وه. که څه هم داسې کوم مورد لیدل شوي نه دې خو لرې له امکان څخه هم نه وه.

- په یو لړ مرکزونو کې د ځینو واحدونو میزونو په داسې توګه کینښودل شوي وو چې د هغو له فعالیتونو او کړنو څخه د څارنې امکان ډیر لږ لیدل کیده او د څارونکو لپاره ځاي ټاکل شوي نه وو.
- باید ووایو چې په ځینو مرکزونو کې مدیریتي ستونزې هم لیدل شوې چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:
  - په رسمي او کاري وخت کې د ځینو واحدونو لیدل کیدل چې په نه بوختیا او بیکاره ګي سره یې خپل وخت تیراوه.



په رسمی وخت کښی لیدل کیږی چې کارکونکي د دندې په نه ترسره کولو سره د آرامتیا په حالت کي دې.

  - د آمرینو او چارواکو لخوا په ځینو مرکزونو کې د کارکونکو له کړنو اوفعالیتونو څخه ناسم کنترول اوسمبالتیا .
  - د شمیرنې په مرکزونو کې کارکونکي مکلف وو تر څو د کارکونکو په اړه ټاکل شوې تګلاره او د شمیرنې کړنلاره، رعایت کړي. په دغې کړنلاره کې په څرګند ډول راغلي وو چې کارکونکي باید ددندو د ترسره کیدو په حالت کې، ځانګړي واسکټونه په ځان کې ولري او خپل کارت په څرګند او ښکارنده ځاي کې و ځړوي . خو ولیدل شول چې په ځینو مرکزونو کې یو شمیر کارکونکو دغه ټکي ته پاملرنه نه کوله او د هغو توپیر له نورو کسانو سره نه کیده.



په عکس کښی هغه کارکونکي لیدل کیږی چې پرته له څرکنده واسکټ او کارت، خپلي دندې ترسره کوي.

- لیدل شوي چې په ځینو مرکزونو کې یو شمیر کارکونکو له اخلاقي اصولو او ټولنیزو آدابو سره په ټکر کې د چارو دترسره کولو په وخت کې ناوړه لفظونه او کلمې، کارولې چې په داسې پروسه کې د یوه کارمند لپاره نه ښایدله تر څو داسې کلمې وکاروي. د ا عمل دنورو کارکونکوپه ځانګړې توګه دښځینه کارکونکو د ځوریدو لامل ګرځیده.
- د شمیرنې په مرکزونو کې د ګرځنده تیلیفونونو، بې له کوم قیدوشرط څخه ، آزاده کارول.

❖ د ټاکنیزو توکو او صندوقونو د موندلو او ترلاسه کولو د څرنګوالي څخه څیړنې:

دراېې شمیرنې په پروسه کې لومړنې مرحله د ټاکنیزو حساسو توکو او صندوقونو تسلیمول دراېې شمیرنې مرکزونو ته، وه او ټاکل شوې وه چې دغه مرحله درایه ورکونې د بهیر له پاې ته رسیدو وروسته پیل شوې وي.

- o ترکومه ځایه چې ولیدل شوه دغه مرحله د شمیرنې مرکزونو ته د توکو له اوږدمهالې لیږدونې او ستونزې سره مخ وه. که څه هم د ولسمشري د ټولټاکنو په پرتله په دې ټاکنو کې په دې اړه پوره آسانتیاوې په پام کې نیول شوې وې په ځانګړې ډول د مرکزونو په ځاي ویشنه کې چې د ولایتونو په مرکزونو کې په پام کي نیول شوي وو او هم د وړ اقلیم او هوا په لحاظ، ځکه چې د ولسمشري د ټولټاکنو پر مهال د هیواد مرکزي، شمال ختیځې او شمالي سیمې د واورې او باران ترسختو اورښتونو لاندې راغلې چې یو لړ ستونزې یې د توکو او صندوقونو د لیږدونې په برخه کې منځ ته راوړې. نو داځل یې دا ایجابوله چې توکي ډیر ژر مرکزونو ته رسیدلي واي. مګر څرنګه چې ولیدل شول د لیږدونې بهیر په ډیرو سیمو کې له دې وجهې چې توکي دراېې ورکونې له مرکزونو څخه ټولنځایونوته ولیږدول شول او یا درایه ورکونې په مرکزونو کې د توکو د پاېښت له امله ، له ځنډ سره مخ شوه . آن دا چې دغه ستونزه په ښارونو اود ولایتونو په مرکزونو کې هم چې دشمیرنې د مرکزونو په نږدې واټن کې پراته وو هم موجوده وه. د لیږدونې بهیر تر پنځو او شپږو ورځو پورې دوام کړې، آن دا چې په دې اړه یو مثال هم شته چې صندوقونه درایه ورکونې له یوه مرکز څخه تر پایه پورې د شمیرنې مرکز ته ،لیږدول شوي نه دي .
- o دویمه ستونزه چې دغه مرحله ورسره مخ وه درایه ورکونې د مرکزونو د آمرینو ناسم پوهاوي او خبرتیا د راپور د فورمو (p01) د ډکولو او بشپړولو په برخه کې وه . ځکه چې ولیدل شول چې د ځینو صندوقونو نمبرونه له کومو شمیرو سره چې په راپورونو کې لیکل شوې وې، په توپیر کې وې او یا د شمیر او کمیت پر لحاظ یې توپیردرلود چې دا امرددې لامل ګرځیده تر څو په دویم ځل اصلاح او تر څیړنې لاندې ونیول شي او یا قرنطین ته وسپارل شي.
- o همدارنګه ولیدل شول چې د ځینو صندوقونو مهرولاکونه مات شوي وو آن دا چې ولیدل شول چې ځینې صندوقونه هم مات شوي او یا خو مات کړل شوي وو.

**❖ په ټاکلي رسمي وخت کې د پروسې د ورځينيزوچارود ترسره کيدو له څرنګوالي څخه څيړنې:**

يو له هغو نورو مسئلو چې بنياد تر خپلې څارنې لاندې درلود ، د شميرنې په مرکزونو کې د کاري بهير د رسمې پيل او پاي موضوع وه. د شميرنې له کړنلارې سره سم ټاکل شوې وه تر څو کاري بهير د سهار پر شپږو بجو پيل او د ماښام په اتو بجو پاي ومومي چې دغه موده هم په کيفي لحاظ او هم د چټکتيا پر لحاظ، د کاري کړنو لپاره، له پوره وړتيا څخه برخمنه وه. که څه هم دغه اصل په لومړيو ورځو کې عملي بڼه درلوده. خو ځينې سيمه ئيزوچارواکو ددې لپاره چې د شميرنې بهير ته چټکتيا وربه برخه کړي ، پرته له دې چې کيفي لحاظ ته يې هم پاملرنه وکړي، دغه بهيريې په اجاره يې ډول اعلان کړ او هر هغه واحد چې ۲۰۰۰ او يا ۲۵۰۰ راي پاڼې شميرلې، خپل ورځنيز کاري بهير ته يې د پاي ټکي کيښود او خپلو کورونو ته تلل چې سباته يې د چارواکو لخوا ستايل کيدل.

په دې اړه بايد ووايو چې وليدل شول ځينو کارکونکو دراي پاڼو دويشلو په برخه کې، اشتباه ګانې ترسره کولې. چې ستر عامل يې هماغه دکاري بهير اجاره يي بڼه وه.

همدارنګه په يو لړ نورو هغو مرکزونو کې چې هلته اجاره يي بڼه هم د اجرا وړنه وه، کاري سيستم له بڼه نظم او مديريت څخه برخمن نه وو، څرنګه چې ځيني واحدونه د خپلو چارو په ترسره کونې بوخت وو ولې ځيني نور يې د بيکاري په حالت کې خپله ورځ تيروله .کله چې په يوه مرکز کې له يوه واحد څخه پوښتنه وشوه چې تاسو ولې بيکاره ياستي . په ځواب کې يې سره وويل چې مونږ سوپروايزر (آمر) نه لرو او تر څو ورځو پورې هغوي د آمر د نه درلودو په علت ، بيکاره وو.

همدارنګه بايد ووايو چې په مرکزونو کې د کارکونکو ادلون بدلون، هم ورځينيزې چارې تر يوه او يا دوو ساعتو پورې له ځند سره مخامخ کوله.

**❖ د سپارل شويو دندو په ترسره کونه کې د کارکونکو د پوهاوي د کچې څيړنې:**

بنياد دغه موضوع په دوو لاندنيو عنوانو کې تر څيړنې لاندې نيولې ده :

- o د کارکونکو پوهاوي د دندو د ترسره کيدو په اړه .
- o او ددندو په ترسره کيدو کې د ناپيلتوب د اصل رعايت :

**۱. د کارکونکو پوهاوي ددندو د ترسره کيدو په اړه:**

دا چې کارکونکي د پلو قوانينو او کړنلارو په اړه څومره خبرتيا درلوده، بايد ووايو چې اکثراً کارکونکي پوه څرګندېدل او دخپلو دندو په ترسره کولو کې يې درايې شميرنې کړنلاره رعايت او پلي کوله . مګر سره له دې بيا هم ځينې کارکونکي ليدل کيدل چې د پوهاوي کچه يې ټيټه څرګنيدېدله. آن دا چې کولای شو ووايو شو چې د کړنلارو د پلي کيدو سيستم د يوه مرکز په واحدونو او له يوه مرکز څخه تر بل مرکزه په توپير کې وه .

د بيلګې په توګه په يوه مرکز کې هغه راي پاڼې چې په يوه نوم او يا په يوې مانا لرونکې کلمې په نښه شوې وي. تر شميرنې لاندې نيول کيدې خو دهماغه مرکز په بل واحد کې د اسې راي پاڼې باطلې شميرل کيدې.

همدارنګه ولیدل شول چې د ټاکنو وځني پایلې په ځینو مرکزونو کې یوه ورځ وروسته، په ځینو کې دوه او یا درې ورځې وروسته او په ځینو کې دورځې په پاې کې د اعلانونو پر تختې ځړیدلې او اعلانیدلې. اما مهمه داوه چې په ځینو مرکزونو کې د شمیرو تر منځ توپیرلیدل کیده، څرنګه چې د یو کاندید د ګټلو رایو شمیره د بیلګې په توګه که په فورم کې ۵ وې د اعلانونو په تخته کې ۲ او د انترنیټ په پاڼه کې ۴ لیدل کیدې.

له بلې خوا ولیدل شول چې ځینو کارکونکو له کړنلارې سره په ټکرکې ، مرکز ته ځینې پرځان پورې اړشیان لکه لاسې بکسونه، قلمونه، کتابچې ګرځنده تیلیفونونه او ....... له ځانه سره راوړل او څرنګه چې ولیدل شول په څو موردونو کې د څرګند و کاندېدانو په پلوي له دغو شیانو څخه ناوړه ګټه واخیستلې شوه او ځینې عاملین یې هم ونیول شول.

**۲. د کارکونکو لخوا د ناپیلتوب د اصل د رعایت په اړه څیړنې:**

څنګه چې ترمخه هم یادونه وشوه، یو له هغو غټو ستونزو چې د ټاکنو پروسه ورسره مخ وه، د ځینو کارکونکو او کاندېدانو تر منځ د اړیکو درلودل وو. چې دغه مسئله د شمیرنې په مرکزونو کې هم احساسیدله ،په ځینو مرکزونو کې لیدل شوي چې کارکونکي تر مخه د ټاکنیزو دندو په کار ګمارلو د یوه تن کاندېد د ټاکنیزو سیالیو د چلونکي په توګه دنده ترسره کوله . په ځینو مرکزونو کې لیدل شوي چې ځینې کارکونکي د آزاد او عادلانه ټاکنو د اصولو سره په ټکر کې له کاندېدانو او د هغو له استازو سره نیغ په نیغه تماس درلود ، کاندیدانوخپلې او د دخپل سیال درایو د شمیرنې ورځنې پایلې یې هر وخت لاس ته راوړې او کارکونکو د هغو معلوماتو په ورکولو چې د اداري جوړښت او مراتبو له مخې د لوړ پوړو آمرینو له واک څخه وه ، لاس پورې کړې . دغه امر دځینوستونزو د را پیداکیدو لامل هم شوه او ددې سبب شوه تر څو د پروسې شفافیت او مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. ځکه چې کاندېدانو ادعا درلوده کومې پایلې چې مونږ هغه د مرکز له دننه څخه لاس ته راوړو د هغو شمیرو سره کوم چې د اعلانونو پر تختې ځړول کیږي په توپیر کې یې، آن دا چې ټیټې ښودل کیږي.

- د شمیرنې په مرکزونو کې لیدل شوي چې ځینو کارکونکو د یوه کاندېد ، قانوني راي پاڼې د بل کاندېد په پلوي او ګټه کارولې او شمیرلې .



په عکس کی لیدل کیږی چی د ۵۰ شمیری کاندېد راي پاڼه ۴۹ شمیری کاندېد ته ایښودل شوي ده .

• په ځینې واحدونو کې لیدل شوي چې ځینو کارکونکو باطلې راي پاڼې د ځینو کاندېدانو په پلوي، کارولي .
• همدارنګه لیدل شوي چې ځینو کارکونکو سپینې قانوني راي پاڼې هم دځینو کاندېدانو په ګټه کارولې.
• په ځینو مرکزونو کې لیدل شوي چې ځینو کارکونکو په رایو پاڼو کې د څرګندو کاندېدانو د حقونو په ضایع کولو او باطلولو لاس پورې کړي. په دې ډول چې په پاڼو کې د یوې نښې په زیاتولو یې هغه باطلې اعلان کړي.
• لیدل شوي چې په ځینو مرکزونو او واحدونو کې د و احدونو آمرینو د څرګندو کاندېدانو په ګټه په فورمو کې د اخیستل شویو رایو د شمیرې پر ځاي ، پورته شمیره او برعکس د ځینو لپاره یې ټیټه شمیره لیکلې ده، باید ووایو چې دغه مورد د کاندېدانو د غبرګ په پورته کیدو کې ستره ونډه درلوده. دغه راز کله چې په یوه مرکز کې دغه مورد تررسیدنې لاندې راغي، چارواکو په پایله کې خپله لاسته راوړنه د هغه کارکونکي تیښته اعلان کړه کوم چې په دغه عمل یې لاس پورې کړي وو. همدارنګه په ځینو حالتونو کې هغه کارکونکي چې په لویو سرغړونو یې لاس پورې کاوه او ددوي سرغړونې د څارونکو او استازو لخوا ثابتیدلې، د چارواکو دریځ یواځې د سو تنو کارکونکو له کار څخه ګوښه کول وو. څرنګه چې دهغو دکاري دورې او تړون وروستي نیټه به وه.
• همدارنګه لیدل شوي چې ځینې کارکونکي پر ځاي ددې چې خپلې رسمي چارې پر مخ بوځي د خپلو پلویو کاندېدانو د رایو شمیرنو په اړه معلومات راټولول او هغه به یې ډیر ژر او هر وخت د تیلیفون له لارې هغو ته لیږدول.

### ❖ د هغو موردونو څیړنه کوم چې د شمیرنې په مرحله کې لیدل شوي دي:

• لکه څنګه چې بنیاد تر مخه له ټاکنوهم خپله اندېښنه د ټاکنو په اړه د رایه ورکونکو د ناسمې خبرتیا او پوهاوي په برخه کې څرګنده کړې وه او ویره یې درلوده چې په ډیر شمیر رایې به دشمیرنې په مرحله کې باطلې او یا خو د شکمنو پاڼو په قید کې راشي، چې دغه مسئله د شمیرنې په پروسه کې ډیر احساس شوه لکه څنګه چې یو شمیر پاڼې د سپینو پاڼو او یو شمیر پاڼې د باطلو پاڼو په جمع کې راغلې. له بلې خوا د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر د ۲۰۰۵-۵۷ پریکړې پر بنسټ، دارالانشا دنده درلوده تر څو د ټاکنو په ورځ د مړو شویو او د شکایاتونو د کمیسیون لخوا له واک څخه دلیرې شویو کاندېدانو لست درایه ورکونې په مرکزونو کې د خلکو د خبرتیا په خاطر وځړوي په ځانګړې ډول په هغو سیمو کې چې داسې کاندېدان په کې شتون درلود ، ولې څرنګه چې بنیاد د ټاکنو په ورځ هم اعلام کړه چې دغې پریکړې عملي بڼه ونه موندله او ممکن ډیرې رایې د غو کاندېدانو ته په ورکونه ، باطلې اعلان شي ، چې د شمیرنې په پروسه کې دغه مورد پوره روښانه او څرګند شو.

• د شمیرنې په کړنلاره او لارښود کې په روښانه توګه راغلي چې هرکله داسې پاڼې چې درایه ورکولو په غرفو کې له ایښودل شویو قلمونو او مارکرونو پرته په بل قلم او مارکر په نښه شوې وي او وموندل شي،

باطلې اعلانيږي. مګر څرنګه چې وليدل شول د شميرنې په مرحله کې داسې پاڼې وليدل شوې چې په عادي خودکار قلمونو او سرو مارکرونو په نښه شوې وې.

- دهغو راي پاڼو تر شميرنې لاندې راتلل کوم چې داريه ورکونې د محلونو لخوا ټاپه شوې نه وې او يا خو په داسې ټاپو په نښه شوي وې چې د کومې ځرګندې نښې او علامې درلودونکې نه وې .

- څرنګه چې درايه ورکونې د پروسې په تحليلي مبحث کې هم يادونه وشوه چې په ځينو سيمو کې د ښځينه رايه ورکونکو په محلونو کې ، کارکونکو له بيلابيلو وضعيتونوڅخه د څرګندو کاندېدانو په پلوي ناوړه ګټې اخيستې چې دغه امر د شميرنې په پروسه کې په پوره ډول ځرګند شو او هغه دا چې په ځينو هغو سيمو کې چې هلته د نارينه رايه ورکونکو شميره د ښځو په پرتله درې او يا څلور برابره وه خو بر عکسه ليدل شوي چې د ښځو شميره درې يا څلور برابره د نارينه ؤ ښودل شوي .
- دداسې صندوقونو موندنه او په هغه کې دېرتو ۲۷۰ رايو شميرنه،څرنګه چې رايې څرګندو کاندېدانو ته د انګريزي تورو په نښه کولو سره ورکړل شوې وې . دغه مورد د کاندېدانو د غړ پورته کيدو لامل هم وګرځيد مګر د چارواکو غبرګون داوو چې د ښنو تر منځ توپير شته او ټول توري يوشانته نه دي.

- د شميرنې په بهير کې ليدل شوي چې د صندوقونو له منځ څخه د نوم ليکنې کارت او د کيمياوي توکو پاکټونه ترلاسه شوي دي . چې دغه موردونه درايه ورکونې په پروسه کې د صندوقونو د کنترولونکي د نه غور او پاملرنې، ښکارندويې کوي.

- همدارنګه د داسو پاڼو او صندوقونو موندل او ليدل چې دراي پاڼو په پورتني کتار کې د کاندېدانو نومونه او عکسونه څيري شوي او په پاڼو کې نه وو. دغه صندوقونه لمړي قرنطين او وروسته تر شميرنې لاندې راغلي دي .

- په ځينو مرکزونو کې د هغو صندوقونو دراي پاڼو شميرل کوم چې په صندوق کې دا چول شويو راي پاڼو او په فورمو کې د ليکل شويو شميرو تر منځ ستر توپير ليدل کيده . حال دا چې د ټاکنو د فتر د منلو حد دې شانته موردونو ته حد اکثر ۱۰ راي پاڼې اعلان کړې وې.

### ❖ دراْيې شميرنې په بهير کې د څارنيزو چارو څيړنه:

د څارونکو شتون درايې شميرنې په بهير کې يو مثبت ګام ګڼل کيږي، ځکه چې همدا څارونکي وو چې د سرغړونو موردونه او نورې ستونزې يې بربنډې او د هغو د اصلاح او کمښت لپاره يې چارواکو ته د خپلو وړاندېزونو او راپورونو د وړاندې کولو په واسطه، لاس پورې کړې. مګر په لمړيو ورځو کې درايې شميرنې په مرکزونو کې د څارونکو ډير شتون ددې لامل شوي وو چې له دوي څخه يو شمير يې ونشي کولاي په بشپړه توګه له دغه بهير څخه څارنه وکړي. ځکه چې د شميرنې د مرکزونو د چارواکو لخوا د څارونکو او استازو د ګڼې او ګونې د مخنيوي په خاطر نوبتي مهال ويش جوړ شوي وو. آن دا چې په ځينو مرکزونو کې د

هماغو لمړنيو ورځو په ترڅ کې د بنياد د څارونکو له ننوتلو څخه ډډه شوې وه چې وروسته دغه ستونزه حل شوه. په دې اړه دغه ټکي ته اشاره کول ضروري ده چې په کړنلارو کې په څرګنده ډول راغلي وو چې له يوه نهاد او کانديدڅخه په عين وخت کې يواځې دوه تنه څارونکي او يا استازي کولای شي چې له دغه بهير څخه څارنه وکړي. مګر په ځينو مرکزونو کې ليدل شوي چې په عين وخت کې د يوه کانديد **۵** او يا **۲** تنه استازي په مرکز کې شتون پيداکړي چې دغه امر ددې لامل ګرځيدلي تر څو په مرکزونو کې ګڼ او ګونه زياته شي.

• په ځينو مرکزونو کې، څارونکو ته د توکو ترلاسه کولو په مرحله کې داسې يوه مناسبه سيمه چې وکړای شي له دغه پړاو څخه په سمه توګه څارنه وکړي، په پام کې نيول شوې نه وه ځکه چې څارونکي په ليرې واټن کې سره ميشت وو او نه يې شوکولای چې دغه مرحله سمه وڅاري .
• ليدل شوي چې کورنيو بې پرې څارونکو هم ، د ځينو څرګندو کانديدانو په پلوي کارکاوه او دهغو استازيتوب يې کاوه. آن دا چې د بنياد څارونکوته دوي په خپلو مرکو کې ډاګيزه کړې وه چې د ........ کانديدانو په ګټه کارکوي .

• د پلو قوانينو او کړنلارو په اړه د ډيرو کانديدانو او د هغو داستازيو ناسمه خبرتيا او پوهاوي. اکثره کانديدانو او استازو په همدې وجه د شميرنې په بهير کې خنډونه رامنځ ته کول، ددوي په منځ کې همغږې موجوده نه وه . څنګه چې په يوه واحد کې ډيرو استازيو شتون درلود مګر په بل واحد کې به اصلاً کانديد او د هغه استازي شتون نه درلود. هغو به يواځې له کارکونکو څخه دشميرنې د پايلو د ترلاسه کولو هڅې کولې.



په عکس کي ليدل کيږی چې يو شمير کانديدانو د کارکونکو په کاري چاروکې لاسوهنه کوی او ددی لامل شوی چی کاری بهير يه تيه ودريږی.

- همدارنګه ځینو څارونکو او استازیو له کړنلارې سره په ټکر کې، مرکزونو ته په نتوتو کې له زور زیاتي څخه کار اخیستی.

- ډیر مرکزونه په داسې توګه تیار شوي وو چې څارونکو کولای شول له دغه بهیر څخه سمه څارنه وکړي ولې ځینې مرکزونه له دغو ښیګڼو څخه برخمن نه وو او یا دشمیرنې مرکزونه په بیلا بیلو سیمو او خونو کې خپل کاري بهیر پر مخ بیوه چې دا امر ددې لامل شوي وو تر څو دوه تنه څارونکي ونشي کولای په سمه توګه له دغه بهیر څخه څارنه وکړي . همدارنګه یو شمیر کارکونکي له داسې روحیې څخه برخمن وو چې کله به یې د بنیاد څارونکي لیدل داسې به یې ښودله چې ګینې دوي په خپلو کارونو کې ډیره پاملرنه او له غور څخه کار اخلي مګر کله چې څارونکي به بل واحد او یا خیمې ته ولاړل هغو به بیرته خپل لمړنی حالت غوره کاوه. همدارنګه په کړنلاره کې د شمیرنې په بهیر کې د کاندېدانو د شتون په خاطر څه ویل شوي نه وو خو د شمیرنې په بهیر کې ډیرو کاندېدانو په مرکزونو کې شتون درلود چې ځینو یې د کارکونکو په ګواښونې هم لاس پورې کړي .

### ❖ د قرنطین له مسئلې څخه څېړنې:

د شمیرنې په پروسه کې د ځینو شکمنو او د هغو صندوقونو قرنطین کیدل کوم چې په کې د ځینو توپیرونو نښې لیدل کیدې ، بنیاد ته د څارنې لپاره یوله ډیرومهمو موردونو څخه شمیرل کیده. همدارنګه بنیاد د ټاکنو له دفتر څخه غوښتي وو تر څو قرنطین شویو صندوقونو ته په شفافه او منصفانه توګه رسیدنه وکړي او له دغه دفتر څخه یې د خپلې مطبوعاتي اعلامیې ( ۳۰ سپتامبر) په ترڅ کې وغوښتل تر څو په دې اړه یوه څرګنده او بشپړه تګلاره چې د عادلانه رسیدنې وړتیا ولري . غوره او عملي ډګر ته یې وړاندې کړي . مګر تر کومه ځایه چې ولیدل شوه دغه مسئله د شمیرنې په پروسې کې یوله کړکیچنې او لاتجمنې مسئلې څخه شمیرل کیده .

کوم موردونه چې بنیاد د دې مسئلې پر اړوندې ترڅارنې اوکتنې لاندې نیولې ، په لاندې توګه یې ارزوي.

#### ۱. د صندوقونو د قرنطینولو له په برخه کې ستونزې:

- په ځینو مرکزونو کې لیدل شوي چې یو شمیر کارکونکو د صندوقونو د قرنطینولو په برخه کې له پوره خبرتیا او پوهاوي څخه برخمن نه وو، څرنګه چې هغو د شمیرنې له کړنلارې سره په ټکر کې، د کومو محلونو صندوقونه چې درایه اخیستنې دراپورو فورمې یې ورکې شوې وې او یا په بشپړه توګه ډکې شوې نه وې ، ددې پر ځای چې هغه په سره قلم اصلاح کړي، د صندقونو په قرنطینولو یې لاس پورې کاوه .

- په ځینو مرکزونو کې کارکونکو پرته له دې چې څارونکي او استازي د قرنطینولو له دلیلونو او علتونو څخه خبر او یا په جریان کې یې کړي، د صندقونو په قرنطینولویې لاس پورې کاوه.

- همدارنګه ليدل شوي چې ځينو کانديدانو د هغو صندوقونو په اړه چې هلته يې د سيالو او رقيبو کانديدانو لپاره د ډيرو رايو ګمان وړه. په ناوړو اعتراضونو او نيو کو لاس پورې کاوه او په دې توګه يې په دغه بهير کې ناسالمه فضا رامنځ ته کوله. چې له يوې خوايې دغه بهير له ځنډ سره مخامخ کاوه او له بلې خوايې د پروسې په اړه د بې باورۍ فضا رامنځ ته کوله.

**۲. قرنطين شويو صندوقونوته د رسيدنې له موردونو څخه څېړنه:**

- د ټاکنو دفتر قرنطين شويو صندوقونو ته د رسيدنې او څېړنې په خاطر يوه تګلاره يا پاليسي تصويب کړه. دغه تګلاره د شميرنې په مرکزونو کې د بيلا بيلو تعبيرونوپه افاده کيدوسره ،پلې کيده. له دغې تګلارې سره سم ډير موردونه د اداري خطا يا سهوې تر عنوان لاندې، کيدلاې شول چې په ډيرې آسانتيا تر رسيدنې لاندې راشي د بيلګې په توګه د ځينې شميرنې په مرکزونو کې داسې صندوقونو وو چې د ۳۰، ۲۰، ۱۳۸ او ...... راي پاڼو په شاو خوا کې د **p01**(د راپور فورمه) او **p03** درايه ورکونکود لستونو له فورمو سره په توپير کې وو چې دغه مورد د يوې ښکارنده سرغړونې ښکارندويي کوله، ځکه چې توپير په دې حد کې وو چې نشو کولاې ور ته د اداري سهوې ياخطا عنوان ورکړو خو کارکونکو له دغې تګلارې سره سم قرنطين شوي صندوقونه په ډيرې آساني تر دې عنوان لاندې پرته له کومې څېړنې او پلټنې تر شميرنې لاندې نيول .

- په ځينو مرکزونو کې، قرنطين شويو صندوقونو ته د رسيدنې او څېړنې په مرحله کې چارواکو او کارکونکو پرته له دې چې څارونکي او استازي په جريان کې کړي په ناڅرګنده توګه په دې اړه خپلې کړنې ترسره کولې چې دغه امر په دغه مرحله کې د کانديدانو او د هغو د استازيو د غږ د پورته کيدو لامل هم شو.

- د ۲۰۰۵ کال د نوامبر په شپږمه نيټه د پغمان ولسوالي د قرنطين شويو صندوقونو د علت موندنې په خاطر يوه خپرونه چې د يو شمير کانديدانو د اعتراضونو او نيوکو پر بنسټ جوړه شوې وه، د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون له بنياد څخه هم غوښتنه وکړه تر څو په دې خپرونه کې برخه واخلي.

دغه خپرونه چې د شکايتونو د کميسيون او دټاکنو د دفتر د استازيو ، د يوه تن شاکې کانديد او د بنياد د استازي په وړاندې ترسره شوه، پريکړه پردې شو ه تر څو لس صندوقه د پغمان د ولسوالۍ د قرنطين شويو صندقونو له منځ څخه د قرعې (پچې) پر بنه تر څېړنې لاندې ونيول شي. تر څو د قرنطينيدلو علت يې څرګند شي. کله چې صندقونه تر څېړنې لاندې ونيول شول، څرګنده شوه چې دوه صندوقه په دې علت چې د هغو د مهرونو او قلفونو شميرې له هغو شميرو سره چې د راپورونو په فورمه کې ليکل شوې وې په توپير کې وې او پاتې صندقونه په دې علت چې ګينې راي پاڼې د يو بل په دننه کې راغلې، قرنطين شوي دي.

په دې اړه د بنیاد وړاندیز دا وو چې د هغو صندوقونو قرنطین کول کوم چې د مهرونو شمیرې یې له راپورو سره په توپیر کې وې او هم د یوه په اړه یې چې له پخواځخه د درغلیو راپور هم موجود وو. ضروري او اړینه وه. مګر د هغو صندوقونو په اړه کوم چې ځینې رای پاڼې دیو بل په دننه کې راغلې وې، د بنیاد وړاندیز د مناسبې حل لاړ موندنې په خاطر چې تر څو له یوې خوا عادلانه رسیدنه او څیړنه په پام کې وي او له بلې خوا د کاندیدانو قناعت هم ترلاسه شوي وي، داسې وو، تر څو هغه صندوقونه چې په هغو کې د ښکارنده او څرګنده درغلیو نښې لیدل کیږي، دایمې قرنطین ته دې وسپارل شي خو د هغو صندوقونو په اړه کوم چې ځینې رای پاڼې یو څه نا څه د یو بل په منځ کې راغلې وې، داسې وړاندیز وکړ چې د هغو په اړه ژوره څیړنه او پلټنه وشي ځکه چې ددغو صندوقونو په هکله د درغلیو مخکنې راپورونه هم راغلې نه وو اونه یې درلود او هم د مهرونو د شمیرنې او په راپورونو کې د لیکل شویو شمیرو تر منځ کوم توپیر هم نه لیدل شوي، نو دغه حل لاره یې غوره و ګڼله ترڅو:

۱. یو خالي صندوق کیښودل شي او په هغه کې له سره رای پاڼې د یو څو تنو ناپیلو کسانو لخوا چې په دې اړه خبرتیا هم ونلري، ترسره او واچول شي. تر څو له ډکیدو او یو لړټکانونو وروسته (ځکه چې صندوقونه د لیږدونې په وخت کې ځینې ټکانونه زغمي) څرګنده شې چې په صندوق کې درای پاڼو طبیعې حالت په څه ډول وي، آیا ځینې پاڼې د یوه بل په دننه کې راځې او یا نه دا ټول هغه پوښتنې دي چې همدې عملیې ورته ځواب ورکاوه،

۲. دوم دا چې په همدې صندوقونو کې رای پاڼې په ځانګړي ډول هغه رای پاڼې کوم چې د یو بل په دننه کې راغلې وې ، ولیدل شي تر څو څرګنده شې چې دغه رایې د یوه کاندید په ګټه کارول شوي او یا د بیلا بیلو کاندیدانو په ګټه.

دغه وړاندیز د حاضر کاندید لخوا هم ومنل شو او د شکایتونو د کمیسیون د استازي ځواب داوه . چې دغه وړاندیز به د کمیسیون غړوته وړاندې کړي تر څو هغوی په دې اړه پریکړه وکړي.

### ❖ د امنیتي مسئلو څیړنه

که څه هم امنیت د شمیرنې په پروسه کې په عمومي ډول مثبت بلل شوي او داسې کوم مورد چې د شمیرنې په بهیر کې خنډ رامنځ ته کړي، لیدل شوي نده مګربیا هم ځینې لیدل شوي چې پولیس پرته له کومې اړتیا مرکزونو ته ننوتلي، حال دا چې د شمیرنې د مرکز چارواکواومدیر د پولیسو له اړتیا پرته موجودیت سره د مرکز په دننه کې خپل مخالفت څرګنداوه مګرپولیس په خپل موجودیت ټینګارکاوه .

## د ټاکنو د پروسې د اصلاح او پیاوړتیا په هکله د بنیاد د وړاندېزونه:

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد د بشپړو آزادو او دموکراتیکو ټاکنو ، ترسره کیدو ته د رسیدنې په خاطر چې په کې د هر انتخابونکي او هر انتخاب کیدونکي حقونه ساتل شوي وي ، لاندې وړاندیزونه او طرحې چې د ټاکنو له بهیر څخه د بنیاد د لاسته راوړنو او تجربو پر بنسټ ولاړې دې ، د ټاکنو د لاسمې اداري او د بشپړو آزادو او منصفانه ټاکنو د ترسره کیدو په خاطر، وړاندې کوي تر څو خلک په خپل پراخ ګډون او ټینګ باور د ټاکنیزو پروسو په ټینګښت اوپیاوړتیا لاس پورې کړي، تر څو په راتلونکې کې د سالمو او روښانو ټاکنو د ترسره کیدو شاهد واوسو.

دغه وړاندیزونه پر هغو موردونو شاملیږي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ، ملي شورا، حکومت او نړیوالې ټولنې ته د داسې ټاکنو د لار آوارونې په خاطر چې په هغو کې د هیواد د ټولو وګړو حقونه ساتل شوي وي، وړاندې کیږي.:

### i. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته:

**الف- د ټاکنیز سیستم ، قانون او کړنلارو په اړه:**

- د ټاکنیز سیستم تعدیل او اصلاح . د ټاکنو خپلواک کمیسیون دې په دې اړه په نړې کې د دودیزو سیستمونو په مطالعې سره یو غوره سیستم په ځانګړې ډول د هغو هیوادونو ټاکنیز سیستمونه چې نوي له جار جګړو څخه راوتلي او د افغانستان په شان په عین حالت کې وي .

دغه سیستم دې دسیاسي ګوندونو او ټاکنیزو چارو د متخصیصینو په سلا مشورې کې ، داسې وټاکل شي چې د افغانستان د اوسنیو سیاسي اړتیاوو او دنه لیږدیدونکې واحدې رایې له سیستم څخه د راولاړو شویو ستونزو ځواب ویونکې وي . ځکه چې نوموړي سیستم له ډیروکړکیچونو او پیچلتیاؤ څخه برخمن وو. بنیاد په دې اړه د تناسبي اکثریتي او یا proportional Representative سیستم د افغانستان د سیاسي او دېموکراتیکې پراختیا اوهم په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو دلاښې ودې په خاطر وړاندیز او تر ځینې ملاتړ کوي.

- د اساسي قانون د ۸۵ مادې تفسیر او روښانتیا او د ټاکنو د قا نون د ۱۴ مادې اصلاح چې د ولایتي او دولسوالیو شوراګانو د کاندیدانو لپاره یې دعمری معیار په ټاکلو کې له پوره روښانتیا څخه برخمن او له یو بل سره په سمون کې نه دي. ځکه چې د اساسي قانون ۸۵ ماده حکم کوي: کوم کسان چې د مشرانو جرګې د غړیتوب د ترلاسه کولو پخاطر خپل ځانونه کاندیدوي باید د کاندیدلو په ورځ ۳۵ کلن شوي وي او دهغو کاندیدانو د عمر لپاره یې چې د ولایتي او د ولسوالیو شورا ګانود غړیتوب د ترلاسه کولو پخاطر خپل ځانونه کاندید وي ، څه نه دي ویلي . حال دا چې د ټاکنو دقانون

ځوارلسمې مادې دغه موضوع د اساسي قانون **۸۵** مادې ته راجع کړې او حکم کوي:
څوک چې د اساسي قانون په **۸۵** مادې کې راغلي شرطونه ولري ، کولای شي خپل ځان ملي شورا ، ولایتي شورا او دولسوالیو شورا ګانوته ځان کاندید کړي. حال دا چې اساسي قانون په دې اړه چپتیا غوره کړې ده.

- د ټاکنو د قانون د **۲۱** مادې د څلورمې فقرې په اړه تعدیل او بیا کتنه ،د هغو ټاکنیزو څوکیودترلاسه کونې په هکله کوم چې کاندیدان یې ونشي کولای. خپله څوکې ترلاسه کړي او یا خوپه ولسي جرګې کې خپله څوکي پریږدې د هغه کاندید لخوا چې په هماغه حوزه کې له عین جنس څخه د ډیرو رایو درلودونکي وي ، صراحت لري . څرنګه چې ولیدل شول دغه ماده ددې لامل ګرځي تر څو د ځینو ګټونکو کاندیدانو د ترور او وژنې زمینه د هغو کاندیدانو په واسطه چې کولای شي په دې توګه ټاکنیزه څوکي لاس ترلاسه کړي، برابره کړي . په همدې توګه د **۲۹** مادې د دویمې فقرې دویم جز چې دولسوالیو شوراګانو په اړه صراحت لري، په داسې ډول تعدیل شې چې د تاوتریخوالي له لارو څخه د هڅونې او ګټه اخیستنې زمینه د هغو کاندیدانو په ګټه چې دېوه کاندید په فزیکي لحاظ له لیرې کیدو دا چانس ترلاسه کوي ترڅو پارلمان او نورو شوراګانو ته لار پیدا کړي. لنډه او مخنیوي تر ځیني وکړي.

- همدارنګه بیا کتنه او تعدیل راوړل د هغه میکانیزم په برخه کې،کوم چې درایې ورکونې د محل آمرته دا واک ورکوي ترڅو د رایې ورکونې په بهیر کې له معیوبه او مرستې ته اړ رایه ورکونکو سره درایې په ننبه کولوکې مرسته وکړي . بنیاد وړاندیز کوي ترڅو دغه مرسته دې د دریم شخص (څارونکي) په شتون کې د محل د آمر لخوا ترسره شي، ځکه چې په ځینو موردونو کې لیدل شوي چې درایې ورکونې د محل آمر له دې واک څخه ناوړه ګټه پورته کړې ده.

- ډیرو خلکو او کاندیدانو د ټاکنو د قانون د لفظي او لغوي پیچېلتیا څخه یې شکایت درلود. نو له دې امله بنیاد وړاندیز کوي چې دټاکنو دفتر دې د قانون له ځانګړتیاوو څخه یوه ځانګړنه چې په قانون کې دساده اوعام فهموالفاظوکارول دي، په پام کې ونیسي او هغه په داسې کلمو او عبارتونو جوړکړي چې د هیواد د ټولو وګړو لپاره د پوهاونې وړتیاولري او څوک د هغه په عبارتونو او مفاهیمو کې له ستونزو سره مخ نشي. همدارنګه د دې امر پلي کول دې د نورو ټاکنیزو لارښودونو او کړنلارو په جوړونه کې هم د پاملرنې وړ وي.

- په ټوليزه توګه د ټولو ټاکنيزو قوانينو، مقررو او کړنلارو پلي کول . ځکه چې د معياري ټاکنو په ترسره کيدو کې ، په قانون کې د راغلو مهال و يشونو رعايت حتمي امر ګڼل کيږي . خوځرنګه چې وليدل شول له بده مرغه د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې ځينې قوانين او مهال بندي رعايت نشوي . د بيلګې په توګه ۳۴ مادې حکم کاوه چې دټاکنو کميسيون دې ۱۵ ورځې ترمخه له ټاکنو، درايه ورکونکو لستونه اويا دهغويوه برخه په عامه محضر کې د خلکو د ارزونې په خاطر و ځړوي خو دغه ټکي ځانته عملي بڼه ورنکړه.

- کومې پريکړې چې د ټاکنو دفتر يې د پروسې په اړه نيسي بايد په وخت او د پلي کيدو امکانات يې موجود وي او هڅه پردې وي تر څو دا پريکړې د کړنلارو د جوړيدو په وخت کې د پام وړوي. ځکه چې که تيرو ټاکنوته وګورو په کړنلارو کې د سهار ۷ بجې د ټاکنو د بهير د پيليدو لپاره، وخت ټاکل شوي وو، مګر وروسته د ټاکنو د ګډ دفتر د پريکړې پر بنسټ ۶ بجې د ټاکنو د بهير د پيليدو لپاره وخت و ټاکل شو. خو ددغې پريکړې د پلي کيدو په برخه کې بايد ووايو ځرنګه چې دغه پريکړه د ټاکنو په نږدې وخت کې ترسره شوې وه، د ټاکنو ډيرو کارکونکو ترځينې خبرتيا ترلاسه کړې نه وه .

- بنياد وړانديز کوي چې د ټاکنو خپلواک کميسيون دې د ټاکنيزو قوانينو او کړنلارو د جوړولو پر مهال د هغو دلايلې جوړونې په خاطر، د مدني ټولنې له نهادونو سره له سلا او مشورې کارواخلې په ځانګړې ډول له هغو نهادونو سره چې له ټاکنوڅخه د څارنې په برخه کې فعاليت لري .

- بنياد وړانديز کوي تر څو په ښه وخت سره خلکو ته د ټاکنو د پروسې پر اړوند د کميسيون لخوا د جوړو شويو کړنلارو او ترسره شويو پريکړو د خبرتيا او لاژياتو معلوماتو په خاطر، او چت او اغيزمن ميکانيزمونه ترلاس لاندې ونيول شي.

**ب- د ټاکنيزو کارکونکو د استخدام او ګمارلو په برخه کې:**

کومه لويه ستونزه چې تير ټاکنيز بهير ورسره مخ وو، د ټاکنيزو کارکونکو د نيونې او ګمارنې مسئله وه. ځکه چې ډيرو کارکونکو په يوه توګه له کانديدانو سره اړيکي درلودې. چې دغه موضوع ددې لامل وګرځيده تر څو د ټاکنو په بهير باندې د رايه ورکونکو او خلکو باور کم شي.

نو بنياد وړانديز کوي چې:

- د ټاکنو دفتر دې د موجوده او برحاله کارکونکو دساتنې په برخه کې له سره او بيا کتنه وکړي په ځانګړې توګه د ولايتي اولوړپوړو چارواکو په برخه کې ، ځکه چې دوي د خلکو لخوا په چاروکې په بې کفايتي ، فساد او بډه اخيستنې تورن دي . په خپلو څوکيو او

مقامونو کې، ددوي ساتنه او پاتې کېدنه به ددې لامل وګرځي تر څو د خلکو ډاډ او باور په پروسه باندې لږ شي.

- یو له هغو لوړو کارونو څخه چې باید په دغو تیرو دوو ټاکنو کې ترسره شوې وي، د خلکو تر منځ د ټاکنیزو چارو د پرمخ بیولو په برخه کې د وړیا کاري د روحیې دودیزه کول او ټینګول وو، خو له بده مرغه په دې اړه کار ندي شوي اوټاکنیز کارکونکي د ډیرو معاشونو په بدل کې په کار ګمارل شوي دي . وروسته له دې هڅه وشي تر څو نوموړې روحیه د خلکو تر مینځ دودیزه شي او د ښونکو، محصلینو او نورو روښنفکرو قشرونو څخه ددې پروسې په پر مخ بیولو کې کار واخیستلي شي.
- د کارکونکو د نیونې او ګمارنې پروسه باید شفافه اوروښانه وي او دهغو د ناپیلتوب او بې پرې توب په اړه پوره غور اوډاډترلاسه شي ، څکه لیدل شوي چې یو شمیر کارکونکي له پوره زده کړې او سواد څخه برخمن نه وو او یا د ټیټ عمر درلودونکي وو. د ټاکنو کمیسیون کولای شي په دې برخه کې د مدني ټولنې د نهادونو له مرستې څخه ګټه واخلې.
- د کارونکو ګمارنه دې په مناسب وخت کې ترسره شي تر څو هغه څوک چې د ټاکنو د کارکونکو په توګه ګمارل کیږي د ټاکنیزو اصولو او کړنلارو د مطالعې لپاره پوره وخت ولري څکه څینې لیدل شوي چې د ټاکنو کارکونکي یوه یا دوه ورځې تر مخه د ټاکنو له ورځې په کار ګمارل شوي چې دغه امر ددې لامل ګرځیدلي تر څو ټاکنیزې دندې په ښه او سمه توګه ترسره نشې.
- د کارکونکو په ګمارنه کې دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون داسې تګلاره غوره کړي چې د یوه ولایت لوړ پوړي چارواکي او کارکونکي بل ولایت ته او ټیټ پوړي کارکونکي له یوې ولسوالۍ او سیمې څخه بلې ولسوالۍ او سیمې ته ولیږي او په کاروګماري تر څو د کارکونکو په کاري بهیر او سیمه یزو تړاونو انو، اړیکو اوهمدارنګه د زور د کارولو مسئلې تر یوه حده حل او کاری روتتیا تامینه کړي. دغه راز دغه تګلاره دې د ټاکنو په بهیر کې د امنیتي پولیسو او څواکونو په اړه هم د اجرا وړوي.

## ج- د پوهاونې او خبرونې په برخه کې

د پوهاونې د خپرونو برخه اخیستونکي شامیلېږي پر لاندنیو کټګوریو:

**◄◄ رایه ورکونکو ته ښوونیزې خپرونې:**

بنیاد دښوونیزواو مدني خپرونو د لاښه اغیزمنتوب او بریالیتوب په خاطر لاندې وړاند ېزونه وړاندې کوي:

- په تیرو دوو ټاکنیزو دورو کې د عامه پوهاوي خپرونې د ټاکنودترسره کیدو په مهال پورې اړوندې وې، حال دا چې لکه دافغانستان په شان هیوادونوکې دداسې خپرونو دائیرول په یوه لنډوخت کې د عامه ذهنیتونو د روښانولو په خاطر، کفایت نکوي او دا ایجابوي تر څو د یوه دوامداره تنظیم شوي چوکاټ په دننه کې ، اوږد مهالې ښوونیزې خپرونې په لار واچول شي.

- د عامه خبرتیا او پوهاونې خپرونې د هیواد په ځینو سیمو کې د بیلابیلو علتونو پر بنسټ ترسره شوي ندي په ځانګړې ډول له ښارونو څخه په لیرې پرتو کلو او بانډو کې. بنیاد په دې اړه وړاندېز کوي تر څو داشان خپرونې دهیواد په ټولو سیمو کې د هغو د دودونواو رواجونو په پام کې نیولو سره، په پراخه کچه په لار واچول شي.

- د پوهنې وزارت دې د کال په اوږدو کې یوه اونې د ټاکنو دا ونې په نامه، ځانګړې کړې او یو ښونیز نصاب دې د ټاکنو په اړه جوړ کړي. تر څو زده کونکو ته د نورو مضمونونو تر څنګ دغه نصاب هم په خپله ځانګړې اونې کې تدریس شي.

**◄◄ د ټاکنیزو کارکونکو پوهاوي:**

- ددې لپاره چې روزنیزې خپرونې په ښه اوسمه توګه ترسره شي، اړینه ده تر څو د کارکونکو د نیونې او ګمارنې بهیر په ښه وخت او غور سره ترسره شي.

- په روزنیزو خپرونوکې دې د تخنیکې موردونو د پوهاوي سربیره د کارکونکو لخوا د ناپیلتوب د اصل پر رعایت باندې دې ډیر ټینګار وشي. همدارنګه کارکونکي دې وپوهول شي چې دوي ډیر ستر ملي مسئولیت پر غاړه لري چې د وړې سهوې او سرغړونې په ترسره کیدو به د ټاکنو د پروسې مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي او هم پردې باندې چې باید کارونکي دې له خپل قانوني آمر څخه اطاعت وکړي، ډیر ټینګار وشي ځکه لیدل شوي چې یو شمیر کارکونکي د ټاکنو په بهیر کې د کاندېدانو، د هغو د استازو او آن دا چې دپولیسو پر لارښونو او اوامرو تړلې وو.

- همدارنګه کارکونکو ته لا زیات معلومات د ټاکنو په بهیر کې د څارونکو د ونډې او له هغو سره د چلند په اړه ورکړل شي . بنیاد په دې اړه وړاندېز کوي هماغه شان چې بنیاد څخه په مرکز او یا ولایتونو کې د خپلو روزنیزو خپرونوپه بهیر کې د ټاکنو دفتر استازو ته بلنه

ورکړي تر څوڅارونکوته پردوي پورې دا ړوندو خپرونو او کړنلارو په اړه لاډير ښه معلومات ورکړي ، د ټاکنو دفتر دې هم له څارنيزو نهادونو څخه وغواړي تر څو د هغو په روزنيزو خپرونو کې برخه واخلي اود څارونکو دونډي او مسووليت په اړه، کارکونکو ته لا ډير معلومات ورکړي.

- کومې خپرونې چې کارکونکو ته ترسره کيږي بايد اوږدمهالې وي او همدارنګه د دغو خپرونوپه لړي کې يوه څيړنيزه او د ارزونې خپرونه هم شامله شي. په دې شان چې دروزنيزو خپرونوله ترسره کيدو وروسته يوه بله خپرونه د وروستنيو معلوماتو د ورکونې په نامه د ټاکنو په نږدې ورځو کې ترسره شي. چې دغه خپرونه د هغو معلوماتو پر ورکونه کوم چې په ټاکنيزو کړنلارو او کړندودونو کې د ورستيوپريکړو اوبدلونونو په ترڅ کې راغلي او هم د تيرو روزنيزو خپرونو د موضوعاتو پر ارزونې شامله وي.

- د ټاکنو دفتر دې خپلو کارکونکو ته په ځانګړې ډول کوچني لارښونکې رسالې چې په هغو کې په دقيقه توګه د هر کارکونکي دندې اومسووليتونه ، دپروسې تخنيکي موردونه اونوراړين معلومات ، روښانه شوي وي ، جوړې کړي ترڅو کارکونکي له ستونزو سره د مخ کيدو په وخت کې ورڅخه فوري ګټه واخلي.دغه امر له کارکونکو سره د هغو د معلوماتودپياوړي کولو په برخه کې ډيره مرسته کوي.

**د کانديدانو او دهغو د استازو د پوهاوي په برخه کې**:

- کانديدان چې په ټاکنيزو پروسو کې يو ستره اړونده برخه جوړوي، اړتيا لري ترڅو داساسي قانون، د ټاکنو قانون او دټاکنيزو کړنلارو، کړندودونو او ترلاسه شويو پريکړو په اړه پوره معلومات ولري .

په دې اړه د مدني ټولنې د نهادونو په مرسته کانديدانو ته په دوامداره توګه سيمينارونه او غونډې په لارو واچول شي تر څو هغوي د اساسي قانون، د ټاکنو قانون او د نورو کړنلارو په اړه پوره معلومات ترلاسه کړي .

- د ټاکنو دفتر دې په مرکز او ولايتونو کې له کانديدانو سره دهغو د فکرونو اونظرونو د تبادلې په خاطر، نوبتي غونډې په لار واچوي تر څو د هغو انديښنې او غوښتنې څرګندې او په قناعت او ځواب ورکونې يې لاس پورې شي. همدارنګه د نويو پريکړو او پرمختياو په اړه کوم چې د ټاکنو د دفتر لخوا ترلاسه شوي، د کانديدانو د خبرتياپه خاطر، څرګند او اعلام شي. ددې امر پلې کول به د کانديدانو د معلوماتو د زياتولو په برخه کې هم اغيزمن واقع کيږي.

- د کاندیدانود استازو لپاره د مدني ټولنې اوخپله کاندېدانو په مرسته ښوونیزې خپرونې ، په پروسه کې د استازو د ونډې او واکونو د څرګندونې په اړه او کوم قانوني مسئولیتونه او دندې چې پرغاړه لري، دغه راز ټاکنیزې سر غړونې او ځینې نور اړین موردونه چې د ټاکنو په پروسې پورې تړاو لري، ترسره او وښودل شي.

**درایه ورکونې دمرکزونو او محلونو د امنیت ساتنې پولیسو لپاره د پوهاوي خپرونې :**

- د ټاکنیزو چارو د سمون اداره دې د امنیتي ارګانونو په مرسته دپروسې د لاښې ترسره کیدنې په خاطر پولیسو او نورو امنیتي مراجعوته د ټاکنو په پروسه کې ددوي د دندو د ترسره کیدو او څرنګوالي په خاطر، وړګامونه او چت کړي او دوي ته دې پوره معلومات ورکړي. ځکه چې دټاکنو په ورځ ځینې لیدل شوي چې پولیسو د مرکزونو په دننه کې شتون درلود او له خپلو دندو او مکلفیتونو څخه باخبره نه وو ، په ځینې سیمو کې یې درایه اخیستنې په برخه کې له زور زیاتي څخه کار اخیستي او په ځینو سیمو کې یې مرکزونو ته د څاورنکو له ننوتو څخه ډډه کړې وه.

**د- د نوم لیکنې د مرحلې په اړه وړاندیزونه:**

څرنګه چې بنیاد په تیرو ټاکنو کې هم وړاندیز کړي وو. داځل بیا هم د ټاکنیز بهیر د لاښه اغیزمنتوب په خاطروړاندیزکوي چې د ټاکنو کمیسیون دې د اقتصاد د وزارت د احصایې ادارې او د کورنیو چارو وزارت په مرسته د تابعیت دتذکرې د نوي سیستم په رامنځ ته کیدو کار وکړي. چې په دې اړه په نورو مخونوکې ،حکومت ته د وړاندیزونو په برخه کې به لاډیرمعلومات څرګند شي.

دغه سیستم د ټاکنو کمیسیون په دې توانوي تر څو د رایه ورکونکو دایمي لستونه نه جوړ کړي او هم ددغه دفتر په کاري بهیر کې له دې چې په هره ټاکنیز، حوزه کې د رایه ورکونکو دقیقه شمیره څرګندوي، مرسته او آسانتیاوې برابروي.

بنیاد په دې اړه وړاندیز کوې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون دې تر هغه وخته چې د ولسوالیو د پولو ترمنځ پرتې لانجې حلیږي او بالاخره ددغو ټاکنو لپاره لارهواریږي، په همدې پلان کار وکړي.

**هـ - د کاندېدانو د نومونې په برخه کې:**

بنیاد په دې اړه وړاندیز کوي تر څو:

- ټاکنیزو پستونو او څوکیو ته د کاندېداتوري په برخه کې ، کمیسیون باید د نوماندو او کاندېدانو د نوم لیکنې پرمهال د اساسي قانون او په هیواد کې دنورو پلو قوانینو ټول شرطونه په پام کې ونیسي، تر څو پدې توګه د بشري حقونو دسرغړونکو او ناقضینو له ننوتو څخه په قانوني او دموکراتیکه توګه ډډه وشي. په ځانګړې ډول دولسوالیو په ټاکنو کې چې د ډیرو کاندېدانو او نوماندو، انتظار وړل کیږي.

- د ټاکنو د قانون د ۱۵ مادې حکم چې د دولتي چارواکو د نوماندي او استعفا په اړه صراحت لري، د ځينو دولتي چارواکو په اړه له پامه غورځول شوي دي. بنياد په دې اړه وړانديز کوي تر څو کميسيون دې د نوماندانو د ثبتولو په وخت کې ټولو هغو اسنادونو ته چې په قانون کې څرګند شوي تر پاملرنې لاندې ونيسي.

- همدارنګه په دې اړه عمومي نظر ددې غوښتونکي وو تر څو د ټاکنيزو نوماندو او کانديدانو لپاره ځينې نور قانوني او اغيزمن معياورنه لکه سواد، زده کړه او ځينې نور شرطونه، کيښودل شي.

**و- د ټاکنيزو سياليو د دوران په اړه:**

بنياد په دې اړه وړانديز کوي چې:

- د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د اوريدلو نهاد دې د چټتيا په دورې او د ټاکنو په ورځ کې د کمپاينونو او سياليو ترسره کيدنه، د ټاکنو په پروسه کې په ځانګړې ډول د سياليو په دوران کې له دولتي امکاناتو څخه د ځينو کانديدانو لخوا شخصي ګټه اخيستنه او همدارنګه د هغو سياليو ترسره کيدنه کوم چې په قومي، ژبني او مذهبي اساساتو ولاړ وي او له هغو آسانتيا وو څخه کوم چې د کانديدانو لخوا مرکزونو ته درايه ورکونکو دليږدونې په موخه برابريږي، مخنيوي وکړي او ددغسې سرغړونو له سرغړونکو اومرتکيبينو سره قانوني چلند وکړي او تر قانوني پوښتنې لاندې يې راولي.

**ز- د تبليغاتي توکو د ليرې کولوپه برخه کې:**

د ټاکنو دفتر دې دکانديدانو د عکسونو او اعلانونو دځړولو او خپرولو په برخه کې کوم چې دټاکنيزو سياليو په دوران کې کارول کيږي. يو ميکانيزم جوړ او وڅاري. په ډاډ سره ويلاي شو چې ددغه امر عملي کول به دټاکنو په ورځ کې دهغه قانوني حکم دپلي کولو په اړه کوم چې د ټاکنو په ورځ د مرکزونو له ۱۰۰ متري څخه د کانديدانو د عکسونو اواعلانونو د ليرې کولو، امر کوي، کومه ستونزه موجوده نه وي. همدرانګه په دې اړه ويلاي شو چې د عکسونو او اعلانونو ځړونه د ساختمانونو، ټرافيکي علامو او نښو او ياد نورو هغو لوحو پرمخ کوم چې د هغو ښکلا او پيژندنې ته زيان رسوي. په قانوني توګه منع شي او سرغړونه يې له ټاکنيزو اصولو څخه سرغړاوي وبلل شي.

**ح- درايه ورکونې د بهير په اړه وړانديزونه:**

**۱) درايه ورکونې د مرکزونو دموقعيت او ويش په اړه:**

د مرکزونو او محلونود ويش او موقعيت اينبودنې مسئله د رايه ورکونې په بهير کې د آسانتياو درامنځ ته کولو په برخه کې يوه مهمه مسئله ګڼل کيږي. بنياد په دې اړه د ټاکنو کميسيون ته ځينې وړانديزونه لري:

- د مرکزونو دموقعيت اينبودنې په برخه کې ډيره پاملرنه وشي تر څو مرکزونه د کانديدانو په کورونو کې رانشي. په ځينو سيمو کې په ځانګړي ډول د هيواد په سويلي سيمو کې ډير

قومونه د بیلا بیلو علتونو له مخې خپل منځوي اختلافات لري او ددوي تگ راتگ د يو بل سيمو ته ستونزمن وي آن دا چې د ځينو په وژنې هم پاي مومي. دټاکنو دفتر دې په راتلونکي کې دغه ټکي ته هم پاملرنه وکړي. ځکه چې په دغو ټاکنو کې دغه ستونزه موجوده وه او ددې لامل شوه تر څو يو شمير خلک له رايه ورکونې څخه پاتې اومحرومه شي.

- د کوچيانو په اړه بايد ووايو چې په کوچيانو پورې د اړوندو مرکزونود بيلتانه په وجه ډير کوچي رايه ورکونکي له رايه ورکونې څخه پاتې شول او يا خويې اجازه ترلاسه کړه تر څو له کوچيانو پرته نورو کانديدانو ته رايه ورکړي نو په دې لحاظ بنياد وړانديز کوي تر څو په راتلونکي کې د کوچيانو مرکزونه بيل نه بلکه د هغو په اړه صندوق بيل وي په ځانگړې ډول په هغو سيمو کې چې دکوچيانو هستوگنه هلته ډيره وي.

- د بنديانو او په روغتون کې د بسترو ناروغانو لپاره د گرځنده مرکزونو جوړول. ځکه چې هغوي هم لکه د هيواد نور وگړي حق لري تر څو دخپلې رايې په کارونه خپل سياسي برخليک و ټاکي. لکه څنگه چې دغه امردولمشري په ټاکنو کې په پام کې نيول شوي وو.

- درايې ورکونې د مرکزونو او محلونو د شمير ې په برخه کې، بنياد وړانديز کوي تر څو د مرکزونو شمير زيات خو په هغو کې د شاملو محلونو شمير کم شي. تر څو رايه ورکونکو ته دواټونو د نږدې والي په برخه کې آسانتياوې برابرې شي.

- همدارنگه د مرکزونو د کورنۍ جوړښت په برخه کې له سره کتنه وشي. ځکه چې ډير محلونه په داسې توگه تنظيم شوي وو چې رايه ورکونکو له يوه محل څخه راي پاڼې لاس ته راوړې او د بل محل په صندوق کې يې کارولې. له بلې خوا درايې ورکونې خونې او غرفې په داسې ډول جوړې شوې وې چې درايې د پټوالي اصل هلته ماتيده.

**۲- درايې اخيستنې د پيل او پاي په اړه:**

د ټاکنو دفتر دې درايې اخيستنې د پيل او پاي مهال چې دکال د موسم په پام کې نيولو سره ټاکل کيږې دکړنلارو او خپلو پريکړو په لړ کې څرگند او په عامه خبرتيايې و رسوي. که چيرې کومه وروستنې پريکړه د رايې اخيستنې د پيل او پاي دمهال او نيتې د بدلون په اړه وي بايد په داسې وخت کې وي چې خبرتيايې د خلکو او دټاکنو د کارکونکو لپاره مساعده وي.

**۳- د لوژستيکي توکو په اړه:**

- بنياد وړانديز کوي تر څو د گوتې رنگونې سيستم دې د يوه تن لخوا د څو ځلې رايې ورکونې دمخنيوي په خاطر، دوام ومومي. او هم ددې په خاطر چې د جعلي رنگونو څخه

يې توپير شوي وي بايد يوه ځانګرتياو لري تر څو د تقلبي او جعلي رنګونو له کارونې څخه ډډه وشي.

- د راي پاڼو په برخه کې بايد ووايو  که څه هم په دې اړه ډيره هڅه شوې وه تر څو راي پاڼې د رايه ورکونکو لپاره د کانديدانو په پيژندګلوي کې له آسانتياوو څخه برخمنې وي . خو سره له دې بيا هم رايه ورکونکو په دې برخه کې ستونزې درلودې او څرنګه چې وليدل شول يو شمير رايه ورکونکو د خپلې خوښې د کانديد د موندنې په خاطرډير وخت تيرکړي او بالاخره په دې ندي توانيدلي تر څو هغه وعومي چې په پاې کې يې راي پاڼې په سپينه توګه په صندوق کې اچولي دي. په راتلونکي کې د ټاکنو دفتر دې هڅه وکړي تر څو دراي پاڼو د جوړونې پرمهال له نورو سيستمونو څخه کارواخلي په ځانګړي ډول په هغو ټاکنو کې چې دکانديدانو شمير په کې ډير زيات وي.
- دڅارونکو او کتونکو  د کارتونو په هلکه بايد ووايو چې د ټاکنو دفتر دې د کارتونو د جوړونې او ويشنې په برخه کې پوره غور وکړي. ځکه چې د ټاکنو د ترسره کيدو پرمهال، څارونکي د کارتونو داخيستنې په موخه له يوې اوږدې پروسې سره مخ وو چې دغه امر ددې لامل ګرځيده تر څو يو شمير څارونکي د کارتونو د نه اخيستو په وجه د ټاکنو د څارنې له بهير څخه پاتې شي همدرانګه په يو شمير ولايتونو کې دبنياد څارونکو ته د کانديدانو داستازو کارتونه ورکړل شوي وو. چې دغه امر دبنياد د څارونکو د خپلواکي او ناپيلتوب اصل تر پوښتنې لاندې راوسته، هيله ده چې په راتلونکي کې د ټاکنو دفتر دغو ستونزو ته پاملرنه وکړي.
- د ټاکنو دفتر دې  دتوکو د چاپونې په هکله په ځانګړي ډول دراي پاڼودچاپ په برخه کې له دقيقې محاسبې څخه کار واخلي او د ټاکنو دفتر دې هڅه وکړي تر څو له هيواد څخه په بهر کې دراي پاڼو د چاپ پرځاي د ټاکنو پر دفتر پورې اړوند په کورني پانګه اچونې د طباعت او ..... برخو کې چې له هره اړخه ډاډمن او د لاسرسي وړوي لاس پورې کړي.
- په دغو ټاکنو کې ، مرکزونو او محلونوته د ټاکنيزو توکو او صندوقونو د ليږدونې سيستم ښه وو. خو سره له دې بيا هم ځينو مرکزونو ټاکنيز توکي (صندوق، راي پاڼې، فورمې او...) په ټاکلې وخت سره ترلاسه نکړل . هيله ده چې په راتلونکي کې د هغه لاښه والي د پاملرنې وړو ي.
- درايه اخيستنې له بهير څخه وروسته د درغليو د احتمالي پيښيدو د مخنيوي په خاطر،کومې سپينې راي پاڼې چې په مرکزونو کې پاتې کيږي ، له دقيقې محاسبې او د

رایه ورکونې د راپور له بشپړیدو وروسته د څارونکو او استازیو په وړاندې د مرکز د رئیس لخوا چیرې او باطل اعلام شي.

- د شمیرنې په کړنلاره کې په څرګند ډول راغلي چې کومې راې پاڼې پرته له هغو قلمونو او یا مارکرونو چې درایه ورکونې په خونه کې کینبودل شوي، رنګ شوي وي. د شمیرنې وړ ندي. ولې څنګه چې په راپور کې هم ورته اشاره وشوه د شمیرنې په پروسه کې په ډیر شمیر هغه پاڼې چې په بیلا بیل ډول قلمونو ، نښه شوې وې ، وموندل شوې.

نو په دې لحاظ بنیاد وړاندېز کوي تر څو په راتلونکي کې دټاکنو دفتر ځانګړي قلمونه چې له یوه رنګ او نوعیت څخه برخمن وي تیار او په مرکزونو یې وویشي.

**ط- د صندوقونو د لیږدونې او درایې شمیرنې په اړه وړاندیزونه:**

- د رایه ورکونې له مرکزونو څخه د شمیرنې مرکزونو ته د ټاکنیزو توکو او صندوقونو په اړه بنیاد څه د لیږدونې او څه د شمیرنې پرمهال د سر غړونو او درغلیو د مخنیوي په خاطر، وړاندېز کوي تر څو د ټاکنو کمیسیون په خپلو کړنلارو کې له سره کتنه وکړي. او د امکان په صورت کې د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو پرمهال، رایه شمیرنه د ولسوالیو په مرکزونو کې ترسره کړي او د راتلونکي ولسمشري په ټولټاکنو کې هڅه پردې وي تر څو رایه شمیرنه درایې اخیستنې دبهیر له پاې موندلو وروسته پر هماغه مهال له شفافو کړنلارو په ګډه اخیستنه، درایې ورکونې په مرکزونو اومحلونو کې ترسره شي.

- قرنطین شویو صندوقونوته د رسیدنې په اړه د ټاکنو د فتر باید شفافه او څرګنده کړنلاره چې داسې موردونو ته د عادلانه او منصفانه رسیدنې ښکارندویه وي، جوړه او د اجراوړ وګرځوي او د شمیرنې په مرکزونو کې دهغې له سمې پلي کیدو ، ډاډ ترلاسه کړي.

- همدارنګه څارونکي او استازي باید د صندوقونو د قرنطین کیدو له دلیلونو او علتونو څخه باخبره شي او په همدې توګه دغو صندوقونو ته د رسیدنې او څیړنې پرمهال هم څارونکي باخبره اوپه جریان کې کینبودل شي تر څو د پروسې شفافیت تامین شي.

- بنیاد وړاندېز کوي تر څو د ټاکنو کمیسیون دې د ټاکنو په وروستیو پروسو کې که چېرې د درغلیو کچه په یوه سیمه، ولسوالۍ او یا یوه ولایت کې په ډیره کچه څرګندوي د ټاکنو په بیاله سره ترسره کیدو دې اقدام وکړي. البته په دې اړه د ټاکنو د کمیسیون پخوانې تیاري حتمي شرط بلل کیږي.

**ی- د سرغړونو او سزاګانو په اړه وړاندیزونه:**

- بنیاد وړاندیز کوي چې په ټاکنیزو پروسو کې د مکافاتو او مجازاتو د اصل پلي کول کلکې اغیزې لري او د نورو د هڅونې اوسمونې لامل ګرځي. په ډاډه سره ویلای شو چې دټاکنیزو سرغړونکو لپاره د مجازاتو د اصل پلي کیدل به د پروسې د قانونیت پر وړاند ې مثبت رول له ځانه سره ولري او باید یواځې په لیري کیدو بسیا ونکړو.

- سزا ورکول یواځې پرکارکونکو پورې تړاو ونلري بلکې پر کاندېدانو، د هغو پراستازیو، پولیسو او نورو سرغړونکو هم شاملې وي.

ii. **نیوکو او سر غړاویوته د رسیدنې په هکله وړاندیزونه:**

- بنیاد ټاکنیزو سرغړونو او نیوکو ته د رسیدنې په خاطر د یوه دایمي نهاد له جوړیدو څخه چې د قضایي پریکړو واک ولري، ملاتړ کوي.

- دغه نهاد د ټاکنیزو قضایاوو د حل و فصل په برخه کې له سترو واکونو څخه برخمن وي او دهغه غړي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، سترې محکمې اود مدني ټولنې د نهادونو سره په سلا مشورې کې له ناپیلو او بې پرې افرادو څخه و ټاکل شي.

- دغه نهاد دې دپخواني کمیسیون له سندونو او درلودنو څخه په ګټه اخیستنه د کړنلارو او کړندودونو په جوړونه لاس پورې کړي او هغوته عملي بڼه ورکړي.

- دداسې نهاد د موجودېت او دهغه د قانوني واکونو په اړه پوره خبرتیا ترسره شي.

- ټاکنیزو قضایاووته د رسیدنې په اړه ، عامه خبرتیا یو حتمي امر بلل کیږي. دغه کمیسیون خپلې کړنې د امکان په صورت کې هر وخت په عامه خبرونې ورسوي. تر څو ټاکنیزو قضایاووته د رسیدنې په اړه ددغه کمیسیون د کړنو شفافیت تر پوښتنې لاندې رانشي.

- ټاکنیزو قضایاووته د څیړنې او رسیدنې په خاطر ددغه نهاد له کړونو څخه د څارونکو لخوا څارنه وشي تر څو باوري شي چې قضایاووته په عادلانه او منصفانه توګه رسیدنه کیږي. دغه امر په کمیسیون باندې د ډاډ او باور د زیاتولو لامل هم ګرځي.

- د هغو فورمو په اړه کوم چې د نیوکو او اعتراضونه لپاره جوړې شوې وې باید ووایو چې دغه فورمې د ځینو لپاره له پوره پیچېلتیا څخه برخمنې وې او نه یې شو کولای چې هغه په سمه توګه بشپړې کړي. نو بنیاد وړاندیز کوي تر څو ددغو فورمو په اړه له سره کتنه وشي او هغه په ساده بڼه جوړې کړي.

- ددغه نهاد ولايتي دفترونه بايد د ټاکنو د دفتر له ولايتي دفترونو څخه جلا تشکيلاتي جوړښت ولري تر څو ددغه نهاد تشکيلاتي خپلواکي تامينه او تر پوښتنې لاندې رانشي.

- ټاکنيزو قضاياووته د رسيدنې لپاره د پوره وخت درلودنه، ددغه نهاد له مهمو اړتيا وو څخه بلل کيږي . نو په دې لحاظ دغه نهاد دخپلو پريکړو او کړنو پر مهال بايد دغه ټکې ته پاملرنه وکړي تر څو ټاکنيزو قضاياوو ته د رسيدنې پر مهال د وخت دکمښت له ستونزې سره مخ نه شي.

**iii. ملي شورا:**

بنياد د ملي شورا لپاره هم ځينې وړاند ېزونه لري:

- ملي شورا له حکومت سره د سميه ئيزو اداري واحدونو د پولو او حدودو په ټاکلو کې مرسته وکړي تر څو د ټاکنيزو حوزو ټاکنه او واحدونو ته د نفوسو د برخې پر بنسټ د څوکيو ويشنه، په راتلونکي کې کومې ستونزې منځ ته رانولي.

- ملي شورا دې د ټاکنو د قانون په اړه له سره کتنه وکړي، يو اغيزمن ټاکنيز سيستم چې د افغانستان له حال سره مناسب وي د هغو ټولنو د دودېزو سيستمونو په پام کې لرلو او پرتله کولو سره کوم چې د افغانستان په شان وضعيت يې تير کړي او ولري انتخاب او وټاکي.

**iv. د حکومت لپاره وړاندېزونه:**

په ټاکنيزو پروسو کې حکومت مسووليت لري تر څو د برياليو ټاکنو د ترسره کيدو لپاره زمينه برابره کړي. ترڅو د ټاکنو کميسيون وکړاي شي خپل مسووليت د آزادو او عادلانه ټاکنو په ترسره کيدو کې چې په هغه کې د هر ګډون کونکي حق ( انتخابونکي، انتخابيدونکي) ساتل شوي وي او له بلې خوا خلک وکولاي شي پرته له کومې ويرې او ګواښونې په پروسه کې برخه واخلي، ادا کړي .

بنياد حکومت ته هم څو طرحې د وړاندېز په توګه وړاندې کوي چې د هغو پلي کول به په ډاډسره ښې پايلې نه يواځې په ټاکنيزو پروسو کې بلکې په نورو عرصو کې هم له ځانه سره ولري، دغه وړاندېزونه په لاندې توګه دي:

**۱. د امنيت په برخه کې:**

- بايد ووايو يو له هغو ستونزو چې په دغو تيرو دوو ټاکنو کې د رايه ورکونې په بهير کې څه په لوژستيکي لحاظ او څه د درغليو د پيښيدو په لحاظ محسوسه شوه . درايې شميرنې مرکزونو ته درايې ورکونې له مرکزونو څخه دټاکنيزو توکو ليږدونه وه. دټاکنو کميسيون ته دغه مرحله يو له کړکيچنو مرحلو څخه ګڼل کيده. که چېرې د امنيت مسله په دايمې توګه مساعده شي نور دې ته اړتيا نه ليدل کيږي چې توکي درايې ورکونې له

مرکزونو څخه د شمیرنې مرکزونو ته ولیږدول شي او دغه بهیر د ډیرو مالي لګښتونو سره مخ او هم د پروسې مشروعیت او قانونیت تر پوښتنې لاندې راشي.

- کومې هڅې او تدبیرونه چې حکومت یې د امنیت په اړه ترسره کوي باید د ټاکنو ټول مراحل ( له ټاکنو څخه ترمخه، د ټاکنو بهیر او وروسته له ټاکنو) په برکې ونیسي. نه یوازې د ټاکنو ورځ تر څو هیڅوک د خپلو نظرونو د څرګندونې او یا د خپل سیاسي حق د کارونې په دلیل ترګواښونې، کورپریښودنې او یا وژنې لاندې رانشي، د بې وسلې کیدنې د بهیر پرپلي کولو باندې له سره کتنه اود د غه بهیر د چټکتیا په برخه کې لازمې هڅې وشي، دغه راز د غیر رسمي پوځي قطعاتو او ډلو د له منځه وړلو په خاطر کوم چې همدا اوس هم د خلکو پر برخلیک باندې واک لري او په هیواد کې د ټولو ناکراریو سر چینه ګڼل کیږي، لاس پورې شي.
- پولیس او هغه امنیتي ځواکونه چې درایه ورکونکو ، کاندیدانو او په ټولیزه توګه د ټولې پروسې د امنیت تینګونې دنده پرغاړه لري باید خپله دناکراریو او نا امنیو د پیښیدو عامل ونه اوسي او د رایه ورکونکو د ویرونې او ډارونې لامل ونګرځي. حکومت په دې اړه پولیسو ته ځینې تادیبي سزاګانې په پام کې ونیسي او د پلي کیدو وړیې وګرځوي.

**۲ - د قضا په برخه کې:**

خپلواکه قضایه قوه د ډموکراتیکو نظامونه له مهمو شاخصونو څخه د عدالت د تامینولو په برخه کې بلل کیږي چې دغه نظامونه ددغې قوې په درلودو سره د خپلې ټولنې په پرمختګ او پرمختیا لاس پورې کوي خپلو وګروته د عدالت د تامینولو په روښنایي کې د رشد زمینه برابروي. دغه نظریه هغه مهال بریالیتوبونو ته لار پیدا کوي چې له یوې خوا قضایاووته رسیدنه وشي او له بلې خوا کوم قضاوت چې ترسره کیږي باید له سالمیت څخه برخمن وي.

یو له هغو مهمو ستونزو چې په دغو ټاکنو کې موجوده وه د جرایمو او مجرمینو د تورن والي او محکومیت موضوع وه ، ځکه چې پلو قوانینو د انتخابیدونکو په هکله د باصلاحیته محکمې حکم شرط ګڼلي وو حال دا چې تراوسه په افغانستان کې هیڅوک په جنګي او بشري ضد جرایمو نه دي محکوم شوي یو له هغو سترو ستونزو چې د شکایتونو کمیسیون په خپلو کړنو کې ورسره مخ وو، د ځینو کاندیدانو د مجرمیت او محکومیت په اړه د محکمې او قضا د حکم نه موجودیت وو او دا امر ددې لامل ګرځیدلي وو تر څو د ډیرو نیوونکو ( شاکیانو ) او معترضینو غبرونه پورته شي چې ګینې کمیسیون ددوي نیوکو او اعتراضونو ته رسیدنه نه کوي. حال دا چې دغه کمیسیون ته راغلي ډیرې نیوکې او اعتراضونه په همدې اړه وې.

نوپه همدې لحاظ بنیاد وړاندیزکوي تر څو د شفافه قضایي میکانیزم په جوړیدو کار وشي، د قضایي اصلاحاتو پروسه چټکتیا ومومي، قضایاوته په سمه او عادلانه توګه رسیدنه وشي او دولت دې د ملت

غوښتنې ته مثبت ځواب او په خپلې هغې وعدې ته کوم چې د عدالت د تامينولو له اړه يې کړې وه، وفا وکړي .

**۳- د عمومي سرشميرنې د تثبيتولو په برخه کې وړاندېزونه:**

يو له نورو هغو مهمو ستونزو چې په دغو ټاکنو کې موجوده وه ، دولسي جرګې د څوکيو په ترلاسه کولو کې د هيواد اداري واحدونو ته د برخه ورکونې په خاطر، په هيواد کې دوګړو د دقيقې سر شميرنې نه موجودېت وو. کومه سر شميرنه چې په دې ورستيو کې ترسره شوې وه، په هيواد کې د ډېرو ميشتو قومونو لپاره دمنلو وړنه وه او هغه يې ردوله .

سره له دې چې دټاکنو کميسيون د څوکيو ويشنه د يوه ترکيبي فورمول چې د بيړني لويې جرګې د سر شميرنې ،د ۱۳۵۸ کال د سر شميرنې او د وروستنې سر شميرنې پر بنسټ جوړ شوي وو. ترسره کړه خو دغه فورمول به په راتلونکي کې د اعتبار وړ نه وي او حکومت ددغې ستونزې په حلولو کې د هيواد د وګرو دقيقې شميرې ته اړتيا لري.

له بلې خوا دټاکنو کميسيون درايه ورکونې لپاره دشرايطو درلودونکو کسانو، دايمي لستونو ته اړتيا لري تر څو هر کال په هغو کې له سره کتنه وکړي او په هر ه ټاکنيزه حوزه کې د رايه ورکونکو د قيقه شمير ه ځان ته څرګنده کړي.

نو په دې اساس بنياد په خپل مخکني وړاندېز ټينګار کوي چې د تابعيت د تذکرې نوي سيستم دې جوړ او پلي شي او په دې اړه د يوه ګډ جوړښت د رامنځ ته کيدو چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون، د کورنيو چارو له وزارت د احصايې له عمومي ادارې څخه جوړ شوي وي، ملاتړ کوي تر څو هغوي په دې اړه د يوه منظم پلان له مخې د امکاناتو په پام کې نيولو سره يو ساده او مناسب سيستم جوړ او ورباندې کاروکړي خوتر مخه له دې چې دغه کار پيل شې ددغه سيستم د اهميت او اغيزمنتوب په اړه د عمومي کمپاينونو په توګه د عامه پوهاوي په برخه کې ،اغيزمنې خپرونې ترسره شي، دغه امر له څو اړخونو د اهميت وړ ده:

- د کوچيانو په شمول د وګړو د دقيقې شميرنې څرګندېدنه په هر اداري واحد (ولايت ) او په ټوليزه ډول په ټول هيواد کې.
- د رايې ورکونې لپاره د شرايطو درلودونکو ددقيقې شميرې څرګندېدنه او د رايه ورکونکو د دايمي لستونو جوړېدل.
- له هغو مالي لګښتونو څخه مخنيوي، کوم چې په ټاکنو کې د نوم ليکنې د کارتونو د اصلاح او ويشلو په برخه کې لګول کيږي.
- کولاې شو ووايو چې ددغه امر پلي کول به د يوه تن لخوا څخه د څو ځلي رايه ورکونې په مخنيوي کې هم اغيز من واقع شي.
- درايه ورکونکو د جعلي کارتونو له جوړيدو څخه مخنيوي.
- د هويت د پېژندګلوي لپاره هم شرايط برابر وي.

**IV- نړیوالو ټولنو ته:**

سره له دې چې دولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په ترسره کیدو د بن د لوځنامې مواد پای ته ورسیدل خو بیا هم اړتیا لیدله کیږي تر څو د ملګرو ملتونو ماموریت د افغانستان د مسئلو په وړاندې دوام ومومي. بنیاد په دې اړه:

- له ملګرو ملتونو او نړیوالو ټولنو څخه هیله لري تر څو په افغانستان کې دولسواکۍ د ټینګولو په خاطر د راتلونکو ټاکنو په ترسره کیدو کې خپلو مالي او تخنیکي مرستوته ادامه ورکړي. هغوي د افغانستان له خلکو او دولت سره د سولې او ثبات په ټینګولو کې، په واقعي ډول د بې وسلې کیدنې د بهیر په پلي کیدو کي، د عدالت په تامینولو کې، د مخدره توکو د کښت او ترافیک په له منځه وړلو کې، مرسته او ملاتړ وکړي او د مدني ټولنې د نهادونو په پیاوړتیا لاس پورې کړي تر څو هغوي لاښه د ملت په فکري بیارغاونه و توانیږي.

- همدرانګه بنیاد دملګرو ملتونو له هیئت او نورو دوستو هیوادونو څخه انتظار لري، دا چې افغانستان له ډیرو کلونو جارجګړو وروسته خپله لمړنۍ ملي شورا جوړه کړه، د هغو د غړو د کاري ظرفیتونو او مهارتونو په لوړولو کې اغیزمنې خپرونې په لاړ واچوي تر څو د افغانستان پارلمان وکولای شي د خلکو او هیواد په وړاندې خپل دراندہ مسوولیتونه ترسره کړي.

- بنیاد په لړ ه شمیره د نړیوالو څارونکو ونډه د افغانستان د ټاکنو په څارنه کې، د اندیښنې وړبولي او انتظار لري تر څو په راتلونکو ټاکنیزو پروسو کې نړیوال څارونکي په خپل پراخ ګډون له مونږ سره مرسته او په دغه هیواد کې دولسواکۍ د ټینګښت او اصلاح په برخه کې لاډیرې هڅې وکړي. همدارنګه د کورنیو څارونکو د مهارتونو او استعداونو په لوړلو کې د خپلو تجربو او درلودنو له شریکولو څخه هیڅ راز ډډه ونکړي. په دې سره چې ددغه امر پلي کول به د څارنیزو نهادونو تر منځ په پراخه کچه یو تړاو او پیوستون رامنځ ته کړي او په دې توګه دوي به وکړای شي تر څو په نړیواله کچه د ټاکنیزو سیستمونو په اصلاح لاس پورې کړي.

**VI- هغو نهادونو ته وړاندیزونه کوم چې د ښځو د ظرفیتونو د لوړولو او پرمختیاپه برخه کې کار کوي:**

ښځې چې نیمه ټولنه جوړوي د تاریخ په اوږدوکې راز راز ظلمونو او مصیبتونه ګاللي، اګر که د لنډ مهاله اداري له رامنځ ته کیدو او د اساسي قانون له تصویب وروسته دښځو په وضعیت کې مثبت بدلونونه راغلي ولې په هغو باندې بسیا ونشي او په دې اړه باید لاتورې ډیرې هڅې وشي تر څو په ټولو عرصو کې له نارینه و سره اوږه په اوږه ښځې هم د پرمختګ چانس ترلاسه کړي.

په تیرو دوو ټاکنیزو پروسو کې د ښځو زړوره برخه اخیستنه نه یوائې د رایه ورکونکو په توګه بلکه د ټاکنیزو کاندېدانو او نوماندانو په توګه په هیواد کې دولسواکۍ په ټینګولو کې یو ستر او مثبت ګام بلل کیږي. لکه څنګه چې د هرات په ولایت کې د بریالیو کاندېدانو په لومړي کتار کې دښځینه کاندېدې راتګ. ددغه امر د اثبات یوه بیلګه ده.

اما د ټاکنو په بهیر کې لکه څنګه چې په راپور کې هم ترې یادونه وشوه په ځینو سیمو او مرکزونو کې د ښځو له بیسوادي څخه د یو شمیر کاندېدانو په ګټه . ناوړه استفاده شوې او یا خوښې هغوي د خپلې ارادې برخلاف څرګند و کاندېدانو ته د خپل کور د نارینه و او میړونو لخوا په رایه ورکونه مجبوره شوې دي .
نو پدې لحاظ بنیاد هغو نهادونو ته کوم چې د ښځو د مهارتونو اواستعدادونو د پرمختیا په برخه کې کار کوي، وړاندېز کوي تر څو ښځو ته د سواد د زده کړې لپاره او همدارنګه د هغو د ظرفیتونو د لاوړولو په خاطر ډېرې هڅې وکړي او ښځې دې ته وهڅوي تر څو له پخوا څخه هم په پراخه کچه په ټاکنو کې برخه واخلي او هغو ته عمومي خبرونه د ټاکنو د اصولو او اهمیت په اړه ورکړي . تر څو په راتلونکو کې ښځې د بیسوادي او ناپوهي په عنوان تر ناوړه ګټه اخیستنې لاندې رانشي.

**VII- د رسنیو په اړه وړاندېزونه:**

- رسني او مطبوعات د عامه ذهنیتونو په روښانولو کې ستره ونډه لري لکه څنګه چې دټاکنو پرمهال دغه موضوع پوره روښانه شوه چې رسني د ټاکنو د پروسې په اړه ستره ونډه ادا کولای شي. څه د عامه خبرونې په برخه کې او یا څه هم د ټاکنیزو سالیو په دوران ، د ټاکنو په ورځ او یا درایي شمیرنې پر مهال. بنیاد په دې اړه وړاندېز کوي تر څو ډله ئیزې رسني باید له پخوا څخه هم ډېر عامه ذهنیتونه د ټاکنو د قانون ، د ټاکنیزو کړنلارو د ټاکنو د دفتر دپریکړو ، نیوکو او اعتراضونه ته د رسیدنې په اړه او د نورو هغو موردونه په اړه کوم چې د ټاکنو په پروسې پورې تړاو لري، روښانه کړي.

## دویمه برخه:

## دولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو په څارنه کې.

### د بنیاد د پلان پېژندګلوي

څرنګه چې تر مخه یادونه شوه د بنیاد د رهبري هیئت د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د څارنې په مقصد ، پریکړه وکړه تر څو بنیاد یواځې د رایه ورکونې او رایې شمیرنې له بهیرونو څخه په منظمه توګه څارنه وکړي او پاتې مرحلې لکه درایه ورکونکو د نوم لیکنې مرحله ، د نوماندانو د ثبتیدو دوره او یا د ټاکنیزو سیالیو دوره په نمونوي او ګرځنده توګه و څاري.

نو په همدې لحاظ پلان په داسې ډول جوړ او تصویب شو چې :
د څارنې د عملیاتې چارو د پلي کولو اوپر مخ بیولو پخاطر له همکارو نهادو څخه په دې خاطر چې هغوې لـه ډيرو امکاناتو او آسانتیاوو څخه برخمن دي، ګډه واخیستلې شي ، چې دبنیاد ونډه یواځې همکارو نهادونو ته د مالي لګښتونو برابرول، د هغو د ولایتي سر روزنکو اساسي روزنه، د لاربنودونو او روزنیزو توکو او د راپورونو د فورمو جوړونه او سیمو ته د هغو لیږنه دولایتي مالي او اداري چارو د مسوولینو روزنه او بالاخره له هغو څخه د ټولو راپورونو راټولونه وه.
همدارنګه د څارنیزي سیمې د پراختیا په اړه پریکړه وشوه تر څو :

- ټول ۳۴ ولایته په عملیاتي پلان کې شامله وي.

- له موجوده ولسوالیو څخه په ټولیزه توګه ۲۱۷ ولسوالۍ چې د ولایتونو مرکزونه هم په کې شامله وي ، و څارل شي. چې دغه رقم ۵۵% جغرافیاوي سیمه تر پوښښ لاندې راوسته . د کابل ، بلخ، ننګرهار، کندهار او هرات ولایتونه د هغو ولایتونو لـه جملې څخه وو چې پـه بشپړه ډول وڅارل شول.

- له ټولو رایه ورکونې له مرکزو څخه د بنیاد څارنه ۲۵% او یا له دې څخه لږ څه زیات، رقم تشکیلوو .

- په هر مرکز کې دو ه تنه څارونکي وګمارل شي. بنیـاد د عملیـاتي پلان د پلي کیدو پخـاطر یومهال ویش جوړ کړ تر څو خپلې کړنې په سمه توګه ترسره کړي دغه مهال ویش د بنیاد دڅارونکو شمیره ، د څارل شویو مرکزونو او محلونو شمیره په ورستیو پاڼو کې دبیلا بیلو عنوانونو په ترڅ کې تر څیړنې لاندې نیول شوي دي.

١ . د ملي شورا د ټاکنو په څارنه کې د بنياد عملياتي مهال ويش

| | FEFA Timeline (2005 Parliamentary Elections) | | 10-16 Jul | 17-23 Jul | 24-30 Jul | 31 Jul - 06 Aug | 7-13 Aug | 14-20 Aug | 21-28 Aug | 28 Aug-03 Sep | 4-10 Sep | 11-17 Sep | 18-24 Sep | 25 Sep-01 Oct | 2-8 Oct | 9-15 Oct | 16-22 Oct | 23-29 Oct | 30 Oct - 05 Nov | 6-12 Nov | 13-19 Nov | 20-26 Nov | 27 Nov- 03 Dec | 04- 10 Dec | 11-17 Dec | 18-24 Dec | 25-31 Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | MOU with Partners | له غړو د فترونو سره د لوځنامې ترون | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٢ | Brief heads of partner org. on FEFA | د غړو سيمه يزو دفترونو چارواکو ته د معلوماتو وړاندې کول | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٣ | Recruit Master Trainers | د سر روزونکو ګمارنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٤ | Train Master Trainers | د سر روزونکو روزنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٥ | Train Provincial Finance Officers | د ولايتي مالي او اداري چارو مسئولينو روزنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٦ | Recruit District Trainers | د ولسواليو د روزنکو استخدام | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٧ | Train District Trainers | د ولسواليو د روزنکو روزنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٨ | Recruit Observers | د څارونکو ګمارنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٩ | Train Observers | درايي ورکوني د څارونکو روزنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٠ | Final briefing of observers | څارونکو ته وروستني لنډ معلومات ورکول | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١١ | Observe the elections | درايي ورکوني له بهير څخه څارنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٢ | Observe the counting | د شميرني له بهير څخه څارنه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٣ | Report Voting Observations | د رايي ورکوني له څارني څخه د راپور وړاندې کول | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٤ | Report Counting Observation | د شميرني د راپور وړاندې کول | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٥ | Final Report | د وروستي راپور وړاندې کول | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٦ | Provincial coucil election for Meshrano Jerga seats | مشرانو جرګې ته د ولايتي شوراګانو د استازيو ټاکني | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٧ | Prepare and Submit FEFA plan for post election | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١٨ | | د بنياد د راتلونکي پلان جوړونه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

## ۲- د اجرائيوي فعاليتونو سمون:

### ۱- د همکارو دفترونو منل:

د عملياتي پلان د پلي کولو په خاطر، د بنياد له اساس ليک سره سم **۲۵** بې پرې او ناپيلي نهادونه د مدېره هيئت لخوا د همکارو يا مرستندويو نهادونو په نامه ومنل شول چې له دې جملې څخه يې **۹** نهاده د بنياد د موسسو نهاودونو څخه او پاتې **۱۲** نهاده نور هغه نهاونه وو چې ځيني يې له بنياد سره دولسمشري په ټاکنو کې او ځيني نوريې تازه له بنياد سره همکاره شول له دغو نهادونو سره د چنګابښ په **۲۳** مه نيټه پروژه يې تفاهم ليک لاسليک شو.

د هغو موسسو نهادونو لست کوم چې ددې پروژې په پلي کيدوکې يې له بنياد سره د همکارو نهادو په توګه غړيتوب درلود.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان د مدني ټولنې اجتماع | ACSF |
| ۲ | افغان پرمختيايي ټولنه | ADA |
| ۳ | د افغانو ښځو شبکه | AWN |
| ۴ | د فرهنګ او مدني ټولنې بنياد | FCCS |
| ۵ | د افغانستان لپاره د مرستو د سمون اداره | COAR |
| ۶ | د بې وزلو نجونو او ښځو لپاره روزنيز مرکز | ECW |
| ۷ | د بامداد اندېښې کلتوري او ټولنيز سازمان | MSCO |
| ۸ | د ښځو لپاره د بشري حقونو روزنيز انجمن | THRA |
| ۹ | د ډموکراتو محصلينو غورځنګ | DSM |

د بنياد له موسسو غړو څخه د وتلو نهادونو لست کوم چې په دغه پروژه کې له بنياد سره همکاره وو.

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان د ملي مشارکت انجمن | ANPA |
| ۲ | د افغانستان د جوړونې د خدمتونو اداره (رسا) | RSA |
| ۳ | د افغانو ښځو خدماتي او تعليمي موسسه | AWSE |
| ٤ | د جک موسسه | JACK |
| ٥ | د بشري حقوقو او د چاپيريال ساتنې اداره | AOHREP |
| ٦ | د سياسي څيړنو نړيوال مرکز | ISPRCA |
| ۷ | د ځوانانو حقوقو ملاتړ ټولنه | AAYR |
| ۸ | د سولې او عدالت بنياد | PJF |
| ۹ | د آريا مهر د بيا رغاونې موسسه | ARE |
| ۱۰ | افغان بهير | BAHIR |
| ۱۱ | د افغانستان د قضاتو اتحاديه | AJA |
| ۱۲ | د سرخرود د بيا رغاونې پروګرام | SRP |
| ۱۳ | د افغاني غير دولتي موسسو د همغږي اداره | ANCB[1] |
| ۱٤ | د هرات د متخصصانو شورا | HPS |
| ۱٥ | د ښونکو صنفي اتحاديه | T U |
| ۱٦ | د غازي محمد اکبر خان د ځوانانو ټولنه | **GHYSA** |

---

د افغاني غير دولتي موسسو د همغږي اداره د خپلو همکارو سازمانانو له لارې له موږ سره برخه درلوده لکه

۱ افغان مشورتي ادارهABC

۲[1] د ساختماني چارو او زده کړو ايجنسيACT

**۲- د سرروزنکو، روزنکو او ښارونکو ګمارنه او هغو ته د ښوونیزو او روستیو معلوماتو د خپرونو ترسره کونه:**

- له هغه تفاهم سره سم کوم چې د بنیاد او دهغه د همکارو دفترونو ترمنځ لاسلیک شو، دغو نهادونو دنده درلوده تر څو ۳۷ تنه سرروزونکي چې یوتن د هر ولایت لپاره ګمارل کیده پرته له کابل څخه چې ۴ تنه سرروزونکي ورته په پام کې نیول شوي وو، بنیاد ته ورو پیژني. چې وروسته له پیژندګلوي بنیاد هغو ته د دریو ورځو لپاره ښوونیزه خپرونه د زمري له څلورمې تر شپږمې نیټې پورې ترسره کړه.
- د زمري پر اوومه نیټه سرروزونکي بیرته خپلو سیمو ته روان شول تر څو په خپلو ولایتونو کې نور روزونکي په کار وګماري.
- وروسته له دې چې د بنیاد پلان پراختیا وموند ، له همکارو نهادونو څخه غوښتنه وشوه تر څو له هر ولایت څخه یوتن بل سرروزونکي بنیاد ته وروپیژني. چې د زمري له ۱۸ تر ۲۰ مې نیټې دوي ته ښوونیزه خپرونه ترسره شوه.
- وروسته له دې چې سرروزونکي خپلو سیمو ته ولاړل دوي په هغه ټاکلې شمیره د روزنکو د ګمارنې په هڅه کې شول کوم چې د بنیاد لخوا ورته څرګنده شوې وه. روزنکو ته د روزنیزو خپرونو ترسره کونه په جدول کې له ذکر شویو نیټو سره سم، ترسره شوې. که څه هم روزنکو ته د روزنیزو خپرونو ترسره کیدنه باید د وږي تر دریمې نیټې پاي موندلي وي خو له دې امله چې د بنیاد پلان پراختیا وموندله او د ولسوالیو شمیر زیات شو دغه لړي لږ اوږده شوه.
- د وږي له نهمې تر دیارلسمې نیټې د ښارونکو د نومونو لستونه او د باورلیکونو د ترلاسه کیدو فورمې په ټول هیواد کې د ټاکنو ولایتي دفترونو ته وسپارل شوې.
- د هیواد د ۳۴ ولایتونو په ۲۱۷ ولسوالیو کې ښارونکو ته د روزنیزو خپرونو ترسره کیدنه کوم چې په بیلا بیلو نیټو ترسره شوي او په لاندني جدول کې په څرګنده توګه روښانه شوي.
- وروستني معلومات یوه او یا دوه ورځې ترمخه له ټاکنو ، ښارونکو ته د اړوندو روزنکو لخوا ورکړل شوي او په هغو مرکزو کې چې لست یې د ټاکنو د دفتر لخوا جوړ شوی ، درایې ورکونې له بهیر څخه د ښارنې په موخه په کار وګمارل شول. په ځینو ولایتونو کې چې د مرکزونو شمیره د بنیاد لخوا د اټکل شوې شمیرې په پرتله زیات وو، ځینې نور ښارونکي هم په کار ګمارل شوي دي.
- ښارونکو یوه ورځ تر مخه له ټاکنو د مرکزونو په لیدو او کتلو لاس پورې کړ تر څو د ټاکنو په ورځ له ستونزو سره مخ نشي. لکه څنګه چې ولیدل شول ځینو مرکزونو په خپلو ټاکل شویو موقعیتونو کې شتون نه درلود او ځینې یې اصلاً موجود نه ووچې له روزنکو سره د موضوع په شریک کولو، ښارونکي د اړتیا سره سم په بل مرکز کې ګمارل شوي دي.

## د سرروزونکو، روزنکو او څارونکو د روزنیزو خپرونو نیټې:

| ګڼه | ولایت | د باور لیکونو د موندنې نیټه | د سر روزونکو د روزنې نیټه: د لمړي دورې سرروزونکو ته | د سر روزونکو د روزنې نیټه: د دویمې دورې سرروزونکو ته | د ولسوالیو د روزونکو د روزنې نیټه | د رایه ورکونې د پروسې د څارونکو د روزنې نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | بدخشان | د وږي ۱۹ | د زمري له اتلسمې تر شلمې نیټې | د زمري له څلورمې تر شپږمې نیټې | د وږي ۴-۶ | د وږي ۱۷-۲۴ |
| 2 | بادغیس | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۱۹-۲۱ | د وږي ۲۲-۲۳ |
| 3 | بغلان | دوږي ۲۵ -۲۶ | | | د وږي ۲-۴ | د وږي ۲۳ |
| 4 | بلخ | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۳۰ | د وږي ۸-۱۱ |
| 5 | بامیان | د وږي ۲۳ | | | د زمري ۲۷-۳۰ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| 6 | فراه | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۱۲ |
| 7 | فاریاب | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۱ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| 8 | غزني | د وږي ۲۷ | | | د وږي ۱۲ | د وږي ۲۲-۲۴ |
| 9 | غور | د وږي ۱۵ | | | د زمري ۲۵ | د وږي ۱۵-۱۶ |
| 10 | هرات | د وږي ۲۶ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۱۳-۱۹ |
| 11 | هلمند | د وږي ۲۵ | | | د وږي ۸ | د وږي ۲۲ |
| 12 | جوزجان | د وږي ۲۲ | | | د وږي ۳ | د وږي ۱۹-۲۰ |
| 13 | اکابل | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۲-۲۳ |
| د کابل نواحي | ۲ ناحیه | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۲-۲۳ |
| | ۳ | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۴ | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۵ | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۶ | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۷ | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۸ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۲ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| | ۹ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۲ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| | ۱۰ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۱ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۲ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۳ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۴ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۵ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۱۶ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| | ۱۷ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| | ۱۸ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۱۷-۱۸ |
| | ۱۹ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۲۰ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۲۱ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | ۲۲ | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | بگرامي | د وږي ۲۰ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |

| گڼه | ولایت | د باور لیکونو د موندنې نېټه | د سر روزونکو د روزنې نېټه | | د ولسوالیو د روزونکو د روزنې نېټه | د رایه ورکونې د پروسې د ښارونکو د روزنې نېټه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د لمړي دورې سرروزونکو ته | د دویمې دورې سرروزونکو ته | | |
| د کابل ولسوالي گانی | چارآسیاب | د وږي ۱۹ | د زمري له اتلسمې تر شلمې نېټې | د زمري له څلورمې تر شپږمې نېټې | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۱-۲۳ |
| | ده سبز | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | فرزه | د وږي ۲۵ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲ |
| | گلدره | د وږي ۲۰ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| | استالف | د وږي ۲۵ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲ |
| | کلکان | د وږي ۲۵ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲ |
| | خاک جبار | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲ |
| | میربچه کوت | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲-۲۳ |
| | موسهي | د وږي ۱۹ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۱-۲۳ |
| | پغمان | د وږي ۲۳ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۱۹-۲۱ |
| | قره باغ | د وږي ۲۶ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۱-۲۲ |
| | شکر دره | د وږي ۲۶ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۱-۲۲ |
| | سروبي | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۲۲ |
| 14 | کاپیسا | د وږي ۲۵ | | | زمري ۲۷- دوږي ۸ | د وږي ۲۵ |
| 15 | خوست | د وږي ۲۵ | | | د وږي ۵-۶ | د وږي ۱۶-۲۲ |
| 16 | کنر | د وږي ۲۶ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۲۴ |
| 17 | کندز | د وږي ۲۴ | | | د وږي ۲ | د وږي ۲۲-۲۳<br>د وږي ۱۲-۱۳ |
| 18 | لغمان | د وږي ۲۶ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۲۴ |
| 19 | لوگر | د وږي ۱۹ | | | د زمري ۲۷ | د وږي ۱۹-۲۳ |
| 20 | ننگرهار | د وږي ۲۶ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۱۶-۲۴ |
| 21 | نورستان | د وږي ۱۱ | | | دوږي ۱ | د وږي ۶-۷ |
| 22 | پکتیکا | د وږي ۲۴ | | | دوږي ۱۵ | د وږي ۲۱-۲۲ |
| 23 | پکتیا | د وږي ۲۶ | | | د زمري ۳۱ | د وږي ۲۴ |
| 24 | پنجشیر | د وږي ۱۶ | | | دوږي ۷ | د وږي ۲۴ |
| 25 | پروان | د وږي ۲۵ | | | دوږي ۱۳ | د وږي ۲۲ |
| 26 | سمنگان | د وږي ۲۵ | | | د زمري ۲۴ | د وږي ۲۲-۲۴ |
| 27 | سرپل | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۲۷ | د وږي ۲۳-۲۴ |
| 28 | تخار | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۲۷ | د وږي ۳- ۸ |
| 29 | وردک | د وږي ۲۵ | | | د زمري ۲۵ | د وږي ۲۴ |
| 30 | زابل | د وږي ۲۵ | | | دوږي ۵ | د وږي ۲۲-۲۳ |
| 31 | دایکندی | د وږي ۲۴ | | | د زمري ۱۵ | د وږي ۱۸ |
| 32 | کندهار | د وږي ۲۵ | | | دوږي ۳ | د وږي ۶ |
| 33 | نیمروز | د وږي ۲۶ | | | دوږي ۳ | د وږي ۲۱ |
| 34 | ارزگان | د وږي ۲۴ | | | دوږي ۱ | د وږي ۱۲ |

## ۳- په بشري او سیمه ئیزه کچه د بنیاد د امکاناتو پیژندګلوي:

### الف- د رایه ورکوني په پروسه کې:

په لاندې جدول کې د ځارل شویو ولایتونو، ولسوالیو ،مرکزونو ، محلونو او د ځارونکو د شتون شمیره په دریو مرحلو کې (د رایه ورکوني له پیل څخه تر مخه، د رایه ورکوني په بهیر کې او د رایه ورکوني په پای کې) څیړل شوي. چې د بنیاد د ځارني د عملیاتي پلان څرګندونکي او په ډاګه کونکې ده.

| کڼه | ولایت | ځارل شوي ولسوالي | د پلان په پلي کیدو کې د بنیاد همکار نهادونه | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کې د ځارونکو شمیر | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کې د ځارل شویو مرکزونو شمیر | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کې د ځارل شویومحلونو شمیر | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي |
| ۱ | بدخشان | بهارک<br>فیض آباد<br>کشم<br>تګاب | د آریا مهر د بیا رغاوني موسسه ARE | 79 | 78 | 79 | 60 | 60 | 60 | 141 | 172 | 102 |
| ۲ | بادغیس | آب کمرى<br>قادیس<br>قلعه نو | د بشري حقوقو او د چاپیریال ساتني اداره / د بنونکي صنفي اتحادیه AOHREP/TU | 140 | 140 | 140 | 88 | 88 | 88 | 140 | 366 | 366 |
| ۳ | پروان | بګرام<br>چاریکار<br>جبل السراج<br>شیخ علی<br>سالنګ<br>سید خیل<br>شینواری<br>سرخ پارسا | د بشري حقوقو او د چاپیریال ساتني اداره AOHREP | 206 | 206 | 206 | 103 | 103 | 103 | 336 | 339 | 336 |
| ٤ | زابل | قلات<br>جلدک (شهرصفا) | د بشري حقوقو او د چاپیریال ساتني اداره AOHREP | ۲۲ | ۲۲ | ۲۲ | ١٦ | ١٦ | ١٦ | 53 | 53 | 53 |
| ٥ | هلمند | لشکرګاه<br>نوزاد<br>کجکی | د بنونکو صنفي اتحادیه TU | 116 | 116 | 116 | 58 | 58 | 58 | 116 | 287 | 116 |
| ٦ | دایکندی | نیلی | د بنونکو صنفي اتحادیه TU | 18 | 18 | 18 | 9 | 9 | 9 | 18 | 18 | 18 |
| ۷ | بغلان | نوی بغلان<br>دوشی<br>خنجان<br>نهرین<br>پلخمری<br>تا لا او برفک | د بي وزلو نجونو او ښځو لپاره روزنیز مرکز ECW | 189 | 189 | 189 | 95 | 95 | 95 | 189 | 414 | 189 |

| ګڼه | ولایت | ځارل شوي ولسوالي | د پلان په پلي کیدو کې د بنیاد همکار نهادونه | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د ځارونکو شمیره | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د ځارل شویو مرکزونو شمیر ه | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د ځارل شویومحلونو شمیره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي |
| ۸ | کندز | علی آباد<br>چاردره<br>دشت ارچی<br>امام صاحب<br>خان آباد<br>د ولایت مرکز<br>قله زال | د بي وزلو نجونو او ښځو لپاره روزنيز مرکز ECW | 392 | 392 | 392 | 392 | 392 | 392 | 658 | 660 | 658 |
| 9 | غزني | د ولایت مرکز<br>خوجه اومری<br>قره باغ<br>واغز<br>جاغوری | د افغانستان لپاره د بیا جوروني خدمتونه RSA | 201 | 212 | 211 | 186 | 197 | 197 | 202 | 420 | 213 |
| ۱۰ | بلخ | بلخ<br>چاربولک<br>چارکینت<br>چیمتا ل<br>دولت آباد<br>ده دادی<br>کلدار<br>کشن ده<br>خلم<br>مارمول<br>مزارشریف<br>نهر شاهی<br>شولگره<br>شورتیپه<br>زارع | د فرهنگ او مدني تولني بنیاد FCCS | 426 | 428 | 426 | 260 | 260 | 260 | 426 | 901 | 426 |
| ۱۱ | فاریاب | اندخوی<br>دولت آباد<br>خواجه سبز پوش<br>میمنه<br>پشتون کوټ<br>شیرین تگاب | د فرهنگ او مدني تولني بنیاد FCCS | 164 | 164 | 164 | 87 | 87 | 87 | 164 | 318 | 164 |
| ۱۲ | خوست | لکن<br>متون<br>نادرشاه کوټ<br>صبری/یعقوبی<br>سپیره<br>بک | د فرهنگ او مدني تولني بنیاد FCCS | 120 | 152 | 152 | 76 | 76 | 76 | 228 | 190 | 152 |

| ګڼه | ولایت | ځارل شوي ولسوالي | د پلان په پلي کیدو کي د بنیاد همکار نهادونه | په ولایتی کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر کی د ځارونکو شمیره | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر کی د ځارل شویو مرکزونو شمیره | | | په ولایتی کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر کی د ځارل شویو محلونو شمیره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي |
| ۱۳ | پکتیکا | شرنه<br>ارګون | د فرهنګ او مدني ټولني بنیاد FCCS | 94 | 94 | 94 | 47 | 47 | 47 | 112 | 112 | 112 |
| ۱٤ | سمنګان | حضرت سلطان<br>د ولایت مرکز | د ملي مشارکت انجمن ANPA | 110 | 110 | 110 | 29 | 29 | 29 | 123 | 123 | 123 |
| ۱۵ | تخار | بهارک<br>چاه آب<br>دشتی قلعه<br>فرخار<br>خواجه بهاوالدين<br>رستاق<br>تالقان<br>ینګی قلعه | د ډیموکراتو محصلینو غورځنګ DSM | 218 | 216 | 218 | 117 | 117 | 117 | 221 | 724 | 221 |
| ۱٦ | سرپل | بلخ اب<br>سنګ چارک<br>سرپل<br>سیاد | د ډیموکراتو محصلینو غورځنګ DSM | 172 | 170 | 172 | 86 | 101 | 86 | 172 | 214 | 172 |
| ۱۷ | ننګرهار | اچین<br>بتی کوټ<br>بهسود<br>چپرهار<br>ده بالا<br>حصارک<br>جلال آباد<br>کامه<br>خوګیانی<br>کوټ<br>کوزکنر<br>لال پور<br>مومندر<br>نازیان<br>پچیرآګام<br>رودات<br>شیرزاد<br>شینواري<br>سرخرود | د ښځو لپاره د بشري حقونو روزنیز انجمن THRA | 828 | 925 | 827 | 406 | 406 | 406 | 701 | 1532 | 761 |
| ۱۸ | لغمان | الینګار<br>الیشنګ<br>دولت شاه<br>مهترلام<br>قرغه یی | د ښځو لپاره د بشري حقونو روزنیز انجمن THRA | 380 | 362 | 380 | 112 | 112 | 112 | 444 | 444 | 444 |

| ګڼه | ولایت | ځارل شوي ولسوالي | د پلان په پلي کیدو کې د بنیاد همکار نهادونه | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر د کې ځارونکو شمیره | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر کې د ځارل شویو مرکزونو شمیره | | | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله نیز بهیر کې د ځارل شویو محلونو شمیره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي | پیل | بهیر | پاي |
| ۱۹ | کنړونه | اسدآباد<br>د پیچ دره<br>خاص کنړ<br>مرووه<br>نرنګ<br>نورګل<br>څوکې | د ښځو لپاره د بشري حقونو روزنیز انجمن THRA | 172 | 174 | 172 | 52 | 52 | 52 | 240 | 240 | 240 |
| ۲۰ | جوزجان | اقچه<br>فیض آباد<br>خواجه دوه کوه<br>شبرغان | افغانستان ته د مرستو ناظم / د ملي مشارکت انجمن CoAR/ANPA | 111 | 112 | 111 | 56 | 56 | 56 | 253 | 255 | 255 |
| ۲۱ | وردک | چک<br>جلریز<br>میدان ښار<br>سید آباد<br>۱بهسود<br>مرکزی بهسود | د افغاني غیر دولتي موسساتو د همغږي اداره ANCB | 128 | 127 | 128 | 116 | 116 | 116 | 355 | 355 | 355 |
| ۲۲ | کاپیسا | محمود راقی<br>نجراب<br>تګاب<br>۱کوهستان | د افغاني غیر دولتي موسساتو د همغږي اداره ANCB | 105 | 103 | 105 | 59 | 58 | 59 | 79 | 240 | 105 |
| ۲۳ | لوګر | برکی برک<br>خرخ<br>خوښی<br>محمد اغه<br>پل علم | د ځوانانو دحقوقو ملاتړ ټولنه AAYR | 116 | 86 | 116 | 60 | 60 | 60 | 118 | 240 | 118 |
| ۲٤ | نورستان | پارون<br>وامه<br>کامدیش | د ځوانانو دحقوقو ملاتړ ټولنه AAYR | 80 | 80 | 80 | 40 | 40 | 40 | 105 | 105 | 105 |
| ۲۵ | کندهار | ارغنداب<br>دامان<br>سپین بولدک<br>د کندهار ښار<br>ږنډ<br>میوند<br>معروف<br>پنج وایی<br>شاه ولی کوټ | افغان پرمختیایی ټولنه ADA | 220 | 260 | 221 | 99 | 99 | 99 | 266 | 266 | 266 |

| ګڼه | ولايت | ښارل شوي ولسوالي | د پلان په پلي کېدو کې د بنياد همکار نهادونه | په ولايتي کچه درايه ورکوني په دري مرحله نيز بهير کې د ښارونکو شميره | | | په ولايتي کچه درايه ورکوني په دري مرحله نيز بهير کې د ښارل شويو مرکزونو شميره | | | په ولايتي کچه درايه ورکوني په دري مرحله نيز بهير کې د ښارل شويومحلونو شميره | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پيل | بهير | پاي | پيل | بهير | پاي | پيل | بهير | پاي |
| ۲٦ | نيمروز | زرنج | افغان پرمختيايی تولنه ADA | 16 | 30 | 16 | 7 | 7 | 7 | 30 | 30 | 30 |
| ۲۷ | فراه | د ولايت مرکز | افغان پرمختيايی تولنه ADA | 50 | 50 | 50 | 25 | 25 | 25 | 50 | 64 | 50 |
| ۲۸ | ارزګان | دهراود<br>تيرين کوټ | افغان پرمختيايی تولنه ADA | 46 | 46 | 46 | 4 | 4 | 4 | 31 | 31 | 31 |
| ۲۹ | هرات | چشت شريف<br>غوريان<br>ګلران<br>کروخ<br>کشک کهنه<br>اوبی<br>پشتون زرغون<br>شينډنډ<br>زنده جان<br>انجيل<br>فارسی<br>ګذره<br>کوسين<br>کشک رباط سنگی<br>د ولايت مرکز<br>ادرسکن | د هرات د متخصصانو شورا HPS | 702 | 705 | 702 | 423 | 423 | 423 | 702 | 1372 | 702 |
| ۳۰ | غور | چغچران<br>شارک | د هرات د متخصصانو شورا HPS | 70 | 84 | 73 | 40 | 40 | 40 | 70 | 109 | 70 |
| ۳۱ | کابل | ناحيه1<br>ناحيه 2 | د افغان قضاتو اتحاديه AJA | 826 | 1074 | 1074 | 464 | 577 | 577 | 2181 | 2759 | 2085 |
| | | ناحيه 3<br>ناحيه 4<br>ناحيه 5<br>ناحيه 6<br>ناحيه 7<br>د ده سبز ولسوالي | د بامداد انديشي کلتوري او ټولنيز سازمان MSCO | | | | | | | | | |
| | | ناحيه ۸<br>ناحيه ۹ | د وزير اکبر خان د ځوانانو تولنه GHYSA | | | | | | | | | |
| | | ناحيه ۱٦<br>ناحيه ۱۷<br>ناحيه 18 | د وزير اکبر خان د ځوانانو تولنه GHYSA | | | | | | | | | |
| | | ناحيه 10<br>ناحيه 11<br>ناحيه ۱۲ | د ملي مشارکت انجمن ANPA | | | | | | | | | |

| ګڼه | ولایت | څارل شوي ولسوالی | د پلان په پلي کېدو کې د بنیاد همکار نهاد | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د څارونکو شمیر: آغاز | جریان | ختم | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د څارل شویو مرکزونو شمیر: آغاز | جریان | ختم | په ولایتي کچه درایه ورکوني په دري مرحله ئیز بهیر کي د څارل شویومحلونو شمیر: آغاز | جریان | ختم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۳ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | ۱٤ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | ۱۵ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | ۱۹ ناحیه | د ملي مشارکت انجمن ANPA | | | | | | | | | |
| | | ۲۰ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | ۲۱ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | ۲۲ ناحیه | | | | | | | | | | |
| | | بگرامی | د جک موسسه JACK | | | | | | | | | |
| | | گلدره | | | | | | | | | | |
| | | چاراسیاب | د ځوانانو ملاتړ ټولنه AAYR | | | | | | | | | |
| | | موسهی | | | | | | | | | | |
| | | خاک جبار | نړیوال ځیرنیز مرکز ISPRCA | | | | | | | | | |
| | | سروبی | | | | | | | | | | |
| | | فرزه | د بشري حقونو او چاپیریال ساتني سازمان AOHREP | | | | | | | | | |
| | | استالف | | | | | | | | | | |
| | | کلکان | | | | | | | | | | |
| | | میر بچه کوټ | د ښونکو اتحادیه TU | | | | | | | | | |
| | | پغمان | AWN | | | | | | | | | |
| | | قره باغ | د سر خرود بیارغونی پروگرام SRP | | | | | | | | | |
| | | شکر دره | | | | | | | | | | |
| ۳۲ | پکتیا | احمد آباد | افغان بهیر BAHIR | 304 | 304 | 304 | 140 | 140 | 140 | 464 | 464 | 464 |
| | | احمد خیل | | | | | | | | | | |
| | | گردیز | | | | | | | | | | |
| | | گرده څیری | | | | | | | | | | |
| | | ځاځي اریوب | | | | | | | | | | |
| | | سید کرم | | | | | | | | | | |
| | | زرمت | | | | | | | | | | |
| ۳۳ | پینجشیر | بازارک | د سولې او عدالت بنیاد PJF | 16 | 16 | 16 | 12 | 13 | 12 | 16 | 59 | 16 |
| | | رخه | | | | | | | | | | |
| ۳٤ | بامیان | د ولایت مرکز | د افغاني ښځو خدماتي او تعلیمي موسسه AWSE | 160 | 160 | 160 | 87 | 87 | 87 | 218 | 218 | 218 |
| | | شیبر | | | | | | | | | | |
| | | سیغان | | | | | | | | | | |
| | | یکاولنگ | | | | | | | | | | |
| | | کهمرد | | | | | | | | | | |
| | 34ولایتټه | د څارل شویو ولسوالیو مجموعي شمیره ۲۱۷ | د همکارو د فترونو مجموعي شمیره (۲۵) دفتر | د بروسی په بیل کی د څارونکو شمیره6991 | په بهیر کی د څارونکو شمیره 7405 | د پروسي په پاي کی د څارونکو شمیره7284 | په پیل کی د څارل شویو مرکزونو شمیره3906 | په بهیر کی د څارل شویو مرکزونو شمیره4045 | په پاي کی د څارل شویو مرکزونو شمیره 4030 | په پیل کی د څارل شویو محلونو شمیره 9622 | په بهیر کی د څارل شویو محلونو شمیره14094 | په بای کی د څارل شویومحلونو شمیره 9736 |

**ب_ په رایې شمیرنې کې:**

| د شمیرنې، د څارل شویو مرکزونو شمیره | ددغې مرحلې په څارنه کې د څارونکو مجموعي شمیره |
|---|---|
| ټول ۳۴ درایې شمیرنې مرکزونه (۱۰۰%) | ۷۲ تنه څارونکي (دوه تنه څارونکي د هر مرکز لپاره) پرته د کندز له ولایت څخه چې هلته شپږ تنو څارونکو ونډه درلوده |

**ج- مشرانو جرګې ته د غړیتوب په ترلاسه کونه کې د ولایتي شوراګانو ټاکنې:**

| د څارل شویو شوراګانو مجموعي شمیره | په دغه بهیر کې د څارونکو مجموعي شمیره |
|---|---|
| د ټولو ۳۴ ولایتونو، شوراګانې (۱۰۰%) | ټول ۶۸ تنه څارونکي (په هره شوراکې دوه تنه) |

## دباندې له بنياد د نورو نهادو سره اړيکې:

### ۱. د ټاکنو له خپلواک دفتر سره

**الف: په ملي کچه:**

- بنياد په ټولو هغو غونډو کې کومې چې د ټاکنو دګډ دفتر لخوا دکورنيو او نړيوالو څارونکو تر منځ د همغږۍ دتامينولو، دټاکنو په اړوند د ټاکنو د فتر د کړنو د خبرتيا ، د امنيتي مسائلو په اړوند دمعلوماتو دترلاسه کولو او د نورو اړوندو موضوعاتو په خاطر، ترسره کيدې او بنياد ته يې په کې بلنه ورکړې، برخه اخيستې ده.
- دغه غونډې چې په دوو وختونو کې په لاړ اچول کيدې اوپه کې په دوو ژبو ( دري او انګليسي) معلومات وړاندې کيدل، د ټاکنو له دفتر سره د بنياد د چارو په همغږۍ کولو کې له خورا ارزيښت څخه برخمنې وې .
- د بنياد د ولايتي سر روزنکو لپاره په لاړ اچول شويو روزنيزو ورکشاپونو او خپرونو کې د ټاکنو په چارو پورې د اړوندو موضوعاتود شريکولو پخاطر د ټاکنو د ګډ دفتر د اجرائيه څانګې له استازو څخه بلنه او برخه اخيستنه.
- بنياد د خپلو همکارو دفترونو ستونزې د ټاکنو له ولايتي او مرکزي دفترونوسره مطرح کړې او ددغو ستونزو د حل او وتلو لارې په شريکه توګه ورسره موندلې ده .

**ب- په ولايتي او سيمه ئيزه کچه:**

- بنياد په ۳۴ ولايتونو کې د ټاکنو له ولايتي دفترونو سره د خپلو چارو د همغږۍ کولو او څارونکو ته د باورليکونو د ترلاسه کولوپه خاطر ، په تماس کې وو.

**۲- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له مرستندويه هيئت او په افغانستان کې د پروژه وي خدمتونه له دفتر سره :**

بنياد د يوناما د دفتر له استازيو او چارواکو سره د هيواد د بيلا بيلو سيمو د امنيتي او سياسي وضعې په اړه د غونډو په ترځ کې خپلې نظر يې او څرګندونې شريکې کړې دي.

دغه راز کولای شو چې د يوناما له سيمه ئيزو څارونکو سره په ځانګړې ډول د هيواد په شمالي سيمو کې د بنيادد څارونکو له کاري همغږۍ څخه هم يادونه وکړو.

**۳- له کورني څارنيزو نهادونو سره :**

څرنګه چې تر مخه هم يادونه وشوه، بنياد دهغو غونډو په ترځ کې کوم چې د ټاکنو د ګډ دفتر لخوا په لاړ اچول کيدې، د کورني څارونکو تر منځ د همغږۍ د تامينولو په خاطر هڅې کړې او هغوی يې د چارو د همغږۍ کولو خواته رابللي دي. همدارنګه هغو ته يې د تخنيکي مرستو وعدې د روزنيزو خپرونو په ترسره کيدو کې هم ورکړې دي.

**۴- له کاندېدانو او سیاسي ګوندونو سره :**

بنیاد په مرکز او ولایتونو کې له خپلو کاندېدانو او دهغو له استازو سره هم په تماس کې وو. خپل هدفونه او موخې یې ورته اعلان کړي او دهغو اندېښنې یې د چارواکو غوږ ته رسولي او په دې توګه یې د هغو په قانع کولو لاس پورې کړي .

د ټاکنو د پروسې په اړوند ځینو کاندېدانو او د هغو استازو د بنیاد مرکزي او ولایتي دفترونو ته خپلې نیوکې وړاندې کړي دي چې بنیاد د هغو نیوکې یې له وخت سره سم د شکایتونو مرکزي او ولایتي دفترونو ته په رسمي توګه وړاندې کړي. دغه راز باید ووایو چې بنیاد تر ډېره حده وکړای شول تر څو د خپل ځان په اړوند د کاندېدانو باور ترلاسه کړي چې په دې اړه کولای شو د کاندېدانوله هغه ټینګارڅخه کوم چې د رایه ورکونې په بهیر کې یې د بنیاد د فعالیتونو د پراختیا په اړه او همدارنګه د شمیرنې په پروسه کې د کړنلارې له ټاکلې شمیرې څخه د بنیاد د څارونکود زیاتوالي غوښتنه یې کوله، په ځانګړې ډول د کندز په ولایت کې، ددې امر څرګندویي کوي .

**۵- رسنی :**

د بنیاد د رسنیو څانګې ملي او نړیوالو رسنیو سره په دایمي توګه اړیکې درلودې چې کولای شو د بي بي سي د راډیو له لارې د لوګر ولایت د څارونکو د روزنیز ورکشاپ د بهیر له خپریدو او همدارنګه د ملي او نورو غیردولتي راډیوګانو اوتلویزیونونو له لارې د بیلا بیلو مرحلو په اړه د بنیاددجوړشویو اعلامیو خپریدنه، یاده کړو، همدارنګه د ټاکنو په اړوند په ګردي میزونو کې د بنیاد درهبري هیئت په برخه اخیستنه، له مطبوعاتو سره د بنیاد د فعالې اړیکې ښکارندویي کوي.

**٦- نړیوال څارنیز نهادونه:**

بنیاد له نړیوالو څارنیزو نهادونو لکه د اروپایي ټولنې له لنډ مهاله او اوږد مهاله څارونکو سره، د جاپان هیواد له څارونکو او د آسیایي ټولنې (انفریل) له څارونکو سره اړیکې درلودلې او د بیلا بیلو غونډو په ترڅ کې یې خپلې تجربې او لاسته راوړنې له دغو څارونکو سره شریکه کړې . دغه راز له نړیوال څارونکو سره د ټاکنو د پروسې د څارنې په چاروکې د بنیاد د څارونکو همغږي او مرسته ، ددې امر څرګندویه ده.

باید ووایو چې له نړیوال څارونکو سره د ښو اړیکو درلودل ددې لامل شوه تر څو د بنیاد دوه تنه څارونکي د آسیایي ټولنې د څارنیزې شبکې ( انفریل) په بلنه د سریلانکا د ولسمشري له ټولټاکنو څخه د **۲۰۰۵** کال د نوامبر په ۱۷ نیټه څارنه وکړي.

**۷- له نړیوالو څارنیزو نهادونو پرته له نورونهادونوسره :**

بنیاد د اروپایي ټولنې د امنیت او مرستې د سازمان د کارپوهانو له ټیمونو سره او همدارنګه د جي تي زیډ له څیړنیز ټیم سره کوم چې د ټاکنو د مسایلو په اړوند یې کار کاوه، د بیلا بیلو غونډو په ترڅ کې خپل نظر او لاسته راوړنې ورسره شریکه کړې او نوموړو نهادونو د بنیاد لخوا د وړاندې شویو معلوماتو پر بنسټ د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې کار کړې چې کولای شو دغو ټکو ته د ښو اړیکو عنوان ورکړو.

**۸- د ټاکنیزو شکایتونو د اوریدو کمیسیون:**

بنیاد له نوموړې نهاد سره هم د ټاکنو د پروسې په اړوند کاري اړیکې درلودې او د ټاکنیزو سرغړونو په اړوند یې ددغه کمیسیون له کورنیو او بهرنیو غړو سره راز راز غونډې درلودلې چې په دې اړه یې د ځینو کاندیدانو نیوکې او شکایتونو هم هغوته د رسیدنې په موخه وړاندې کړې.

## د بنیاد د هڅو ارزونه

**الف: دننه په بنیاد کې:**

❖ **دمدیره هیئت له نظره:**

د بنیاد مدیره هیئت، ددغه بنیاد هڅې د ټاکنو دپروسې د اصلاح او پیاوړتیا په اړه یو مهم او اغیزمن ګام بللې، ددې غوښتونکي شوي تر څو بنیاد خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړي او د ټاکنو ټولې مرحلې تر څارنې لاندې راولې.

❖ **داجرائیوي څانګې له نظره:**

اجرائیوي څانګه هم د دووتیرو ټولټاکنو د لاس ته راغلو تجربو په مرسته، دې ته لیواله ده تر څو د څارنې عملیه پراختیا ومومي. دغه راز نورې خپرونې لکه د ټاکنو په اړه څیړنې، د ټاکنو د اصولو، اهمیت او همدارنګه د ټاکنو د عملي میکانیزم په اړه، په ټاکنو کې د خلکو د ګډون د اهمیت ، د ولسواکي او په واقعي ډول په خلکو کې ددغې اصطلاح تعبیر ، د شوراګانو د ونډې او اهمیت په ځانګړې ډول د ملي شورا په اړه، د عامه پوهاوي خپرونې هم باید د بنیاد لخوا ترسره شي.

❖ **د ولایتي چاروا کو له نظره:**

د بنیاد ولایتي چارواکو هم اجرائیوي څانګې ته ورته نظر درلود. لکه څنګه چې بنیاد د یوه ځانګړي سیمینار په ترڅ کې چې له هغو سره یې درلود ، ډیري یې ددې غوښتونکي وو. چې بنیاد دې په ولایتي کچه دایمي دفترونه جوړ کړي تر څو له سیمو او خلکو سره یې ټینګې اړیکې تامینې شي او خلک د بنیاد د هدفونو ،موخو او د وړیا کاري په مفهوم پوه او تیار شي.

**ب- له بنیاد څخه وتلي نهادونه او شخصیتونه:**

❖ **د ټاکنو خپلواک کمیسیون:**

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دوتنو غړو (آغلې نجلا ایوبي او ښاغلي نظري) له څرګندونو سره سم ، بنیاد د ټاکنیزو چارو د اداري تر څنګ یوه اړینه څانګه بلل کیږي او دهغه موجودیت د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په څنګ کې دټاکنیزو پروسو په شفافیت او ټینګښت کې د نا پیلتوب د اصل په رعایت سره د یوه خپلواک نهاد په توګه ، ضروري امر ده .

هغو څرګنده کړه چې : له نیکمرغه د ټاکنو ګډ دفتر د ولسمشري او ملي شورا په ټولټاکنو کې، د فیفا بنیاد یې د ټاکنو په څارنه کې د یوه ملي نهاد په توګه له ځانه سره همکار درلود او ددغه نهاد د څارنې

پایلې یې د پروسې، په شفافیت او د ښکارنده ټکو په څرګندولو کې له ځانګړې اغیزمنتیا څخه برخمنې و بللې. دغه راز د ټاکنو د کمیسیون غړي هم ددې غوښتونکي وو تر څو د بنیاد د فعالیتونو کچه لوړه او پراختیا وموموي او دټاکنو ټولې مرحلې تر څارنې لاندې راولي.

❖ **نړیوال څارنیز او غیر څارنیز سازمانونه:**

نړیوال څارنیز او غیر څارنیز سازمانونو هم د بنیاد دکړنو او خپرونو په اړه ځینې تبصرې خپرې کړې دي. آسیایي څارنیزې شبکې (انفریل) د خپل راپور او وړاند یزونو په یوه برخه کې لیکلي چې: سیمه ئیز نهادونه لکه د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد باید یو ځای د هیواد درسنیو او مطبوعاتو سره کار و کړي تر څو هغه خنډونه او بندیزنه کوم چې دولسواکۍ د پراختیا او د آزادو او عادلانه ټولټاکنو دتر سره کیدو په وړاندې موجود دي ، څرګند او وپیژني باید داسې سیمه ئیز نهادونه موجود وي تر څو حکومت هغو ته ځوابګویه وي او دغه نهادونه د حکومت کړنې تر څیړنې لاندې ونیسي.
همدارنګه د بنیاد دکړنو په وړاندې د تلیبرت لاوک څیړنې اوتحقیقات هم د بنیاد په اړه د نړیوالو شخصیتونو د لیوالتیا ښکارندويي کوي تر څو بنیاد د راتلونکو خپرونو په ترسره کولو کې لابریالي واوسي. (د تلیبرت راپورونو او څیړنې کوم چې په بیلا بیلو ولایتونو کې یې ترسره کړي له راپور سره په ضمیمه کې دي.)

## د بنیاد د هڅو او فعالیتونو پایلې:

سره له دې چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د څارنې دعملیې په پلې کولو کې ډیرې ستونزې موجودې وې ، خوسره له دغوستونزو بنیاد وکړای شو ل چې دغه عملیه په اغیزمنه او بریالي توګه تر پوښښ لاندې سیمو کې پلې کړي.
عمده ستونزې چې په دې برخه کې موجودې وې په لاندې توګه دي:

- د عملیاتي چارو د پلي کیدو او پرمخ بیولو په خاطر د وړو همکارو نهادونو موندنه.
- ناسمه امنیتي او ضاع چې دبنیاد د ځینو روزونکو او څارونکو په وهنې او ټکونې ترسره شوه.
- په وړیا کارانه او داوطلبانه توګه د رایه ورکونې له بهیر څخه د څارنې په مقصد د ناپیلو او ژمنو څارونکو موندنه په ځانګړې ډول د ښځینه څارونکو ځکه چې له بده مرغه زمونږ هیواد د ورستیو لسیزو د ستونزو او بد مرغیو په وجه د باسوادو او تحصیل لرونکو افرادو له کمښت سره مخامخ ده. چې دغه امر د ټاکنو پر مهال ډیر ښه څرګند یږي. ځکه چې په هغه مهال کې داسې کسانو ته د ټاکنو د کارکونکي په توګه او یا دکاندېد د استازي او بالاخره د څارونکي په توګه ، ډیره اړتیا لیدلې کیږي او هغه ځینې کسان چې له نسبتي سواد څخه برخمن دي. له عمري پلوه (عمریې له ۱۸ کلونو څخه کم وي.) ستونزه لري .

- له ځینو ولایتونو سره د اړیکو په ټینګولو کې په ځانګړي ډول د پروګرام په څارلو او د چټکو راپورونو په اخیستلو کې .

- له دې کبله چې بنیاد خپل لاربښودونه او کړنلارې د ټاکنو د دفتر لخوا د جوړو شویو کړنلارو او ترلاسه شویو پریکړو پر بنسټ جوړوي دغه ټکي هم ځینې ستونزې په پلان جوړونې او په ښه وخت سره سیمو ته د روزنیزو توکو په لیږدونې کې راولاړې کړې وې. ځکه چې د ټاکنو د دفتر ځینې مهمې او جوړونکې پریکړې، ټاکنو ته په نږدې مهال کې، تصویب شوې.

- څارونکو د کتونکو له کړنلارې سره سم، باید هغه کارتونه چې د ټاکنو د ګډ دفتر لخوا جوړ شوي وو ترلاسه کړي وای. کوم کارتونه چې د کتونکو په نامه جوړ شوي وو له هغو کارتونو سره چې د استازو لپاره جوړ شوي وو . د رنګ او عنوان له پلوه په توپیر کې وو، خو د ټاکنو سیمه ئیزو دفترونو په ځینې ولایتونو کې د بنیاد څارونکو ته هغه کارتونه چې د کاندېدانو پر استازو اړوند وو، ویشلي وو چې دغه امر ددې لامل وګرځید تر څو له یوې خوا دبنیاد د څارونکو بې پرې والی تر پوښتنې یوسي او له بلې خوا د هغو په پیژندنه کې ځینې ستونزې راولاړې کړي.

**وړاندیزونه:**

۱. **د ټاکنو کمیسون ته :**

- بنیاد ته په ښه وخت کې د ټاکنیزو پریکړو، لاربښودونو او کړنلارو په اختیار کې کیښودل. تر څو بنیاد وکولای شي له ټاکلي وخت سره سم خپل پلانونه او پروګرامونه جوړ او عملي ډګر ته یې وړاندې کړي.
- د بنیاد او د ټاکنو د کمیسیون تر منځ د یوه مشورتي سیستم جوړونه. دغه امر ددې لامل ګرځي تر څو بنیاد خپلې نظریې او درلودنې د وخت پر بنا کمیسیون ته ورسوي او دټاکنو د ادارې په لاښې اغیزمنتیا کې مرسته وکړي.
- د ټاکنو د کارکونکو په روزنیزو خپرونو کې د برخه اخیستنې لپاره د بنیادله استازو څخه بلنه. دغه امر دد ې لامل ګرځي تر څو د ټاکنو د کارکونکو د پوهې کچه د څارنې اودهغه د موخو په اړه، پورته او زیاته شي.

۲. **د بنیاد لپاره:**

- د څارنې تر عملیې لاندې په بشپړه توګه د ټاکنو د ټولو مرحلو راتلل او شاملیدل .
- په سیمه ئیزه کچه د څارنیزو فعالیتونو پراختیامونډنه.
- د ټاکنودپروسې له څارنې پرته، دولسواکۍ د پیاوړتیاپه برخه کې د نورو خپرونو پرمخ بیونه.
- د هیوادپه ټولو ولایتونو کې د د ایمي نمایندګیو جوړونه .